# لړلیک


ترځواني په افغانستان کې ........ ٦
زما آند د (ترځواني په افغانستان کې) ناول په اړه: ........ ٧
یوازې شوی ناول: ........ ٨
زما آند د یوازې شوي ناول په اړه: ........ ٨
صفت های بایسته یک رهبر: ........ ٩
حیثیت ناول ........ ١٠
زما آند د (حیثیت ناول) په اړه: ........ ١٢
شربت ګله ناول: لیکوال اجمل اتک یوسفزی: ........ ١۴
زما آند د (شربت ګلې) ناول په اړه: ........ ١۴
بدنامه مروه (مروا): ........ ١۵
زما آند د (بدنامه مروه ناول) په اړه: ........ ١٧
خبرياله ناول: ........ ١٨
زما آند د (ربړا) ناول په اړه: ........ ١٩
اوښکې ناول: ........ ٢٠
زما آند د (اوښکې) ناول په اړه: ........ ٢١
وختونه ناول: ........ ٢٢
زما په آند (وختونه) ناول: ........ ٢٣
ساړه بادونه: ........ ٢۴
١- ځوک داسې نه کوي: ........ ٢۴
٢- هغه سپین شی: ........ ٢۴
٣- نهه بجې: ........ ٢۴
۴- آشنا قبرونه: ........ ٢۵
۵- د لېوه سر ........ ٢۵
٦- راز: ........ ٢۵
: ٧ ساړه بادونه: ........ ٢٦
: ٨ د مور غم: ........ ٢٦
: ٩ تېښته: ........ ٢٦
: ١٠ دوه ورونه: ........ ٢٦
: ١١ ستنېدنه: ........ ٢٧
زما آند د (ساړه بادونه) لنډو کیسو کتاب په اړه ........ ٢٧


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

اولسمشر ما وژلی ناول:........................................................................................... ۲۸
زما آند د (اولسمشر ما وژلی ناول) په اړه: ................................................................... ۲۸
اغزن سیم ناول........................................................................................................ ۳۱
زما آند د(اغزن سیم) ناول په اړه: .............................................................................. ۳۲
تلک خرس: ............................................................................................................ ۳۴
زما آند د (تلک خرس) کتاب په اړه:........................................................................... ۳۴
دنیا ناول:............................................................................................................... ۳۵
زما آند د (دنیا) ناول: ............................................................................................... ۳۶
فراماسونري: دجال آخر زمان:................................................................................. ۳۷
فریماسونري څه ده؟............................................................................................... ۳۷
د فریماسونري سرچینې: ........................................................................................ ۳۷
د فریماسونري د پرمختګ کړنلاره: ........................................................................... ۳۷
د فریماسونري عقیده:.............................................................................................. ۳۷
د فریماسونري نښې (سمبولونه): ............................................................................. ۳۷
۲: پینځه غوړی سرچپه ستوری:................................................................................ ۳۸
۳: د شیطان لاس (ښکر لرونکی لاس): ..................................................................... ۳۸
۴: مات صلیب یا (Swastika):..................................................................................... ۳۸
۵: د انسان د سر کوپړۍ (جمجمعه) او دوه هډوکي (Skull & Bounes):............................. ۳۸
۶: (۶۶۶) یا (۵۵۵) یا د دجال شمېره: ......................................................................... ۳۸
۷: (۱۳) شمېره........................................................................................................ ۳۸
د فریماسونریانو موخې: .......................................................................................... ۳۹
د فریماسونریانو وسائل:.......................................................................................... ۳۹
په عیسایانو کې نو انجیل والا، یهودان خو بې استادان دي او په اسلام کې لاندې:............. ۳۹
زما آند فراماسونري: دجال آخر زمان: ....................................................................... ۴۷
امېد ناول: ............................................................................................................. ۴۹
زما آند د امېد ناول په اړه : ..................................................................................... ۴۹
ارګ یا مرګ:......................................................................................................... ۵۰
زما آند د ارګ یا مرګ محاوروي کتاب په اړه:............................................................. ۵۰
خوانښې اینګور ناول: ............................................................................................. ۵۱
زما آند د خوانښې اینګور ناول په اړه: ....................................................................... ۵۳
مونږ او توحید........................................................................................................ ۵۴
زما آند د مونږ او توحید کتاب په اړه:......................................................................... ۵۵

ketabton.com - The Digital Library

اسلام او موسيقي............................................................................................................ ۵۷
زما آند د اسلام او موسيقي كتاب په اړه: ................................................................ ۵۷
په اسلام كې د ږيرې حكم ................................................................................................ ۵۹
زما آند د په اسلام كې د ږيرې حكم كتاب په اړه: .................................................... ۵۹
لطفاً مه ساده كېږئ! ........................................................................................................ ۶۰
زما آند د لطفاً مه ساده كېږئ! كتاب په اړه:............................................................. ۶۰
زمونږ نيمګړې مينه ناول........................................................................................................ ۶۲
زما آندد زمونږ نيمګړې مينه ناول په اړه:................................................................... ۶۳
پرواز ققنوس فارسی رُمان (ناول)...................................................................................... ۶۴
زما آند د پرواز ققنوس فارسی رُمان (ناول) په اړه:........................................................ ۶۷
فصل شقايق ها فارسي رمان (ناول) ................................................................................ ۶۸
زما آند د فصل شقايق ها رمان په اړه: ....................................................................... ۶۹
د ناوې بنګړي د لنډو كيسو ټولګه .................................................................................. ۷۰
۱- كېدو موپاسان/فرانسه:........................................................................................ ۷۰
۲- بندي/جرالډ كيريش:.......................................................................................... ۷۰
۳- بې ټاټوبي/ناډين ګورډيمر/جنوبي آ ُفريقا:............................................................ ۷۰
۴- ډبوه/هربن سينګ ساګو پاكستان: ....................................................................... ۷۱
۵- تورګل: ډيمن رنيان: ........................................................................................... ۷۱
۶- د ناوې بنګړي/ګريګوري زينوپولو:...................................................................... ۷۱
۷- دروند كور/بخمان ياسين عراق: .......................................................................... ۷۲
۸- وېره/ګلزار/هندوستان: ....................................................................................... ۷۲
۹- يوه شپه دباندې/ ټالاخوامورتي/تانزانيا: ................................................................ ۷۲
۱۰- خلاص كړه/سعادت حسن منټو/پاكستان: ............................................................ ۷۲
۱۱- د هيلو ونه/رچرد پنډېل:................................................................................... ۷۲
۱۲- دام-آزابېل ايندي/چيلي:.................................................................................. ۷۳
۱۳- د موچي لور-احمد نديم/پاكستان:....................................................................... ۷۳
۱۴- پرښته-ايازقادري/پاكستان: ............................................................................... ۷۳
۱۵- پوروړی- سويتو زار كوروچ/هرزګوينا: ............................................................. ۷۳
۱۶- تيندک – انتون چيخوف/روسيه: ......................................................................... ۷۴
۱۷- عابده- رابندر نات ټېګور/بنګال: ........................................................................ ۷۴
زما آند د د ناوې بنګړي د لنډو كيسو ټولګې په اړه: ..................................................... ۷۴
افغاني رنځوره- د لنډو كيسو تولګه...................................................................................... ۷۵

۱- د قبر زانګو: ........ ۷۵
۲- د لیک جواب: ........ ۷۵
۳- زه په مرې څه وکړم: ........ ۷۵
۴- زرغونه تنی: ........ ۷٦
۵- جرمني: ........ ۷٦
٦- زما بخت ښکاره دی: ........ ۷٦
۷- زنګېدو: ........ ۷٦
۸- مسافر: ........ ۷۷
۹- سر د زمکې جنتي: ........ ۷۷
۱۰- رنګ او څپلی: ........ ۷۷
۱۱- څوک به ملامت وي: ........ ۷۷
زما آند د افغاني رنځوره- د لنډو کیسو تولګې په اړه: ........ ۷۷
د شنو ګټو قاضي ناول ........ ۷۹
زما آند د د شنو ګټو قاضي ناول په اړه: ........ ۸۱
سلګی د لنډو کیسو ټولګه ........ ۸۲
۱= تعلیم: ........ ۸۲
۲= سور رنګ: ........ ۸۲
۳= آزادي: ........ ۸۲
۴= لور: ........ ۸۲
۵= سلګی: ........ ۸۲
٦= اوښکه: ........ ۸۲
۷= برید: ........ ۸۳
۸= پاچاه: ........ ۸۳
۹= چوپتیا: ........ ۸۳
۱۰= ښکلا: ........ ۸۳
۱۱= زه بد لمنه نه یم: ........ ۸۳
۱۲= حواله: ........ ۸۳
زما آند د سلګی لنډو کیسو ټولګې په اړه: ........ ۸۴
انسان په فاصله د انسان د لنډو کیسو ټولګه ........ ۸۵
۱= ارمان: ........ ۸۵
۲= ریالست: ........ ۸۵
۳= همدري: ........ ۸۵

ketabton.com - The Digital Library

۴= مساوات: ........ ۸۵
۵= العیاذبالله: ........ ۸۶
٦= زوایه د نظر: ........ ۸٦
۷= انسان په فاصله د انسان: ........ ۸٦
۸=ماشيني دور انسان چېرته بيايي: ........ ۸٦
۹= ذکر د زمکې: ........ ۸٦
۱۰= حاجت: ........ ۸۷
۱۱= تعلیم ښه شی ده: ........ ۸۷
۱۲= تالاب: ........ ۸۷
۱۳= انسان نما: ........ ۸۷
۱۴= کاروبار: ........ ۸۷
زما آند د انسان په فاصله د انسان د لنډو کیسو ټولګې په اړه: ........ ۸۷
شاه زمان او ټیپو سلطان ........ ۸۹
زما آند د شاه زمان او ټیپو سلطان کتاب په اړه: ........ ۸۹
وطنه ستا لېونی ناول ........ ۹۰
زما آند د وطنه ستا لېونی ناول په اړه: ........ ۹۰
ناکامه مئین ناول ........ ۹۲
زما آندد ناکامه مئین ناول په اړه: ........ ۹۲
رنګه غوړونه (جوجو۲) ناول........ ۹۳
زما آند د رنګه غوړونه (جوجو۲) ناول په اړه: ........ ۹۴
مسافره نجلی ناول ........ ۹۵
زما آند د مسافره نجلی ناول په اړه: ........ ۹۵
ناځوانه نجلی ناول ........ ۹۶
زما آند د ناځوانه نجلی ناول په اړه: ........ ۹۶
بې رحمه قاتلان ناول........ ۹۷
زما آند د بې رحمه قاتلان ناول په اړه: ........ ۹۷
پروني مخونه ناول........ ۹۸
زما آند د پروني مخونه ناول په اړه: ........ ۹۹
متخصصه ناول ........ ۱۰۰
زما آند د متخصصه ناول په اړه: ........ ۱۰۰

ketabton.com - The Digital Library

# څو خبرې:

ډېرې وخت به داسې راته چې کله به مې کتاب ولوست نو له څه مودې تېرېدو وروسته به مې کتاب او په هغه کې اړونده موضوع هېره شوه، بیا مې له ځان سره داسې پرېکړه وکړه، هر کتاب چې لولم باید یو لنډیز او یو آند پرې ولیکم.

همداسې مخکې ولاړم، چې بیا یوه کوچنۍ کتابچه پرې ډکه شوه او ما ټول ټایپ کړل، هغه وخت مې له ځان سره داسې وانګېرل چې راځه دا به د یوه کتاب په ډول خپاره کړم، ځکه یو خو به نور ملګري هم ګټه ترې واخلي او بل دا چې که خدای کول نو د پښتو ادبیاتو خدمت په تله کې به هم حساب شي.

نو ځکه تاسو هم رابلم، که چېرې د پوره کتابونو لوستلو توان نه لرئ، نو کولای شئ لنډیز یې زما له دې کتاب څخه ترلاسه کړئ.

محمد نواب ودان (احمدزی

ketabton.com - The Digital Library

# تر ځواني په افغانستان کې

دا ناول چې ښاغلي نعمت الله (رحیمي) لیکلی ده، په کې یې د فرهاد په نامه د یوه هلک کیسه رااخیستې ده چې له غزني نه یې کډه د کابل ښار کمپنۍ سیمې ته راځي او بیا دلته یې تر څو ورځې ژوند وروسته لومړی پلار او بیا یې مور وفات کېږي. ګاونډي یې د ده پالنه په غاړه اخلي، خو یوه ورځ فرهاد هم کار پیلوي، که څه ګاونډي یې ورته وایي:

چې ته کار کولو ته اړتیا نه لرې، چې څه دې په کاروؤ، ماته یې وایه.

خو فرهاد بیا هم ټینګار کوي او کار پیلوي، د پلاسټیکي کڅوړو پلورلو کار کوي، موده وروسته د طالبانو حکومت رنګېږي او د کرزي حکومت راځي او بیا دی له هغه دوکاندار سره کار پیلوي، چې پلاسټیکي کڅوړې به یې ترې پېرلې، وختونه تېرېږي او بیا دی لومړی له ښوونځي او بیا د کابل پوهنتون له اقتصاد پوهنځي نه فارغېږي، ځکه خو په دې دوکان کې کار پرېږدي او په یوه تجارتي شرکت کې کار پیلوي، څه موده وروسته چې د شرکت مشر د ده ښه فعالیت ګوري نو ده ته یو موټر د جایزې په پار ورکوي، بله دا چې دی هغه کور هم په بیه اخلي کوم چې دوئ لومړی له غزني نه ورته راغلي ول او بیا چې دی خپل موټر کور ته راولي او روبینه یې ګوري حیرانېږي. (البته روبینه د هغه سړي لوري چې فرهاد او د هغه د خوندو سرپرستي یې په غاړه اخیستې وي)، په هغه شپه د فرهاد هغه خور چې په لندن کې واده وي خپلې دوهمې خور ته هم هلته مېړه پیدا کوي او په پای کې هم فرهاد د له همدې روبینې سره د واده پرېکړه کوي.

## زما آند د (تر ځواني په افغانستان کې) ناول په اړه:

زما په آند دا ناول له دا ستاني له لحاظه بد ناول نه ده، ښه چوکاټ یې هم ورته پیدا کړی ده، خو دا د پوهنتون دوره، د پوهنتون خلاصول، د خور واده ډېر په ناڅاپي ډول تېر شوي، لکه د فلمونو یې یو دم شپاړلس کاله مخکې بولی چې په دې کار سره یې دا ناول یو څه بې خونده کړی ده، بله خبره دا چې ما په دې ناول کې داسې د عبرت ټکی پیدا نه کړ، بې له دې چې یو څه یې د پوهې او تعلیم ښېګڼه بیان کړې ده، خو هغه هم ډېره کمه ، بلکې تر ډېره یې قسمت ګټه بیان کړې ده.

۱۴۰۲/۱۱/۱۶

ketabton.com - The Digital Library

## یوازې شوی ناول:

دا ناول چې ښاغلي نجیب طارق زباړلی، د ګېټېس بي په نامه د یوه زلمي کیسه رااخلي چې په یوه نجلۍ با ندې مئین وي، بیا لومړۍ نړیوالې جګړې ته ځي او بیا چې کله بېر ته راځي، هلته خبرېږي چې هغې واده کړی، نو کېټېس بي له ځان نه ډېر شـتمن کس جوړوي، بیا راځي د هغې له کور سره کور، کور څه مانۍ اخلي او بیا له یوه بل ځوان چې له ده سره په عسکري دوران کې وي (چې کیسه هم د ده له خولې روایت شوې ده) غواړي چې تر پینځو کلونو وروسته ورته د خپلې مینې لیدو زمینه برابره کړي، هغه دا کار کوي، دوئ بیا مینه پیدا کوي، خو وروسته یې مېړه پرې خبرېږي او همدا د دې لامل کېږي چې دوئ تر یو سـفر وروسته په یو هوټل کې په دې موضوع خبرې سره وکړي، کله چې کور ته راستنېږي، ښځه یې د ېزي بله ښځه په موټر وژني، چې دا کار د داستان د هیرو د وژل کېدو، لامل کېږي، هغه داسې چې د ېزي هغه ښځه د ګېټېس بي په موټر وهي، نو د وژل شـوې ښځې خاوند د خپلې مېرمنې د بدل اخیسـتو لپاره ګیتس بي وژني.

### زما آند د یوازې شوي ناول په اړه:

سره له دې چې داستان یې ښه دی، خو دا چې طرز د لیکلو یې د افغانانو له طرز سره توپیر لري، نو کېدای شي چې تاسو ته خوند در نه کړي.

۱۴۰۲/۱۱/۱۸

ketabton.com - The Digital Library

# صفت های بایسته یک رهبر:

دا کتاب چې جان ماکسول لیکلی ده، پکې یې د یوه مشر یو ویشت صفتونه را اخیستي دي، چې په لاندې ډول دي:

۱: شخصت: په دې کې وایي چې یو ښه مشر دې هېڅ کله د آرامښت لپاره خپل شخصیت تجربه او باورونه نه پټوي.

۲: جذبه: یو ښه مشر نور خلک د هغوئ ښو کارونو له امله ستایي، چې له دې امله خلک جذبوي.

۳: تعهد: یو ښه مشر، له خپلو لارویانو او خپلې موخې سره پوخ هوډ لري.

۴: اړیکې: ښه مشر هغه دی، چې له خلکو سره اړیکې جوړوي او ښې یې پالي.

۵: صلاحیت: مشر باید پوه شي څه ووایي، څنګه پلان جوړ کړي او څنګه په هغه پلان عمل وکړي.

۶: زړورتیا: مشر باید زړورتیا ولري، زړورتیا دا نه ده، چې سړی هېڅ ونه وېرېږي، بلکه زړورتیا دا ده چې د وېرې سره سنګر پرې نه ږدې او د بریا لار پیدا کړې.

۷: بصیرت: ناحل شویو معماګانو ته د پای ټکی کېږدئ، یو ځل وګورئ که په کنده کې یاست له کیندلو لاس واخلئ. ښه مشر چې کوم څه اوري، د هغو پرنیمایي باور کوي، خو غوره مشر پوهېږي چې په کوم نیم باور وکړي.

۸: پاملرنه: هر څومره ډېره پاملرنه وکړئ، بریالي کېږئ.

۹: سخاوت: کله چې ستاسې شمع بله شمع روښانوي، تاسو او شمع هېڅ له لاسه نه ورکوئ.

۱۰: د عمل لومړیتوب: مشر باید نوې لارې او نوي شیان ولټوي او د ذهن او بدن له آرام تیا او بېغمي نه باید ووېرېږي.

۱۱: غوږ نیول: د نورو له زړونو سره د اړیکې نیولو لپاره له خپلو غوږونو نه کار واخلئ.

۱۲: شوق: هر کار چې پیلوئ په ډېره مینه او شوق سره یې وکړئ او پای ته یې ورسوئ.

۱۳: مثبت لیدلوری: که باور ولرئ چې تاسې یې کولای شئ، نور هرو مرو یې کولای شئ.

ketabton.com - The Digital Library

۱۴: د ستونزو حلول: ښه مشر نه شي کولای ستونزې همداسې ستونزې پرېږدي.

۱۵: اړیکې: که چېرې له نورو سره ښې اړیکې ولرو، هغوئ به هم له مونږ سره ښې اړیکې ولري، د بریالیتوب اړین رکن او پایه دا ده چې څنګه له نورو سره ښې اړیکې وساتو.

۱۶: مسؤلیت: که چېرې وغواړئ چې لامده نه شئ، لامبو نه شئ وهلای. همداسې که غواړئ مشر شئ، نو باید مسؤلیت ته چمتو شئ.

۱۷: د زړه ډاډ: لیاقت او وړتیا د نه امنیت مخ نه شي نیولی: که خلکو ته محتاج اوسئ، نه شئ کولای چې ښه مشر شئ. مطلب داسې کوئ چې د نورو د اوږو بار په خپله اوږه پورته کړئ، خو نه دا چې تاسو خپل بار د نورو پر اوږو کښېږدئ، بلکې نورو ته دا وړتیا ورکړئ چې خپل د اوږو بار په سمه توګه تر موخې ورسوي، تر څو هم په ځان وویاړي او هم په تاسو.

۱۸: شخصي نظم (خپل نظم برابرول): لومړی کس چې تاسو یې مشري کوئ، خپله یاست. افلاطون وایي لومړنۍ او لوړه بریا په خپل ځان ده.

۱۹: چوپړ: د دې لپاره چې پرمخ تګ وکړئ، نور تر ځان لومړي وګڼئ: ریښتینی مشر چوپړ کوونکی ده، خلکو ته چوپړ کوي، د هغوئ خوښې او غوښتنې په نظر کې لري، خو په دې حال کې د محبوبیت او د خلکو تر تأثیر لاندې په فکر کې نه دي. ریښتیني مشران د چوپړ مینوال دي، د خپل لویوالي او شان غم نه کوي، ځکه خو په دې لاره (چوپړ په لاره) هره بیه پرې کوي.

۲۰: د زده کړې منل: د مشري د دوام لپاره زده کړې ته دوام ورکړئ،څومره وخت چې خبرې کوئ د هغه وخت لس وار زده کړې او غوږ نیولو ته ورکړئ، په دې ډول زده کړې او پرمختګ ته دوام ورکړئ.

۲۱: ذهني لرې لید: یوازې هغه څه اندازه کولای شئ، چې د لیدو وړ وي، که چېرې تاسو په خپل ذهن کې ځان مشر ونه ګڼئ (وینئ) هېڅ مشر کېدای نه شئ.

۱۴۰۳/۱/۳۱

# حیثیت ناول

دا ناول چې ښاغلي نېک محمد بارک لیکلی، د یوه ماشوم کیسه په کې را اخلي چې په کوچنیتوب کې خپل پلار له لاسه ورکوي او سرپرستي یې ورور ته ورپاتې کېږي، د کیسې زلمی

ketabton.com - The Digital Library

(مصطفیٰ) د یوه مالدار سړي پر لور شهناز باندې مئینېږي، خو شهناز یې پروا نه کوي، د شهناز پلار د جایزې ګټلو لپاره مېلمستیا نیسي، مصطفیٰ د هغه ملګري مجبوري چې شهناز ته ډالۍ ورکړي، خو شهناز یې ډالۍ ترې اخلي او دخځلو سطل ته یې غورځوي، په سبا یې شهناز اوبو ته لوېږي، مصطفیٰ یې ژغوري، خو شهناز یې نه په غېږ کې نیسي او نه هم ترې مننه کوي، دا لاڅه چې ترې بې پروا حرکت کوي او خپلو ملګرو ته وایي چې زموږ مزدور دی او زما ژغورل یې مسؤلیت.

بیا د شهناز پلار پرېکړه کوي، چې د کلي کور خرڅوم، دا خبره مصطفیٰ ته د تګ پرمهال کوي، همدا وي چې د مصطفیٰ ملګري، مصطفیٰ مجبوروي چې شهناز پسې ښار ته ورشي او هغې ته دا ووایي چې مینه ورسره لري، همدا وي چې مصطفیٰ ښار ته ځي، څو ورځې تېرېږي، خو مصطفیٰ دا جرعت نه کوي، چې دا خبره شهناز ته وکړي، په همدې وخت کې د شهناز د پلار انډیوال شهناز خپل زوی سرفراز ته غواړي، شهناز هم رضا کېږي، یوه ورځ شهناز خپل پوهنتون ته روانه وي، چې مصطفیٰ یې هم څارنه کوي، په لاره کې د شهناز موټر خرابېږي او بیا له مصطفیٰ سره په موټر سایکل سپرېږي، په لاره کې مصطفیٰ ته ژړا ورځي او شهناز پرې موټر سایکل دروي، بیا یې د ژړا لامل پوښتي او بلآخره د شهناز تر ډېر ټینګار وروسته مصطفیٰ ورته د خپلې مینې کیسه کوي، بیا شهناز ورته وایي:

تا خپل حیثیت لیدلی او که نه، ستا د ټول عمر خواري، زما د سرفراز له یوې میاشتې تنخوا نه کمه ده، ته بیا له ماسره مینه کوې، هغه هم په داسې حال کې چې زه ډاکټره یم، سرفراز اقتصاد ویلی او ته بېسواده یې.

شهناز مصطفیٰ په څپېړه هم وهي، د شپې خپل پلار ته کیسه کوي، هغه هم مصطفیٰ او د هغه ملګري له غوټو سره د باندې غورځوي، دوئ د سېلاب له امله په یوه هوټل کې دېره کېږي او بیا هلته خبرېږي چې سر فراز د شهناز د پلار ملک ته غل ده، نو دی هم راځي او شهناز ته هر څه وایي، خو د شهناز کوزده وي، مصطفیٰ او د هغه ملګری یې له لرې ننداره کوي، بیا مصطفیٰ ورکېږي، شهناز او د هغه پلار سره سرفراز دوکه کوي او ټول جایداد ترې اخلي او تښتي، شهناز پلار خپل موټر خرڅوي او یو کوچنی کور اخلي، بیا تر دوؤ کلونو وروسته د شهناز دوئ پیسې خلاصېږي او شهناز اړ کېږي چې دندې پسې وګرځېږي، خو دنده نه پیدا کوي، بیا یې پلار په ورځ پاڼه کې د حیثیت په نوم د یوه غټ روغتون اعلان ویني، چې یوې ډاکټرې ته اړتیا لري، نو خپله لور ورلېږي، هلته موسکا یعنې خپله ټولګیواله ویني، بیا له

ketabton.com - The Digital Library

هغې نه مرسته غواړي، هغه هم مرسته ورسره کوي، بیا شهناز هلته دنده ترلاسه کوي او ملګرې یې مدیریت، بیا د شهناز کلیزه د روغتون د مشر له خوا په یو ستر سالون کې نیول کېږي، شهناز ته په ډالۍ کې د هغې پخوانۍ کور ورکوي، شهناز د روغتون مشر باندې مئینېږي او بیا هغه ته دعوت ورکوي، دا هم ورته وایي که چېرې رانه غلې نو زه به بیا روغتون پرېږدم، خو بیا هغه د شهناز دوئ کور ته ورځي او هلته شهناز پوهېږي چې دا خو مصطفیٰ دی، بیا نو شهناز بخښنه ترې غواړي او پښو ته یې لوېږي، مصطفیٰ ورته وایي چې ما بخښلې یې.

په سبا یې شهناز چې د هره ورځ په شان مصطفیٰ ته روغتون ته ډوډۍ وروړي، خو مُسکا په خوړو کې زهر ورته اچوي، تر عملیاتو وروسته شهناز د مینې اقرار کوي، یعنې د زهرو لپاره مصطفیٰ عملیاتېږي، تر هغه وروسته نو بیا دواړه واده کوي.

## زما آند د (حیثیت ناول) په اړه:

ما پورته کیسه ډېره لنډه کړې ده، ځکه خو یې ممکن خوند تللی وي، خو په اصل کې کیسه دومره خوندوره ده چې که چېرې یې تاسو پیل کړئ، هغه خپله تاسو اړ کوي چې پای ته یې ورسوئ، خو زما په آند په کیسه کې څه ستونزې هم شته، له ډېرو یې تېرېږم دا یو څو یې تاسو ته لیکم:

لومړی: د دې ناول داستان که څه په پښتو ژبه ده، خو داسې ښکاري لکه د اردو ژبې ناول چې را ژباړل شوی وي، په دې کیسه کې د مصطفیٰ کرکټر چې په یوې نجلۍ مئینېږي او بیا هغه ته د مینې اظهار کوي، د شهناز او سرفراز نومونه دا یو هم زموږ په پښتنه ټولنه کې عام نه دي، ځکه زموږ په پښتنه ټولنه کې څوک لومړی دا جرئت نه کوي چې یوې نامحرمې نجلۍ ته نږدې شي، بیا دا چې هغې ته د مینې اظهار وکړي، هغه هم کلیوال خلک، بلکې که چېرې د پښتنو په یوه کلي کې یو هلک پر یوې نجلۍ مئین شي او ډېر جرئت وکړي، نو خپلې کورنۍ ته وايي چې هغه ورته وغواړي، بیا هغه پلرونه چې په حیثیت باندې دومره ټینګ ولاړ وي، هغوئ نه په خپلې لور باندې تعلیم کوي او نه هم له هغې نه د هغې د واده په اړه پوښتنه کوي، د مثال په ډول که وګورو دا اوس چې زه دا مطلب لیکم کنند هاریانو په ټول وطن کې پر نجونو باندې تعلیم بند کړی دی.

دوهم د کیسې اتل (مصطفیٰ) کرامات: زه نه پوهېږم هغه مصطفیٰ چې په کلي کې د کرایې پیسو ته حیران وي، د شهناز ډالۍ ته حیران وي، نو په ښار کې موټر سایکل له کومه کوي، یا دا

ketabton.com - The Digital Library

د نر زوی په دوه دربوؤ کلونو کې دومره پیسې له کومه کوي. یا زه نه پوهېږم چې دی تجار وي او که پادشاه چې پولیسو ته امر کوي، خلک نیسي او بیا عمر قید ورکوي او داسې نور.

دریم تعلیم کمزوري ښودل: یو بې سواده پاڅېږي او په یوې ډاکټرې مئینېږي، ګرانه سمه چې تر پیسو پاکه مینه او انسانیت غوره ده، خو تعلیم ډېر اړین ده، د دې پرځای چې مصطفیٰ ته دې دومره پیسې ورکولې لږ تعلیم به دې هم ورکړی وؤ.

څلورم: د دې ناول پیل اوږد او څه ناڅه تشریحي دی، خو پای یې ډېر په بېړه خلاص شوی، چې کېدای شي دا دریمه ستونزه هم له همدې امله وي.

پینځم د نجونو بې وفایي: د بارک صاحب په دې ناول کې یوه نجلۍ له مصطفی سره کرکه کوي، زړه یې ورماتوي او پای کې پښېمانه کېږي، خو په نارنج کلا ناول کې یې یوه نجلۍ د کیسې د اتل د شعرونو کتابچه د خپل کوژدن په نامه چاپوي. بیا په دواړو ناولونو کې مالدارې نجونې خپله شتمني له لاسه ورکوي او غریب زلمي شتمن کېږي او هغه هم ناڅاپي او معجز ډول. خو حقیقت دای دی چې که چېرې خپل ماحول وګورو نو دا به ووینو چې دوکه چل او فریب د هلکانو خاصه او ځانګړتیا ده، په کوم ښار کې چې زه اوسېږم دلته د هلکانو په نامه ځناور د مینې له نامې نه په کټې اخیستنې سره، څه څه ونه کړل، خو که بیا هم نجونو ته بې وفا ویل کېږي، نو بیا به ډېره بې انصافي وي.

په پای کې دا وایم چې دا ناول ډېر روان او په ساده کندهار لهجه لیکل شوی، چې زه یې لیکوال ستایم، ځکه چې په لومړي کې یې دومره جذابیت ده چې مه کوه پوښتنه او که هرڅوک دا ناول مطالعه کړي نو ډاډ ورکوم چې نه پېښېمانه کېږي.

۱٤۰۳/۲/۲

ketabton.com - The Digital Library

# شربت ګله ناول: لیکوال اجمل اټک یوسفزی:

یوسفزي صاحب په دې ناول کې د شربت ګلې په نامه د یوې پښتنې نجلۍ کیسه راخیستې ده چې په افغانستان کې د جګړو له امله هغه ښار ته چې اوس د پنجابیانو په ولکه کې دی مطلب پېښور ته هجرت کوي، خو تر شربت ګلې مخکې د هیواد په تاریخ د کمونیزم بلا د رانازلېدو، بېرته تړولېدو، د چور او فساد د جوړېدو، بېرته ورکېدو، د طالبانو ظهور، صعود او سقوط ته لنډه اشاره کوي، بیا د جمهوریت په نامه د غرب تر ښکېلاک لاندې بلا راتګ ته اشاره کوي او بیا بېرته شربت ګله را اخلي، چې څنګه له ننګرهار نه پېښور ته کډه شوله، په ناصر باغ کې یې واړول، هلته څنګه د بهرني خبریال د کمرې سترګې ته سیخه شوه او څنګه مشهور شوه، بیا راځي او دا یادونه کوي چې څنګه شربت ګل توري رحمت اګل اکا ته واده شوه، کلونه وروسته څنګه بهرنی خبریال بېرته په شربت ګلې بسې ټول پېښور ولټاوه، څنګه بله ښځه د شربت ګلې تورې له امتیازاتو برخمنه شوه او ولې بهرنیان وپوهېدل چې دا هغه د شنو سترګو والا نه ده چې موږ یې په کوچني توب انځور اخیستی وو، بیا شربت ګله څنګه پیدا کوي، څه وړاندیزونه ورته کوي، څه مرستې ورسره کوي، ولې پنجابیانو له پېښوره ووېسته، څنګه ولسمشر غني خپل دربار ته مېلمه کړه او څه مرسته یې ورسره وکړه، همدا رنګه یې د پاکستان حکومت ظلمونو ته هم اشاره کړې ده.

## زما آند د (شربت ګلې) ناول په اړه:

زما په آند ښه ناول او ښه کرکټر یې را اخیستی ده، ښه خوندوره کیسه یې هم ترې جوړه کړې، د خلقیانو، چور او فساد ډلو حقایق یې هم په کې بیان کړي دي، خو د نجیب لړ او د غني ډېر بې ځایه صفوته یې هم را اخیستي دي، چې پکار دا وؤ چې د ډاکټر نجیب او ډاکټر غني په اړه یې د توصیف پر ځای تحقیقي بیان کړی وای.

په پای کې وایم چې دا ناول ښه ناول دی او پښتانه یې باید یو ځل ولولي.

۱۴۰۳/۲/۳

ketabton.com - The Digital Library

# بدنامه مروه (مروا):

دا ناول چې ورور محمد نعیم ورګ لیکلی ده، د اکبر په نامه د یوه زلمي کیسه را اخلي، چې د مروه په نامه یوه ګاونډۍ لري، له ماشومتوبه ورسره لوی شوی وي، خو بیا د زلمیتوب په دروان کې داسې یوه ورځ هم راځي، چې مروه له اکبره غواړي تر څو د هغې مور ته درمل (دوا) راوړي، اکبر چې درمل راوړي، نو د مروه د مور پوښتنې ته هم ورځي او بېرته د راوتو پرمهال یې د مروه په ناپامۍ کې مچکه ترې اخیستې وي، ځکه خو مروه هم یو څه شور جوړوي، د اکبر دوئ کور پر لوري حرکت کوي او اکبر ته وایي:

اوس دې ولاکه پرېږدم مور دې خبروم.

اکبر ډېر وېرېږي، که څه هم مروه د هغه مور یا د کورنۍ بل غړي ته څه نه وایي، خو بیا هم د اکبر په زړه کې وېره پاتې وي، څه وخت وروسته اکبر د بلخ پوهنتون ته بریالی کېږي، چې بیا هلته ځی یوه ورځ مخکې تر دې چې پوهنتون پیل شي، مروه اکبر ته ډول ډول مېوې راوړي، په سبا یې اکبر حرکت کوي، پوهنتون کې او بیا لیلیه کې د ځینې لاملونو له امله اړ کېږي چې دوه سمستره پرله پسې بې له ځنډه ووایي، همدا د دې لامل کېږي چې یو کال له کور نه لرې پاتې شي، خو چې کله بېرته هم راشي، نو بیا د مروه د مور له مرګ د پلار له ناروغۍ او له دې خبرېږي چې پلار یې مشرې خور پاکستان ته بولی، مروه یې هم بولې، ځکه خو په دوه کاله پوهنتون کې مروه نه ویني، بیا یوه ورځ چې دی په پوهنتون کې وي، مور یې ورته وایي:

په ورا تللې وم، یوه نجلۍ مې ولیده، چې ډېره ښکلې وه، ستا څه نظر دی، مخکې خو مې زړه وؤ چې مروه درته وکړم، خو چې دا نجلۍ مې ولیده، نو مروه مې له زړه ووته.

اکبر چې کله د مور له خولې نه د صدف په نامه نجلۍ دومره صفتونه اوري، نو سمدلاسه ورته وایي چې څنګه ستا خوښه وي، زما هم خوښه ده.

بس همدا وي چې مور یې مرکې ته ځي او هغه نجلۍ اکبر ته غواړي، هغوئ د لېست ورته وایي، چې بله جمعه یې درکوؤ، که مو لېست ومانه، نو دسمال به درکړو، خو له دې هرڅه نه مروه خبرېږي او د چا له مبائل نه اکبر ته زنګ وهي، له اکبر نه پوښتنه کوي چې آیا دا رېښتیا دي، اکبر هم ورته واي چې هو، نو مروه ژاړي او ټیلیفوني اړیکه پرې کېږي، بیا تر سبا څو وارې اکبر د اړیکې هڅه کوي، ترڅو بلآخره مروه ورته وایي:

په ټول کلي کې بدنامه شومه چې دا له اکبر سره جوړه ده، خو ما یې پروا ونه کړه، پوهېږې ولې؟ ځکه ما ویل دا هرڅه به تېر شي او ستا ژوند ملګرې به جوړه شم.

ketabton.com - The Digital Library

اکبر پلمې ورته کوي، مروه یې پوهوي چې ځوابونه یې د کار نه دي، خو خیر اکبر ځان تېروي، چې له دې سره وخت تېربږي، خو کله چې د اکبر دستمال راوړي او مروه خبره شي نو بې هوښه شي، د کلي کلینیک کې ځواب کړي چې جمهوریت روغتون ته یې بوځئ. تره او د تره ښځه یې ورسره لاړ شي، خو بېرته مروه د ځان سره نه راولي. اکبر ورته خواشینی کېږي، خو هېڅ نه کوي، په داسې حال کې چې دی له مروه او مروه له ده سره مینه لري، بله ورځ اکبر په پوهنتون کې ناست وي، چې یو بل زلمی راځي، له ده سره ډېره توده ستړې مشې او پوښتنه ګروېږنه کوي، بیا اکبر ته وایي چې زه ستا د کوژدنې صدف یار یم، مطلب یاري مې ورسره کړې، انځورونه یې هم ورلېږي او ورته وایي چې ستا سره کوزده یې د هغې نه پټه شوې او اوس دلته راغلی یم، چې له تانه دا وغواړم چې هغه بېرته ماته راپرېږدې، اکبر وخت ترې اخلي، بیا چې کله کورته ته راشي، نور هرڅه مور ته ووایي، له یوې خوا یې عزت د صدف او د هغې د دیار له لاسه تللی وي، له بلې خوا کلیوال د مروه له لاسه ورسره بده رویه کوي، خو بلاآخره پوهنتون خلاصوي، د کلیوالو د بدې رویې او جګړې له امله کلی خوشې کوي او کابل ته راځي، سره له دې چې د صدف یار مړ شوی وي، نو له اکبر بښنه غواړي او دا ورته وایي چې زه غواړم ستا مېرمن شم، د دې لپاره چې ستا په چوپړ او خدمت سره مې ګناه معاف شي، خو اکبر ځان تېروي، دا خبره یې د پوهنتون په جریان کې او نورو وختونو کې هم ورته کړې وي او چې کابل ته راشي، بیا په وار وار ورته مسېجونه رډي او دا خبره، بښنې او عذر زارۍ او داسې نور کوي، خو اکبر ځواب نه ورکوي، په کابل کې ډېرې خوارۍ او بدې ورځېویني، د پوډرو له خرڅولو، د موټر بم تر لېږدولو پورې، آن مور یې سوال کوي، بیا یوه ورځ په داسې حال کې چې څېره یې د پوډریانو په شان وي او د یوه کور صفا کارۍ لپاره تللی وي، وچه ډوډۍ هم تولوي له مروه سره مخ کېږي، بیا له هغې نه بښنه غواړي، هغه لږ سره زر ورکوي او ورته وایي:

ته دې څېره او جامې په دې جوړې کړه بیا به خبرې سبا همدلته وکړو.

سبا مروه، چې له یوه غټ چارواکي، مالدار او هوښیار سړي سره یې واده کړی وي، اکبر ته دا شرط ږدي چې زه تاته هغه وخت بخښنه کوم چې ته له صدف سره واده ته راضي شې. آخر کې مروه اکبر ته دنده هم پیدا کړي، له صدف سره یې واده ور وکړي، خو د اکبر په زړه کې دا ګرځي چې:

مچوګانې خو به یې ډېرې ورنه اخیستې وي، د دې سره سم به له مروه ونه زما اخیستې مچو رایاده شوه او څنګ کې به مې یې هغه حدیث شریف نبغ سترګو ته ودرېده، چې حضرت محمد (ص) فرمایلي: که مو د نورو خلکو د ښځو حیا ته زیان ورسولو، د خپلو ښځو عزت به مو د نورو له خوا لوټ یا خپلې ښځې به مو بې حیا شي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما آند د «بدنامه مروه ناول» په اړه:

د محمد نعیم وردګ دا ناول چې کله ما لومړی پیل کړو، ګرڅه کیسه مې یې خوښه نه شوه، خو بیا هم د ناول جذابیت دې ته وهڅولم چې اورمرو دوام ورکړم، ځکه خو مې دوام ورکړ، رېښتیا خبره دا ده چې ما دا ناول په خپل دوکان کې پیل کړو او زړه مې داسې وؤ چې څومره مې ولوست، نور به سبا ته پرېږدم، خو وروسته د دې ناول جذابیت له ځان سره واخیستم او دې ته یې اړ کړم چې د شپې یې په کور کې هم مطالعه کړم.

نو ځکه تر مطالعې وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې ووایم، دا ناول یو له غوره ناولونو څخه دی، چې ما لوستلي دي، یو ډېر ښه داستان ورته غوره شوی «د یوه هلک د جفا، خو د نجلۍ وفا» مطلب د اکبر د جفا او د مروه د وفا، چې دا خبره که څه هم زموږ د ټولنې برخه ګرځېدلې ده، چې هلکان د مینې اصلي هدف پرتوګ وېستل ګڼي، د غرب نه متأثره لیکوالان او نور فعالان بیا د نجلۍ همدا پرتوګ نه وېستل او یا له داسې کار سره مخالفت چې په پای کې د پرتوګ وېستلو لامل کېږي، بې وفایي ګڼي او په کلکو ټکو یې غندي، د نورو له ناموس نه عزت اخلي او داسې ګڼي چې بس هرڅه پای ته ورسېدل، خو لکه څنګه چې اکبر د ناول په پای کې ورسره مخ کېږي، دوئ هم ورسره مخ دی، خو البته خبر نه دي او یا هم دا چې خبر دي خو اوس ځان غولوي.

نو زه د خپلې لیکنې په پای کې دا وایم چې که لکه اکبر غوندې ژوندون وکړئ، پای به مو لکه اکبر غوندې وي، خو که له اکبر ورتېرشئ، هم همداسې.

همدا رنګ له وردک صاحب نه مننه کوم، چې د دې ناول په لیکلو سره یې پښتو ژبې ته لوی چوپړ کړی او دا ناول یې ستایم.

۱۴۰۳/۲/۶

ketabton.com - The Digital Library

# خبریاله ناول:

دا ناول چې تکړه لیکوال ډاکټر عبدالهادي ((حماس)) لیکلی، یو ډېر خوندور ناول دی، چې په دې ناول کې یې د ((رڼا)) په نامه د یوې ایمانلرونکې او وطنپالې خبریالې کیسه راخیستې ده، چې د ناول اتله، د رئیس خدایداد په نامه د یوه پوره پېژندل شوي، لوټمار، غل او د انسانانو برمته کوونکي باندې راپور جوړوي، تر راپور څو ورځې وروسته ځانګړي څواکونه خبرېږي چې د ((رڼا)) په دفتر باندې برید شوی او برید کوونکي د هغې دفتر ته ننوتي، دا برید د رئیس خدایداد کسانو کړی وي او د رڼا په برمته کېدو سره غواړي چې له حکومت نه د خپل مشر خلاصېده وغواړي، خو د رڼا او ځانګړو څواکونو د غبرګون له امله د هغوئ دا هڅه ناکامېږي، نو د رئیس خدایداد کسان د ټلویزیون مشر ته زنګ وهي او اخطار ورکوي، څکه خو هغه هم د هغې ورځې په سبا رڼا استعفاء ته اړ کوي، رڼا چې کور ته لاړه شي، مور یې ناروغه وي، دباندې راوځي او د ټکسي په لټه کې وي چې د شاپور په نامه یو ځوان ورته موټر ودروي او رڼا دې ته اړکوي چې خپله مور د هغه په موټر کې تر روغتون ورسوي، کله چې روغتون ته ځي، په لاره کې رڼا ته هغې ملګرې زنګ راوهي او د تېرې ورځې پېښې ډاډ ورکوي، څکه خو رڼا هم له دندې د لرې کېدو په اړه هرڅه ورته وایي، همدا لامل وي چې شاپور رڼا پېژني، بیا شاپور نه یوازې دا چې د روغتون لګښت په غاړه اخلي، بلکې رڼا ته د دندې وړاندیز هم کوي، له یو څه ستونزو وروسته رڼا د شاپور تر مشرۍ لاندې افغان رسنیز مرکز کې لومړی د معاونیت بیا د ریاست څوکۍ لاس ته راوړي، چې په دې سره د شاپور او د هغه کوژدنې ترمنځ د ستونزو د ډېرېدو لامل ګرځي، چې بیا دا اړیکه له منځه هم لاړه شي، رڼا پر ډېر مفسدینو باندې راپور جوړ کړ، چې له امله یې لومړی په دې برید وشي او ټپې شي، بیا یې یو زور زورواکی والي په موټر کې بم ږدي، چې په چاودنه کې یې بې له رڼا او هغې خور حلیمې نه، نور ټول د کورنۍ غړي شهیدان کېږي، بیا یې یو زورواکی قومندان د خور یعنې حلیمې د عزت لوټولو او په هغه باندې د لوبو کولو هڅه کوي، خو حلیمه خپل ژوند تر خپل عزت قربانوي او د شهادت مقام ګټي، بیا څه موده وروسته رڼا د حلیمې د وصیت له مخې او د خپل سترګو د لیدلي حال له مخې له شاپور سره کوژده کوي، تر واده مخکې د څمکو د غاصبینو لېست خپروي چې دا کار یې د واده په ورځ د مرګ لامل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما آند د (رڼا) ناول په اړه:

زما په آند دا ناول د پښتو ژبې له غوره ناولونو څخه یو ده، چې باید هم واوسي، ځکه د هیواد په کچه د تکړه لیکوالانو څخه یوه لیکلی، ښه کیسه یې را اخیستې ده، ښه عبرتونه لري، د مثال به ډول که غواړئ چې د خلکو په زړونو واکمني وکړئ، باید د رڼا په شان په ډېر اخلاص او مینې سره هغوئ ته کار وکړئ، بایډ ډېر مو پام وي چې د نړۍ د قمندان زلمي او بختیار په شان له ډېرو بې ننګو کیدړانو ډکه ده، یا دا چې که چېرې مو ځان نه د بختیار په شان کیدړ جوړ کړ، نو بیا به د شاپور په شان زمري له خوا څیرل کېږئ او یا هم دا چې که چېرې د شاهپور غوندې مینه وکړئ، هرو مروه به مو د صبر میوه پخېږي.

له دې سره ناول چې پولیسي بڼه هم لري، څه ناڅه نیمګړتیاوې د حقوقي او جنایي پلوه لري، دا چې لږې دي، نو یې بیان ته اړتیا نه شته، یوازې د دې لپاره وایم چې نور لیکوالان یې په پام کې ونیسي.

او په پای کې دا وایم:

چې ګرڅه لیکوال رڼا ته د ناول په پیل کې د حجاب په ور اغوستلو عزت ورکړی، خو د ناول په پای کې یې بیا همدا حجاب د غاصب قومندان زوی ته (استاد سیاف زوی) ته په وراغوستو لږ زخمي کړی، بل دا چې د رڼا په وژلو سره یې نور د شاپور بېچاره زړه هم ور زخمي کړی.

۱٤۰۳/۲/۱۱

ketabton.com - The Digital Library

## اوښکې ناول:

دا ناول چې د سوئیلی پښتونخوا تکړه لیکوال خدای بخښلي عبدالعلي غورغښتي لیکلی، د خالو په نامه د یوه خوار او غریب کلیوال کیســـه را اخلي چې د خپلې غریبۍ له امله د کلي له ګډ ځنګل نه لرګي راوړي، تر ځو سبا یې بازار ته یوسي او ویې پلوري، خو ساړه یې وهي او په لاره کې پاتې کېږي، بیا چې کله ښـــځه ګوري چې خر راســـتون شـــو او خاوند یې نه، نو کلیوال خبروي، کلیوال ځی او سړی بېرته راوړي، خو سړی د ناروغۍ له امله له بسترې نه نه شي پورته کېدای، ښـــځه او زوی یې د ده له خوا راوړل شـــوي لرګي، بازار ته وړي، په بازار کې یو دولتي مأمور ترې محصـول په نامه شپږ روپۍ شـکوي، بل ترې مالیه غواړي او یو بل ېې په دې نامه جریمه کوي چې خره یې ولې په ســـړک باندې ګنده ګي کړې ده. د جریمې والایې لرګي په بولۍ کې په اته روپۍ خرڅوي، پینځه یې په جریمې کې درې هم مالیې والا ته ورکوي، بس دوئ هم تش کور تـه راځي او پاتې شـــیان د کلي پـه هټۍ کې خرڅوي، خو د خالو حالـت ورځ تر بلې خرابېږي، ښځه یې خپل د نږدې څلورو سوؤ روپیو سره زر په یو سل او دېرش روپۍ خرڅوي، په پینځه ویشـــت روپۍ د کور لپاره خوراکي توکي پېري، خو او یا روپۍ اخوند زاده ته د دم او تعویذ لپاره ورکوي، خو دم او تعویذ هېڅ اثر نه پرې کوي، بیا د روښـــان په نامه یو ځوان ډاکټر ته د بیولو مشـــوره ورکوي، د خالو ښـــځه د ملک کور ته د پور اخیســـتلو ته ورځي، هلته ورته ملک وایي چې زه شـــپږ ســـوه روپۍ درکوم خو شـــپږ میاشـــتې وروســـته به اته ســـوه روپۍ بېرته راکوې، دا چې پیسـې واخلي او خاوند ته دا خبرې وکړي، هغه ورته وایي داسـې نه چې دا ســـود وي، ورشـــه او پوښـــتنه ترېنه وکړه، هغه چې ملا ته ورشـــي، ملا لومړی د ســـود بدي ورته بیان کړي، خو وروســـته پوه شـــي چې په دې کلي کې خو یوازې ملک ســـود خور دی، نو خبره په بله واړوي او د ملک دا کار په دوئ د هغه یو احســـان وګڼي نه ســـود ، ځکه خالو هم په دې پیســـو طبیب ته ځي، خو ډاکټر یې په روغتون کې نه ګوري، بلکې اړ کېږي چې کور ته یې ورشي، خیر خالو ښـه شـي، د پور وخت پوره شـي، ملک ورته وایي چې باید د هغه پیسـې ورکړي او یا خپله لور درخانۍ د هغه زوی ته ورکړي، خو خالو ورته وایي، زه بدل کوم، ملک یې نه مني او خالو ته یوه اونۍ وخت ورکوي، خالو اړ کېږي چې خپل باغ ګرو کړي، دا کار په ملک ښه نه لګېږي، ځکه خو ملک په خالو عریضـه کوي او هغه بندي کوي، بیا یې له ښـځې د هغه لور غواړي، خو هغه یې هم نه مني، ځکه خو ملک د خالو ښـځه وژني او لور یې تښـتوي، خو دُرخانۍ ځان وژنه

ketabton.com - The Digital Library

کوي، چې له دې ســـره ملک حیرانېږي چې څه وکړي او څنګه دا خبره پټه کړي، خو اخوندزاده ورته مشوره ورکوي، چې نجلۍ پټه ښخه کړي او خلو ته وایي چې:

ماته کشف شوی چې د دېوانو پاچا په دُرخانۍ مئین وؤ، نن سهار یې تښتولې او ځان ته یې نکاح کړې.

## زما آند د (اوښکې) ناول په اړه:

دا ناول چې د نورمحمدترکي ((سپین ناول)) په بڼه لیکل شوی ده، ښه داستان، ښه ادبیات او ښه تلوسه لري، په داستان کې هغو ډېرو حقیقتونو ته هم اشاره په کې شوې ده، د حکومت ظلم ته، د خلکو بې وزلي ته، د خلکو ناپوهي ته، د ملکانو او خانانو ظلم ته، د ملایانو او پیرانو دوکه بازي ته او پر دین تجارت ته.

دا چې دا ناول ولې له چاپه پاتې، نو کېدای شــي یو علت یې دا وي چې ښــاغلي (عمرګل عســکر) به وخت او شــرایطو ته په کتو ترې تربر شــوی وي، نو زما په آند که څه هم یو څه سوسیالستي بڼه هم لري، خو بیا هم ښه ناول ده.

۱٤۰۳/۰۲/۱۳

ketabton.com - The Digital Library

# وختونه ناول:

دا ناول چې سیده حسینه ګل لیکلی د یوه سود خور کیسه را اخلي چې درې خویندې لري، سره له دې چې د خویندو لپاره یې ډېرې مرکې راشي، خو دی یې بېرته نا امېدې له دې امله ولېږي، چې دا خلک زما مال او دولت ته غله دي، بیا د ډېرو خلکو د وینا له امله دی خپله واده وکړي، خو خویندې یې همداسې پاتې وي، د وختونو په تېرېدو یې دوه زامن د طاهرشاه او ظاهرشاه په نامه او یوه لور د زېبو په نامه پیدا شوي وي او په خوا کې یې د تره زوی یې یو زوی د زمري په نامه او دوه لوڼه د ګلپاڼې او ګرګرې په نامه پیدا شوي وي.

دی له دې نه خبر نه وي چې مشره خور یې د ده په مزدور رفیق باندې مئینه ده، خو چې د رفیق زوی پیدا شي، نو شفیق نوم پرې کېږدي، وختونه تېرېږي، د دوئ ماشومان زلمیان شي او بیا د رفیق زوی شفیق چې له ګلپاڼې سره ئې یارانه جوړه کړې وي، نو ګلپاڼې په سر د بهادرشاه زوی طاهرشاه ووژني او ګلپاڼه ترلاس ونیسي او تښتي. زمری هم د خپلې بلې خور ګرګرې تر ودولو وروسته په هغه پسې شي او ظاهرشاه د خپل ورور د وژلو له امله د رفیق کډه د هغه په شاه ور بارکړي او له کلي یې وشړي، تر طاهرشاه وروسته لومړی د هغه پلار بهادرشاه او بیا یې پر کور له زړو شویو تروریانو له ډلې کوچنۍ یې یعنې سکینه مړه شي، بیا یې ورور طاهر شاه هم له لارۍ لوېږي او مري او تر هغه څه موده وروسته یې مور زبرګه.

زمری هم چې د خپلې خور او د هغې یار په لټون پسې وتی وي، هغوئ مومي لومړی هغوئ او بیا ځان وژني.

زېبو نږدې زړښت ته تر ډېرو جنجالو(واده نه پاتې په کور دوؤ نورو زړو شوؤ تروریانو د لېونتوبونو د جنجال له امله) وروسته د اقبال په نامه تر دې کم عمر لرونکي یوه ناځوان سره واده کوي، خو تر واده مخکې دوئ یوه نالیکلی تړون کوي او هغه دا چې زېبو او اقبال به د ډولۍ تر وړلو څو ورځې وروسته بېرته د زېبو پلارني کور ته راګرځي، تر څو تروریانې یې یوازې پاتې نه شي، خو تر واده وروسته بیا اقبال دا لوظ او تړون ماتوي، نه یوازې دا، بلکې زېبو په دې پوهېږي چې اقبال د مال او دولت لپاره واده ورسره کړی، د زېبو یو زوی پیدا کېږي چې مشال نوم پرې ږدي، نور یې له ډېر دواؤ سره هم نه پیدا کېږي، بس دا خبره نه وي سم جنجال وي، ځکه اقبال هم دا خبره پلمه کړي او بله ښځه وکړي، له زېبو سره یې اړیکې نورې هم ورانې شي، بیا پوه شي چې هغه بله ښځه یې یعنې روبینه د ده مال ته داسې غله ده، لکه دی چې د زېبو مال ته وؤ، ځکه خو یې له هغې سره هم اړیکې ورانې شي، خو د هغې وروڼه هغې ته بل کس پیدا کړی

ketabton.com - The Digital Library

وي، ځکه خو يې له ده نه د هغې طلاق غوښتلو او ورسره د ده کور، ځکه غواړي، خو د اقبال ماغزه هم ورته خراب شي او د روبينې ورور د تفنګچې په مرميو وولي، بيا دی وتښتي او ټول جنجال يې زيبو او مشال ته پرېږدي او خپله د «نصيبې» په نوم نجلۍ سره ژوند پيل کړي، يوه ورځ نصيبه له ټول مال سره وتښتي، په همدې حال کې زيبو د خپل زوی مشال معشوقې سپوږمۍ کورته د مرکې لپاره ځي او هلته وينې چې سپوږمې د ګُرګُرې لور ده، بيا اقبال هم راپيدا کېږي او سپوږمۍ خپل زوی ته ودوي.

## زما په آند (وختونه) ناول:

دا ناول لږ څه ګډوډ ده، لږ يې هغه د خليفه دين محمد په نامه د هغه پير خبره پخوا له ده نه د ښځو په اړه کړې چې که سړی ورته وګوري نو ښځو ته يې ډېر سپکاوی کړی ده، بلکې ښځې دواړو د خوراک او د بستر وړې ښودلې دي، ګرڅه انسان فطرتاً که ښځه وي او که نر درې شيان ډېر پرې ګران وي چې لومړی يې خوراک، دوهم شهوت او دريم يې اولاد ده، بل انسان بې د ژوند له شريکه او اولاده نيمګړی وي، خو بيا يې هم ټوله هيله او امېد يوازې همدا نه وي، خو خير دا به پرېږدو او وبه وايم چې ناول نسبتاً ښه تلوسه لري، چې کولای شي، لوستونکی له ځان سره واخلي او بل د عبرت يو غټه فلسفه لري او هغه دا چې بايد سړی په وخت کې خپل زوی او ورور ته د ښځې، هغه هم همزولې بندوبست وکړي او خپله خور او لور په خپل وخت او سم سړي ته ورکړي، تر څو په دنيا او آخرت د لمې د اور له آزاره خلاص وي.

بل دا چې سړی بايد له دې بدرنګه پيرانو او ملايانو نه ځان وساتي او له ښو او ښايسته (له ښايسته مې د سيرت ښايست موخه ده) د دين او دنيا له علماءو سره ملګرتيا وکړي او د هغوئ په لارښوؤنو او مشورو عمل وکړي.

۱۴۰۳/۲/۱۴

ketabton.com - The Digital Library

# ساړه بادونه:

د لنډو کیسو دا کتاب چې اسدالله غنضفر لیکلی، پکې یې یوؤلس لنډې کیسې را اخیستي دي چې زه به یې لاندې په پوره لنډیز سره بیان کړم:

**۱- څوک داسې نه کوي:**

یو زلمی په پېښور کې مزدوري کوي، بیا څوک احوال وروړي چې روسانو ستاسې د کلي د سړک غاړې دوه کرونه رنګ کړي دي، دی د خبر سم پوهېدو ته په تم کېږي، ځکه د دوئ کور هم د سړک غاړې ته وي، د دوئ د کلي د ختیکیو تجاران نه راځي، ځکه خو یې تشویش نور هم ډېرېږي، خو بیا څو میاشتې وروسته د زیرې تجار حاجي تورګل راځي او ده ته ډاډ ورکوي چې ختیکي روسانو خراب کړل، ستاسو کور یې نه ده ویجاړ کړی، بلکې د میرزا خان د زامنو کور یې ویجاړ کړی ده.

**۲- هغه سپین شی:**

کوچنی عبدالله له ټول کلي او کور نه بېل وی، په کلي او کور کې اوسي، خو سوچ او فکر یې بل چېرې وي، له خپلو همزولو سره بس همدا یوه جمله تبادله کوي چې ماشومان یې پوښتي:

هغه سپین شی چېرته دی؟

او دی یې ځواب ورکوي:

هغه سپین شی مې پلار وړی، راوړي یې!

کلونه وروسته د ده مور دا محاوره اوري او پوهېږي چې سپین شی هغه بیرغ ده، چې د عبدالله پلار تر شهادت مخکې او جهاد ته د تګ پر مهال په لاس کې نیولی وؤ.

**۳- نهه بجې:**

د یوه ښوؤنکي ورور په دې تور نیول شوی وي، چې د دوکان مخ نه یې یو کس تېر شوی چې کلایشینکوف یې تښتولی، ښوؤنکی د ورور خلاصېدو لپاره ورځي، خو روسان دی هم نیسي، له ورور سره یې په یوه کوټه کې اچوي او ورته وایي:

تر سبا نهه بجو پورې دې ورور په دې قانع کړه چې کس راوښيي، کنه دواړه اعدامېږئ.

ketabton.com - The Digital Library

سبا ته یې خوشې کوي، ځکه مخکې تر دې چې ښوونکی ورشي، ټوپک تښتوونکی روسانو وژلی وي او دی یې هسې نیولی وي.

**۴- آشنا قبرونه:**

یوه لاروی، په هدیره تېرېږي، هره ورځ هلته یو بوډا ګونګی ناست وي او ماشومان لوبې کوي، خو یوه ورځ چې په هدیره تېرېږي، ګوري چې خلک بې کسه ځوان خاورو ته سپاري چې موټر وهلی وي، بیا د «سره» په نامه یوه ماشومه په ماشومانو کې پېژني او بله ورځ خبرېږي چې هغه ناورغه ده، په سبا یې د هغې قبر ویني، څه موده وروسته د ګونګي ناروغتیا هم ویني او بیا یوه ورځ په همدې هدیرې تېرېږي، نو ویني چې په ګونګي خاورې اړوي، مخ یې د وطن پر خوا ورته اړولی وي.

**۵- د لېوه سر:**

په یوه کلي کې د دُران په نامه ځوان اوسي، چې پلار یې پیرو اکا ډېر شتمن وي، خو ډېر شوم هم وي، یوه ورځ د کلي د خان کندهاري ملګري یو لېوه ولي او وایي:

د لېوه سر مو چې د هرچا کره واچاوه، هغه به مېلمستیا راکوي.

د دُران له بد بخته چې دا سر د دُران دوئ کور ته غورځي، نو پلار یې دې مېلمستیا ته نه حاضرېږي، د کلي خان دُران ته پیسې او یو ښه پسه پټ ورکوي چې مېلمستیا وکړي، خو بیا هم پیرو اکا د خان پوزه ور پرې کوي او له مېلمستیا نه پټېږي، دا شرم د دُران په زړه کې تر هغو وده کوي چې د روسي منصبدار سر پرې کوي او کلي ته یې راوړي.

**۶- راز:**

یو زلمی مجاهد د پیرې لپاره له مرکز نه د سړک غاړې ته ځي، هلته له ملنګ سره مخ کېږي، هغه ورته د یوې لویې قوې د راتلو خبر ورکوي، خو دی د دې لپاره چې پیره یې پاتې نه شي، نو ملنګ د دې خبرې د لېږد لپاره مرکز ته لېږي او د پټې ورکولو وروسته ترې تلاشي اخلي، چې ورسره د شفر په ډول کاغذونه پیدا کوي، ملنګ ورته وایي چې:

دا کاغذونه د بغلان مجاهدینو راکړي.

دی یې ماتلوي چې بل کس راشي، خو ملنګ د تېښتې هڅه کوي، ځکه خو دی هم ملنګ وژني، بیا وروسته پښېمانه شي، خو بیا یې قومندان وغواړي او ورته ووایي چې ملنګ یو

ketabton.com - The Digital Library

جاسوس دی که دې ګېر کړ رايې وله، خو مجاهد بېچاره د دې لپاره چې کوم بل راز يې ښکاره نه شي، دا د ويشتلو راز هم پټوي.

**۷: ساړه بادونه:**

ميا يو هلک ته تل کتابونه راوړي، د کابل ښار کيسې ورته کوي او بيا يې له کابل سره او په کابل کې د دوئ د اوسېدنې د سيمې له خلکو سره آموخته کوي، په وروستي ځل چې ميا د دوئ کره راځي، ډېر ســـاړه يې کېږي، دوه کتابونه ورته ډالۍ کوي او بيا ورته د نجيب د حکومت سقوط تشريح کوي، څو ورځې وروسته حالات هماغسې کېږي.

**۸: د مور غم:**

معلم د نســـيم په نامه ځوان ته وايي چې خير که دې ځېره خرابه شـــوې او لاس دې له لاســـه ورکړی، ځکه دا اجر لري، خو نسيم په دې سوچ کې وي چې څنګه مور نه ده پېژندلې او له ده نه يې د ده پو ښتنه کړې ده، بيا معلم ورته د خپلې مور کيسه کوي چې ورور يې روسانو زخمي کړ او سبا يې زخمي او يو بل ورور يې روسانو وواژه، بيا نسيم ورته د زړه حال وايي.

**۹: تېښته:**

د نسيم په نوم مأمور يوه په دې نيول کېږي چې روسانو ته د ښېراوؤ سره يې آمين ويلی وي، بيا د پوليســو مأموريت ته بېول کېږي، هلته پوليس مرســته ورســره کوي، چې وتښــتي. خو چې ټيکســـي ته وخېژي، نو درې عســـکر هم وخېژي، بيا هماغه وي چې مجبور شـــي څو عســـکر له ځانه سره کور ته بوځي، هلته ورته عسکر وايي:

ته خو دا ده په خير کور ته ورسـېدې، مورږ يې هم په زور راوســـتي يو، نو مرســـته راســره وکړه چې وتښتو.

**۱۰: دوه وروڼه:**

دوه کوچني وروڼه نجيب او نســـيم وي، چې په کلي کې ژوند کوي، يوه ورځ نجيب ښـــار ته د ماما کور ته ځي، بيا له هغه ځايه د ماشومانو د لوبو موټر راوړي، ورور يې نسيم هم داسې موټر غواړي، بيا نجيب ژمنه ورســـره کوي، چې ده ته به يې هم اخلي، بله ورځ مجاهدين خبر ورکوي چې روسان بمباري کوي، ځکه خو د شپې تول حرکت کوي او چې په لاره نجيب ته موټرک په نظر ورشي، نو ورشي او په منډه يې راواخلي، چې له دې سره هغه په نجيب والوزي.

ketabton.com - The Digital Library

**۱۱: ستنېدنه:**

د زلېخا تورېئ په نامه يوه کونډه دوه زامن د زرين او زرګل په نامه لري، خو يوه ورځ يې روسان دواړه زامن عسکرۍ ته بيايي، بيا زرګل څه موده وروسته په تېښته بريالی کېږي، خو چې کور ته راشي، نو وګوري چې مور يې پخوا وفات شوې، بيا له مجاهدينو سره يو ځای کېږي او يوه شپه چې په دوئ جګړه سخته شي، نو په سنګر يو راختونکی کس وولي او مړ يې کړي، وروسته پوه شي چې هغه تسليمېده او په دې هم پوه شي چې هغه کس يې ورور زرين دی.

## زما آند د «سارې بادونه» لنډو کيسو کتاب په اړه:

زما په آند د لنډو کيسو دا کتاب په ښه بڼه ليکل شوی، چې ليکوال پکې د هغه وخت رېښتيا لکه د روسانو ظلم، د ځينو افغانانو خيانت، ځينو افغانانو بې وسي او ورور وژنه» پکې انځور کړې ده.

١٤٠٣/٢/٢٠

ketabton.com - The Digital Library

## اولسمشر ما وژلی ناول:

دا چې ښاغلي آرش ننګیال (کېدا شي اروښاد وي) لیکلی چې زما له لوري لومړی لوستل شوی ناول دی، په دې ناول کې د ډاکټر نجیب د وخت د یوه افسر کیسه را اخیستې ده، چې په شخصي کار او بار له هغه راهیسې اخته وي، چې د ډاکټر نجیب حکومت سقوط شوی، بیا چې پر وطن د آمریکې ښکېلاک واکمن شو، څه موده وروسته د دې تورن په کور چاپه اچوي، د کور ټول غړي بې له تورن او مېرمن یې ووژني او بیا چې تورن سترګې پرانیزي نو په بګرام زندان کې وي، آمریکایان ترې څېړنې کوي، یوه ورځ یې مېرمن ورسره مخامخ کړي، بیا هغه وي چې تورن د تېښتې پلان جوړوي او بیا تښتي، خپل کلي ته ځي او هلته ورته خان لالا د حکومت د مخالفینو ډلې ته دعوت ورکوي، څو ورځو کې یې حالات دې ته اړ کوي چې خان لالا سره یو ځای شي، هلته ډېر عملیاتونه کوي، بیا په پاکستان کې د افغان دولت ډیپلومات تښتوي، تر هغه وروسته مخالف مشران د اولسمشر د وژلو پلان نیسي، ځکه خو تورن سره یو پنجابی پوځي رالېږي چې اولسمشر ترور کړي، خو پنجابی وېرېږي او اولسمشر ژغورل کېږي، تورن هم یوه مرمۍ تر پنجابي قربانوي او په تندي یې ولي، په دوهم ځل په ننګرهار کې پر اولسمشر برید کوي خو اولسمشر ټپي کېږي او مړ کېږي نه، خو دریم ځل تورن په ملي تلویزیون کې کار پیلوي او هلته د استقلال په جشن کې په مایک کې د ځای پر ځای شوي مین پرمټ اولسمشر ترور کوي، بیا کور ته ځي او د خپلې مېرمن درملنې ته دوام ورکوي، یوه ورځ یې غرمه دروازه ټکېږي او چې او چې له کور بهر راووځي پولیس یې ونیسي او بیا محکمه ورته د عمر بند سزا ځکه اوروي، ځکه چې دی ورته په ځغرده وایي:

اولسمشر ما وژلی!

### زما آند د (اولسمشر ما وژلی ناول) په اړه:

دا ناول ما په لومړي ځل په ۱۳۹۷ کال کې ولوست، دا ناول زما لومړی ناول وؤ چې ومې لوست، چې ډېر جالبه خاطره هم لري، هغه دا چې زما د ښوونځي ټولګیوال، زما کلیوال او ملګری ضیاء الله به هره شپه له ما سره په فسبوک باندې چټ کاوه، ځکه هغه نوی پي پي اس (د اولسمشر غني ساتونکونو) ډلې کې دنده اخیستې وه او په کومو شپو چې ما دا ناول مطالعه کاوه نو په هغو شپو کې رانه په چټ کې پوښتنه وکړه:

څه کوې انډیواله ځې تر دا ماله وینښ یې؟

ketabton.com - The Digital Library

-کتاب مطالعه کوم.

-کوم کتاب؟

-اولسمشر ما وژلی.

بیا یې څو ورځې چټ راسره ونه کړ، خو څه موده وروسته بیا پیل شو دا څو روځې ځنډ یې کېدای شي چې له اولسمشر غني سره له ډېرې مینې او یا هم د دې لپاره وؤ چې وېرېده چې په دې کې ورته کومه ستونزه پیدا نه شي، په هر صورت بیا زمونږ ملګرتیا هغسې پاتې نه وه، ځکه له ما وېرېده، زه یې د غني د ګوډاګي حکومت نظامي مخالف ګڼلم، هو زه د هغه حکومت د ډېرو کړنو سیاسي مخالفت کړی، خو نظامي هېڅوک راباندې نه شي ثابتولی، نه څوک زما اړیکې په نړۍ کې له هېڅ سیاسي او یا بل ډول ډلو او ګوندونو سره شي ثابتولی او نه مې لرلي او نه یې لرم او بل دا چې په راتلونکي کې هم داسې څه نیت نه لرم.

په هر حال ماته دا خبره هغه وخت څرګنده شوله چې مانه مې تورۍ د ضیاء الله د تره د کور پته او د تره شمېره وغوښته، ځکه هغې غوښتل چې د ضیاء الله د تره لور د خپل زوی لپاره وګوري، نو ما دا خبره د دوه لاملونو له امله نه شوه ورته کولای: لومړی دا چې پښتانه یو څه په دې مسائلو کې شرم لري او نه شي کولای چې داسې خبره واوري دوهم دا چې کېدای شي تورۍ مې نجلۍ خوښه نه کړي.

ځکه خو مې ورته وویل:

تورۍ مې غواړي چې ورکره ورشي.

ضیاءالله وویل:

باید ماته ووایې څې ولې ورځي، ځکه اوس وخت داسې راغلی څې څوک په چا اعتبار نه لري.

نور یې خبرې او چټ ډېر اوږد کړ چې بلآخره دا چټ د دې لامل شو چې ضیاءالله مې د بلاک کندې ته وروغورځاوه او تر اوسه پورې چې زه دا لیکنه کوم، خبرې مې نه دي ورسره کړي.

نور رابه شم خپل آند ته، دا ناول دومره ماته په زړه پورې وؤ، چې دوه ځلې مې ولوست په دې ناول کې ډېرو حقائقو ته اشاره شوې وه، چې د تېر حکومت په دوران کې یې شتون درلود، د

ketabton.com - The Digital Library

حکومت ټولو غټو نیمګړتیاوؤ ته پکې اشاره شوې ده چې تېر حکومت لرل، که سرې ورته ځیر شي، نو تېر جمهوریت او د طالبانو تحریک دواړو ته یې ښې پخې مشورې پکې ورکړې دي.

نو زما په آند تېر حکومت له دې مشورو نه ګټه وانه خیسته چې هغه ستونزې په پای کې د سقوط لامل شوې.

په پای کې دا ویلی شم چې په ټوله کې ناول په ښه ډول لیکل شوی او په بیا بیا لوستو ارزي.

۱۴۰۳/۲/۲۱

ketabton.com - The Digital Library

# اغزن سیم ناول:

دا ناول چې خدای بخښـــلی نصــیر احمد ((احمدي)) لیکلی، پکې یې د مریم په نامه د یوې نجلۍ کیسه را اخیستې ده، مریم د ادبیاتو پوهنځي مُحصله وي، بیا د وحید په نامه یو هلک له بل پوهنتون تبدیلي راوړي، مریم پرې مئینېږي، خو د پوهنتون تر خلاصــېدو د مخه د وحید ورونه وحید لندن ته د دې لپاره وربولي چې په بل کس باندې باور نه لري، چې هوټل مخ ته یوسي، نو په پای کې وحید هم پرېکړه کوي چې لاړ شي.

کرار کرار مریم هم خپله کورنۍ اروپا او لندن ته هڅوي چې بیا په پای کې د مریم د پوهنتون تر خلاصېدو وروسته یې کورنۍ هم هوایي شي او یوه ورځ یې پلار کور خرڅ کړي سره له هغې او د هغه سامان او بیا نو قاچاقي د لندن خواته روانېږي، تر ایرانه کومه ستونزه نه پیدا کېږي، بې له دې چې له موټر یو کس لوېږي او بل هغه پســې کوزېږي او قاچاقبر حرکت ترې کوي، هغه دوه کسه چې له موټر نه پاتې کېږي د مریم د لارې ملګري وي، نور هېڅ نه.

بیا په ایران کې د غواوۀ په یوه فارم کې اوســېږي، هلته د زېبا په نامه بدخشــانۍ ۱۱ کلنې نجلۍ سره پېژني، هغه ورته کیسه کوي، چې څنګه د دې تره دوئ ایران د خښتو بټۍ کې د کار لپاره ور وغوښــتل، څنګه یې چې په نیمروز کې پیسـې خلاصې شـوې، تره یې قاچاقبر ته ژمنه ورکړه چې دلته به پیســې ورکړي او څنګه چې دوئ هلته ورســېدل، تره یې پیدا نه کړ، بیا خبر شول چې تره یې نیول شوی او دوئ باید د قاچاقبر د غواوۀ په دې فارم کې کار وکړي، څنګه یې په مور د فارم څښــتن علي رضــا جنســي تېری وکړ او بیا هغې ځان وژنه وکړه، څنګه یې پلار ووژل شـو او اوس هم علي رضـا ورته وایي چې ژوندی دی او څنګه علي رضـا ورته په تمه ده چې دا لویه شي او هغه یې جسم خرڅ کړي.

ترکیې ته اړونکی د مریم پلار ته وایي دا سل یو نیم سل متره سرحد څه عادي خبره نه ده، له ســړي نه بې غیرته جوړوي، د دې ســرحد دې خواته دوه ورونو ځکه ووهلم چې خور یې رانه په خطا کې ډیکه شوې وه، خو اخوا مې له هماغې نجلۍ نه مچکې اخیستې، په خپله غېږ کې مې کېنولې وه، خو هېڅ یې راته نه شو ویلی.

بیا چې له ســرحد نه تېرېږي، نو ترکي ســرتېري ډزې پرې وکړي، چې له امله یې د مریم یوازېنی ورور ولړېږي او قاچاقبر یې دې ته اړ کړي چې خپله مخه ونیسي او هلک ته ونه درېږي.

ketabton.com - The Digital Library

له هغه سـرحد نه بیا د چرګو په موټر کې انقرې ته لاړ شـي، له انقرې نه د غوښـو په یخچالي موټر کې له یوؤلسو نورو کسانو سره یوه ساحلي ښار ته لاړ شي، چې د یخ له امله په یخچال کې درې کسه مړه شي او یوؤلس کسه په کښتۍ کې استانبول ته لاړ شي.

بیا له هغه ځایه په ځنګله کې له څو عربو کورنیو سـره یونان ته لاړ شـي، ده په ځنګلونو کې چې په لاره کې یوه عربه ښځه ولوېږي، مړه شي، مېړه یې هم ورسره پاتې شي چې دواړه د لېوانو ښکار شي.

له یونان نه بیا د کالیو په ماشینونو کې کېني، قاچاقبر یو یو قطي ژاولې ورکړي، چې ژدولو سره ټول بې هوښه شي او سترګې د موټرو په یوې کباړ خانه کې رنې کړي.

له هغه ځایه په کښتـۍ کې ایټالیا ته لاړ شـي، له هغه ځایه د پښـو حرکت کوي، په لاره کې باران شـي، بیا قاچاقبران غواړي چې مریم او مور ته یې لاس ور واچوي، خو د مریم د خولې قی چې ویني ورسـره وي د قاچاقبر غاړې ته ور ولوېږي او هغه وتښـتي او هغه بل یې د مریم د پلار له خوا ووژل شي.

د مریم مور ځان له غره نه کښتـه ورغوځوي، پلار یې بندي شـي او دا روغتون ته لاړه شـي، ځلوېښت ورځې وروسته په روغتون کې د سږو د سرطان له امله مړه شي.

## زما آند د (اغزن سیم) ناول په اړه:

خدای بخښـلی نصیر احمد احمدي د افغانسـتان له تکړه ناول لیکونکو څخه یو تېر شـوی، چې دا ناول یې هم ډېر له عبرت، درد ، غم او خوند سره سره ښه ښکلی داستان هم لري، داستان یې په ډېر ښـه ډول او بدلی چې ناول ترې جوړ شـوی، افغانانو ته یې دا پیغام پرې ایښـی چې لومړی خو خپل هیواد مه پرېږدئ، که ډېر بې وسه شـوئ، نو قانوني لاړ شـئ او که بیا مو ډېر دا وطن له پامه بد شو، نو بیا خو یوازې لاړشه او کورنۍ در وغواړه. بل یې دا هم ښودلې ده چې تر واده مخکې مینه معنیٰ نه لري.

نو دا وایم چې د خدای بخښـلي احمدي صـاحب په اثارو کې سـتونزې د ګوتو له شـمېره هم کمې دي، مثلاً دلته هغه نجلۍ چې خپله یې ادبیات ویلي وي ولې د ژوند داسـتان خپله نه لیکي، ځکه خو ویلی شو چې دا ناول په بیا بیا لوستلو ارزي.

۱۴۰۲/۲/۲۴

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# تلک خرس:

دا کتاب چې د پاکستان د آی اېس آی (I.S.I) مهم غړي محمد یوسف لیکلی او محمد قاسم آســمایي ژباړلی ده، په دې کتاب کې یې د شــوروي اتحاد پر وړاندې د مجاهدینو په اړه ګڼ حقایق بیان کړي دي، یو څه درواغ یې هم تپلي دي، کله او څنګه خلک شــورویانو پرضـــد پاڅېده، څنګه خلک مجاهدین شــول، ولې پاکســـتان د افغانســـتان د مجاهدینو ملاتړ وکړ، څنګه یې ســـي آی اې (C.I.A)، غربي هیوادونه او عربي هیوادونه د دې جهاد ملاتړ ته راوبلل، هغوئ کومې مرستې وکړې او آی اېس آی مجاهدینو ته ورسولې، په څه پلمو دوئ ځان ته وسلې وساتلې، افغان پوځیانو څومره ستونزې لرلې او څنګه پاکستان له هغو نه د جهاد پر مهال ګټه پورته کړه، څنګه یې مجاهدین د عام المنفعه ځایونو وراني ته هڅول، پر کابل یې څنګه راکټ را واورول، څنګه یې سي آی اې دې ته وهڅوله چې باید مجاهدینو ته ستینګر وسلې ورکړي.

له دې سره دا هم چې ستینګر الوتکې ویشتونکو راکټونو پر جګړې او جهاد څومره اثر لاره، جنرال اختر او لیکوال ولې او څنګه لرې شول، جنرال اختر او ضیاءالحق څنګه مردار شول.

په پای کې د جلال آباد جګړه هم بیانوي، چې ولې رامنځ ته شــوه، جهادي مشــرانو تر منځ دومره نفاق واچاوه چې ان کابل یې وران کړ.

## زما آند د (تلک خرس) کتاب په اړه:

زما په آند دا یې یو ډېر ښــه کتاب لیکلی چې له امله یې ســړی د چریکي یا ګوریلایي جګړو په تخنیک او مؤثریت پوهېږي چې ان شـــاء الله زما په نږدې راتلونکي ســلطنت کې به زه دا تخنیکونه د په نوم اسلام آباد په وړاندې کاروم.

۱۴۰۲/۰۳/۰۱

ketabton.com - The Digital Library

# دنیا ناول:

دا چې دا ناول چا اول په کومه ژبه لیکل شــوی، نه پوهېږم، خو پښــتو ژباړه یې آغلې/مېرمن صــفیه حلیم کړې ده، په دې ناول کې له هند نه یوه خبریا له جنوبي آفریقې ته ځي، هلته ورته ســلېمان او د ســلېمان مېرمن ذلیخا ځای ورکوي، دا په هلته ګرځېدو کې دنیا پېژني، څوک پوښتنه ترې کوي:

ته څه فکر کوې چې دنیا اورپرسته ده او که زر پرسته؟

خبریا له ډېره هڅه کوي، چې د دنیا په اړه وپوهېږي، خو په دې کار کې یوازې نیمه بریا ترلاســه کوي، ځکه چې د ټلویزیون مشــر یې بېرته غواړي، بیا څه موده وروســته د ســلېمان له مرګ نه خبرېږي او بیا یې پر خپل خاوند د زړه حلمه راځي، له ایندرور سره تر سلاح او مشورې وروسته د خاوند د عملیاتو لپاره دوبۍ ته ځي، هلته د دنیا خور تهمینه شرماویني، له هغې نه د دنیا په اړه پوښتنه کوي او هغه یې په ځواب کې وايي:

دنیا ډېر ځانګړې خوی لري، هغه دا چې د ځان په اړه چاته نه وايي او دا چې ما خپل ډېر عمر په لندن کې تېر کړی، نو د دنیا د ژوند په اړه نه پوهېږم، خو اوس ډېره ناروغه ده.

بیا چې کله خبریاله بېرته هند ته راشي، نو خبره شي چې له دوئ (د دوئ د تلویزیوني شبکې) سره شریکه کمپنۍ څو خبریالان جنوبي آفریقې ته لېږي، نو دا خبریاله هم ورشــي، هلته د دنیا بد حال وګوري او ډېر خلک هم ورته د دنیا په اړه ووايي، تر دې چې د شــهریار نږدې خپلوان یې یعنې شرین سره وګوري، شیرین د شهریار او دنیا دواړو دفترونه ور وښايي او بیا یې کیسه هم ورته وکړي چې له دې سره دا هم په اصلي کیسه پوهه شي.

په اصــلي کیســه کې شــهریار (لوی تجار) په دنیا (غریبې او په یوه دوکان کې کارکوونکې نجلۍ) باندې مئین شي، هغې ته هرڅه اخلي، سره له دې چې د دفتر په کارونو هېڅ نه پوهېږي خو بیا هم په دفتر کې کار ورکړي، موټر ورته واخلي، خو ســلېمان د ذلیخا مېړه یې واده یا کوژدې ته نه پرېږدي، تر څو شــهریار ټول هرڅه او هره شــتمني د دنیا په نوم کړي، بیا ســلېمان خبر شي او په دنیا باندې ډېرې غوصې وکړي، د دنیا د ډېر خپګان په لیدو شــهریار له ډېر غم اند ښنې او غوصې نه موټر چپه کړي او دنیا یوازې پرېږدي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما آند د (دنیا) ناول:

زما په آند له داستاني لحاظ ښه ناول ده، دومره تلوسه لري چې سړی يې پای ته ورسوي، خو نه يوازې دا چې ښــه پای نه لري، يا ډېر منفي ټکي لري، لکه د مســـلمانانو مئينېدل پر يوې اوړپرستې، بلکې کوم عبرتناکه څه هم نه لري.

۱٤۰۳/۳/۹

کابل

ketabton.com - The Digital Library

# فراماسونري: دجال آخر زمان:

## فريماسونري څه ده؟

ليکوال وايي چې ډېرو سترو ليکوالانو تر اوسه په دې اړه دقيقه او روښانه خبره نه ده کړې، ما سون (Mason) د بنسټ پر معنا دی (فريما سون (FreeMason) د آزاد بنسټ په معنٰی ده، خو دا اړينه نه ده چې په دې نامه دې ياد شي.

## د فريماسونري سرچينې:

د فريماسونري سرچينې د لرغوني مصر او نورو الحادي حکومتونو څخه دي، لکه اهرامونه، د ابوالهول مجسمه او هيروگليف ليکنې د فريماسونريانو په نشرياتو او ځايونو کې ښکاري.

## د فريماسونري د پرمختګ کړنلاره:

دا چې فريماسونري له مصر نه سرچينه اخيستې، په ځانګړي ډول له فرعونيانونه، نو ښکاري چې د فرعون د ډوبيدو او د مصريانو په مسلمانېدو په مصر کې دا فتنه له منځه ولاړه، خو بني اسرائيلو د حضرت موسی (ع) په څو ورځې پناه کېدو بېرته د غوايي عبادت پيل کړ، بس همداسې يې د حضرت موسیٰ (ع) تر مرګ وروسته بېرته په کوډو او کابلا (همدا فريماسونري تعليماتو) پيل وکړ، د ځينې پيغمبرانو لکه حضرت داؤد (ع) او حضرت سليمان (ع) په وخت کې يې دا کار پرېښود، خو تر هغوئ وروسته يې بېرته پيل کړ او اروپا ته په مهاجرت يې هلته ولېږداوه، خو دا چې د وخت کليساؤ يې مخالفت کاوه او سختې سزاوې يې ورکولې، هغه وخت يې دا کار په ډېره پټه سره کاوه، خو له آزادۍ وروسته کرار کرار ښکاره شول.

## د فريماسونري عقيده:

دوئ داسې عقيده لري لکه ماترياليستان چې يوازې هغه شی شته چې فزيکاً شتون لري، دوئ شيطان ډېر لوړ بولي او د دجال يا نوي فرعون حکومت پر نړۍ غواړي، چې د حکومت مرکز با يد بيت المقدس وي او دوئ غواړي چې اقصیٰ جومات ړنګ کړي او پر ځای يې ((د سليمان معبد)) په نوم يوه ودانۍ جوړه کړي.

## د فريماسونري نښې (سمبولونه):

دوئ ښکاره نښې په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

۱: **پرکار او گونیا:**

په داسې دول چې د پرکار خوله کښته او د ګونیا خوله پورته وي او ډېری وخت يې پرکار پر ګونيا ايښی وي.

**۲: پينځه غوږی سرچپه ستوری:**

د اوزې سر ښودؤنکی دا ستوری، لکه په مونږ پښتنو کې چې يوه ډېره عامه اصطلاح ده چې وايي (اوزه د شيطان مال دی) نو داسې د اوزې سر ښودؤنکی ستوری هم د شيطان نښه او هم د فريماسونريانو او شيطان پرستو نښه ده.

۳: **د شيطان لاس** (ښکر لرونکی لاس):

د فريماسونريانو او شيطان پرستو په آند شيطان ښکرور دی او لاس په شيطان ښيي((د لاس غټه ګوته او له ځلور نورو ګوتو نه دوه منځنۍ قاتوي او بيا د لاس شا د ځان خواته نيسي او خلکو ته يې ښايي)).

۴: **مات صليب يا** (Swastika):

دا په ساده اصطلاح د هتلر علامه ده، همدا رنګه پر لرغونو اديانو لکه په هندو او فرعوني اديانو کې ليدل کېږي.

۵: **د انسان د سر کوپړۍ (جمجمعه) او دوه هډوکي** (Skull & Bounes):

په داسې حال کې چې دوه هډوکي يې سر پر سر ايښي او بيا پر سر يې د انسان کوپړۍ ايښې وي، ډېری وخت يې (۳۲۲) شمېره هم پرې ليکلې وي.

۶: (۶۶۶) **يا** (۵۵۵) **يا د دجال شمېره:**

(۶۶۶) شمېره يا (FFF) د د جال شمېره ځکه ګڼي چې مسيحيان هم دا شمېره په دجال پورې تړي.

۷: (۱۳) **شمېره**

دا شمېره فريماسونريانو او يهودانو ته سپېڅلې ده، لکه څومره چې يې مسيحيان بده ګڼي.

۸= (۳۳) شمېره:

ketabton.com - The Digital Library

ځینې نظر لرونکي وايي چې په فریماسونریانو کې د لوی قدرت لرونکی کس په (۳۳) شمېره کې دی.

## د فریماسونریانو موخې:

۱= د توحید ټول مظاهر له منځه وړل.

۲= د اقصی' جومات نړول او پرځای یې د سلیمان معبد جوړول او هغه ځای له بوتانو ډکول.

۳= د نړیوال شیطاني حکومت جوړول، چې پلازمینه به یې بیت المقدس کې وي.

٤= د دجال واکمنول.

## د فریماسونریانو وسائل:

**په عیسایانو کې نو انجیل والا، یهودان خو یې استادان دي او په اسلام کې لاندې:**

۱= په مذهب کې پتېدونکي خلک، لکه بهایان او داسې نور.

۲= هغه خلک چې ظاهراً ځان خلکو ته مسلمان ښیي او پټه کې نه یوازې دا چې د دین ریښې وهي، بلکې ملنډې هم پورې وهي.

بل لوري ته له حکومتونو هم ګټه اخلي، لکه آمریکا، چې جوړه شوه نو تر ټولو لومړی یې اسرائل جوړ کړل، نو اوس د ټول فلسطین اسرائیلي کولو هڅه کوي.

ځکه خو لیکوال ځینې داسې شواهد وړاندې کوي چې دا ثابتوي چې آمریکا د فریماسونریانو مرکز دی:

۱= د آمریکا د خپلواکۍ اعلان:

دا اعلان د څلورو کسانو له خوا لاسلیک شوی، چې درې یې پاخه فریماسونریان دي او یو بل یې (جان آدمز/John Adams) په شک کې دی، د دوئ له منځه جرج واشنګټن ډېر بدنامه تېر شوی دی.

۲= د آمریکا د بیرغ (جنډې) لپاره لومړنۍ طرحې په ښکاره ماسوني وې، له بل لوري نه د آمریکا بیرغ له دیارلس کرښو جوړ شوی دی.

۳= د آمریکا ډېری اولسمشران په پټو او ماسوني ډولو کې غړي ول:

ketabton.com - The Digital Library

بې له دريو کسانو: ۱ اوليس-اس-ګرانټ ۲-ابراهام لينکولن ۳-جان اف کنډي، چې دوه وروستي يې ترور شوي دي.

٤= د ودانيو او ښار جوړښت په واشنګټون کې.

٥= د کنګرې لومړۍ تيره چې د پرکار او ګونيا علامه په ښکاره پکې ښکاري او منځ کې هم G دی، چې په انګريزي کې د اوزې د نوم لپاره لومړی توری دی.

٦= د ډالر په يوه ګون کې ډېرې ماسوني نښې.

٧=د شيطان د لاس يا ښکر لرونکي لاس نښې د آمريکا د اولسمشرانو په انځورونو کې.

٨= دا چې په ٢٠٠٤ کال کې بوش او کري ټاکنو ته نوماند ول او دواړه هم د کوپړۍ او هډوکو په ډله کې ول.

ليکوال تر آمريکا وروسته د اسرائيلو رابطه له فريماسونريانو سره ښودلې ده:

١= د اسرائيليانو په جنډه کې د شپږ غوړي ستوري علامه او د نيل او فرات سيندونو نښې يې ماسوني ښودلې دي.

٢= د اسرائيلو په ستره محکمه کې د حِرم او هغه ماسوني منار ته اشاره کړې، دا يې هم ماسوني ښودلې دي.

٣= د موساد مرکزي ودانۍ چې د مصر حِرم ته ورته ده او بل پلو په لوګو کې ديارلس د زيتونو پاڼې ماسوني نښې ښودلي.

٤= د اسرائيلو په يوه ښار کې ښکاره ماسونوي علامې.

٥= د اسرائيلو د صدراعظمانو په اړه يې هم لږ داسې ضعيف ثبوتونه ښودلي چې ماسوني والي يې په کې ښکاري.

بيا ليکوال راځي او نړيوالې ټولنې اړيکه له ماسونيانو سره څېړي:

١= د نړيوالې ټولنې لوګو له (٣٣) ټوټو جوړه ده چې دا يوه ماسوني علامه ده او بله دا چې پکې (١٣) د زيتونو پاڼې يوې خواته او ديارلس بلې خواته بې له لښتو دي چې دا هم ماسوني نښه ده.

ketabton.com - The Digital Library

۲= دوهم دا چې کله د نړۍ هیوادونه پر مسلمانانو باندې ظلم کوي، نړیواله تولنه غلې وي، خو که چېرې مسلمانان له خولې اوف هم وباسي، بیا تاسو د نړیوالې ټولنې حالت وګورئ.

۳= دا چې نړیواله ټولنه د ادیانو نږدې کولو لپاره یو بل سازمان لري او د دې سازمان په ودانۍ کې په ښکاره د ماسونیانو نښې ښکاري.

٤= دا چې د نړیوالې ټولنې د مرکزي دفتر زمکه او همدا رنګه لومړنۍ مرستې یو داسې یهودي الاصله عیسایي کړي چې له ماسونیانو سره یې پخې اړیکې لرلې دي.

تر دې وروسته لیکوال راځي او د واتیکان اړیکه له ماسونیانو سره څېړي:

۱= د واتیکان په ځینو رسامیو کې په حرم کې سترګه معلومېږي چې ماسوني نښه ده.

۲= په واتیکان کې حرم دوله ماسوني منار شتون.

۳= په دې وروستیو کې د واتیکان سپکاوی اسلام ته او بیا یې له اسرائیلو سره د اړیکو ښه کېدل.

بیا لیکوال د اونجیلیکالانو اړیکې له یهودانو سره څېړلې دي:

۱= د هم جنس بازۍ د جواز اعلامیه د دوئ د کلیسا له خوا، د کلیسا مشرانو لپاره.

۲= د سلیماني معبد د جوړولو غوښتنه د دې خلکو له خوا.

۳= د شپږ غوړي ستوري شتون د دې ډلې په ډېری کتابونو کې.

٤= د دې کله عقیده په بوش باندې تر دې چې د یوه نظامي کمپ په یوې مستندې وډیو کې ماشومان د خدای ځای ناست بولي (نعوذبالله من ذالک).

بیا لیکوال د بهائیانو اړیکې له ماسونیانو سره څېړي:

۱= د علي محمد شیرازي (چې بهائیان یې خپل لومړی خدای و پیغمبر بولي) مړی یې د یوهودو ښار عکا ته وړی او هلته یې خاورو ته سپارلی.

۲= دا چې بهائیان له یهودانو سره پراخې اړیکې لري.

تر دې وروسته لیکوال راځي د (Shriner) ماسوني ډلې په اړه بحث کوي:

ketabton.com - The Digital Library

دا ډله چې د ((پخوانیو عربي دینونو)) په ډلې هم نامتو ده، د سپوږمۍ، ستوري، عثماني خولۍ او د فرعون مجسمه یې په لوګو کې شتون لري، د عربانو د پخوانیوبت پرستي دینونو د راژوندي کېدو هڅه کوي.

همدا رنګه لیکوال هڅه کړې د عیسایانو د هغو تورونو سپیناوی هم وکړي چې دا یې ګڼلې چې مسلمانان له ماسونیانو سره اړیکې لري.

او بیا لیکوال په دې بحث کړی چې آیا ماسونیت (فریماسونري) هغه دجال دی چې اسلام یې وړاندوینه کړې؟:

لیکوال وایي چې که څه هم علماء په دې کې سره اختلاف لري، چې کوم دجال چې اسلام یاد کړی، انسان به وي، که یوه ډله، خو زه فکر کوم چې انسان به نه وي، چې بیا یې پېژندل ډېر آسانه کېږي.

نو زما آند دجال یوه ډله ده چې نښې یې دا دي:

۱- دجال به یوه سترګه لري، چې د ماسونیانو یوه نښه هم یوه سترګه ده.

۲- د د جال سترګه هم د هغه د تندي په منځ کې ده او ځلېدونکې، د ماسونیانو د نښې په منځ کې سترګه شتون لري، چې په ډېرو ځایونو کې رڼا هم لري، د مثال په ډول د ډالر په یوه ګون کې.

۳- د دجال په تندي به کافر لیکلی وي، خو ماسونیان د مصریانو کفري نښې کاروي.

٤- د جال د خروج ځای به هم سیستان یا خراسان وي، ماسونیانو هم خپل لومړی برید په خراسان او سیستان (افغانستان) وکړ، مطلب د سپتمبر د (۱۱) له پېښې نه وروسته.

٥- د جال شاته هغه څه دي چې خلک د ډوډۍ فکر ورته کوي، د ماسونیانو ډالرو ته هم.

٦- دجال هم له یهودي مور نه زېږي، ماسونیان هم د یهودو له کابالایي علومو نه زېږېدلي دي.

۷- حرموني، شرابیان، سندرغاړي، شیطانان او یهودان د دجال لاروي هم دي او ماسونیانو هم.

۸- لمر به له دجال سره ګرځي، که آمریکا او هڅو ته یې وګورې، نو په دوئ دا خبره ښه اطلاق کېدای شي.

ketabton.com - The Digital Library

۹= دجال لومړی د نبوت او بیا د خدايي دعوه کوي، آمریکا هم (New World Order) سره تردې کمه دعوه نه ده کړې.

۱۰= دجال په سیند ننوځي او زمکه به یې تر پښو لاندې شي، د آمریکا اوبتلونو او نورو وسائل ته که وګورو ډېر ورته والی لري.

۱۱= دجال د پیغمبر (ص) نه مخکې ژوندی دی، کابالايي روزنې هم.

۱۲= د جال سړی دی، ماسونیان هم که څه د ښځو د حقونو نارې وهي، خو بیا هم واک یې له نرانو سره دی.

۱۳= د دجال بل نوم مسیح الدجال دی، ماسونیانو هم خپل مشر بوش ته د مسیح لقب ورکوي.

۱٤= د دجال تر پښو لاندې هم یو خر دی چې له هر یوه ویښته یې یوه نغمه اوري او په میلیونو ګامونه اخلي، د ماسونیانو تر واک لاندې رسنۍ هم ترې کمې نه دي.

۱۵= دجال به په فلسطین کې مردار یږي، فریماسونري هم هغې خواته ډېره هڅه کوي.

بیا لیکوال راځي او په دې غږیږي چې فریماسونري په کومو شیانو او کارونو غواړي خپل آرمان ته ورسیږي:

۱= هغه څه کوي چې د ټولو هیوادونو سیاسي واګې ترلاسه کړي.

۲= دا چې آمریکا او اسرائیل د خپلو متو د زور په شان ځواکمن حکومتونه جوړ کړي.

۳= نړیواله ټولنه یې د یوې ماسوني دستګاه په دول جوړه کړه.

٤= د نوي نړیوال نظم (New World Order) شعار خپرولو هڅه.

۵= په الهي دینونو کې نفوذ او ننوتل.

٦= د ټولنیزو رسنیو نه په ګټې اخیستو سره اروايي جګړې، ټولنیز او فکري ورانیو او فحشا رواجول.

۷= د هالیوډ (Holly Wood) جوړول او ملاتړ.

۸= له اسلام سره مبارزه چې اصلي دښمن یې دی.

ketabton.com - The Digital Library

۹= له شیطان پرستو، همجنسبازو او سکولارو ډلو ته ملاتړ د سرتېرو په ډول.

۱۰= د فساد رواجول او له لوڅو سندرو ملاتړ.

۱۱= علم ته په افراطي نظر کتلو رابلل، مطلب چې علم د وسیلې پرځای موخه وګرځي.

۱۲= د ورزش افراطي کول او د وسیلې پر ځای یې موخه ګرځول.

۱۳= د مسجد الاقصیٰ د ورانولو هڅه، تر څو سلیماني معبد پرې جوړ کړي.

۱٤= د هیوادونو تر منځ د شخړو جوړول، په ځانګړې توګه په اسلامي هیوادنو کې.

۱۵= د افراطي مذاهبو خپرول.

۱٦= د عراق په ځاکړي توګه بابل نیول.

۱۷= د آرماګدون درواغجنې جګړې فکر خپرول.

۱۸= د جادو په صفت کې د کتابونو او فلمونو خپرول، لکه علاءالدین، هري پاټر او ...

۱۹= د نو استرادامس له وړاندوینو څخه ډېره ګټه اخیستنه.

لیکوال وایي چې که چېرته ښه په غور سره وګورو نو نیو آسترادامس وړاندوینې ډېرې هم وړاندوینې نه دي، بلکې اصلاً له لاندې حالاتو خالي نه دي:

الف: دا چې له اصلي خبرو نه ناسمه معنیٰ اخیستی شوې ده.

ب: دا چې دا وړاندوینې د وړاندوینې پر ځای پلان جوړونه، مطلب ماسونیانو د راتلونکي لپاره پلان جوړ کړی او د دې لپاره چې پلانونه یې ښه پرمخ ولاړ شي، نو د وړاندوینې نوم یې پرې ایښی.

پ: دا چې وړاندوینې یې د یهودو له پټو کتابونو رااخیستې دي، چې هغه کتابونو کې د هغوئ د انبیاؤ خبرې هم شتون لرلای شي.

ت: دا هم کېدای شي چې نیو آسترادام اصلي تورات ته لاسرسی لرلی وي او له هغه یې کاپي کړي وي.

ketabton.com - The Digital Library

ج: دا هم کېدای شي چې د قرآنکریم او احادیثو متن یې په شعر اړولی وي (البته لیکوال د دې لپاره ځینې مثالونه او ثبوتونه هم وړاندې کړي دي).

۲۰= قبة الصخره جومات مسلمانانو ته د مسجد الاقصیٰ پرځای وروپېژندل، دوئ دا کار د دې لپاره کوي چې دوئ وکولای شي، مسجد الاقصیٰ په ډېرې آسانۍ سره شهید کړي، چې په دې کار کې تر ډېره ځایه پورې بریالي هم دي.

۲۱= سره خوسکي (Red Heifer) تولید:

دوئ دا عقیده لري چې یو درې کلنه سره خوسکۍ باید قرباني شي، بیا هغه اور ته واچول شي او بیا د هغې خوسۍ د ایرو او ځینې نورو په وسیله باید د سلیمان معبد لپاره ځای پاک کړل شي، دوئ د خوسۍ په پېدا کولو کې بریالي، خو مسلمانو په خپل مقاومت سره د مسجد الاقصیٰ په شهادت کې ناکامه کړل.

۲۲= د دې هڅه چې د نړۍ د راتلونکي انځور مادي وړاندې کړي او آسماني ژغورونکي څخه انکار وکړي، که څه هم دوئ عیسویانو ته عیسیٰ (علیه السلام) ژغورونکي ګڼي، خو مسلمانانو ته ژغورونکي د فوکویاما د ((د تاریخ پای)) نظریه او آلوین تافلر د ((دریمه څپې)) نظریه او لیبرال-ډموکراسي وربښيي.

۲۳= دا هڅه کوي چې د آمریکا ماسوني هیواد د نړۍ ژغورنکي وښیي، د مثال په ډول په ډېری آمریکا فلمونو کې.

۲٤= د داوینچي کوډ (DaVinChi Code) فلم جوړول:

په دې فلم کې لوبغاړو د عیسیٰ (علیه السلام) رول لوبولی چې بیا په دې فلم کې له مریم مجدلې سره واده کوي او بیا تر څو اولادو راوړلو او څو کاله ژوند وروسته په پټ ډول وفات کېږي.

دلته که څه هم دا فلم د مسلمانانو په وړاندې څه ستونزه نه لري، ځکه مریم مجدله هغه مریم (علیه السلام) نه ده چې د حضرت عیسی (علیه السلام) مورده، بلکې د هغه مبارک په وخت کې د هغه له اصلي امتیانو څخه وه او بل لوري نکاح نه یوازې په اسلام کې بد کار نه ګڼل کېږي، بلکې ښه کار ګڼل کېږي،آن خدای او د هغه رسول یې د کولو حکم کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

خو په مسیحیانو کې ځکه دا کار بد ګڼل کېږي چې له یوې خوا مسیحیان په مریم مجدلې باندې رنګ رنګ تورونه لګوي او بل دا چې په مسیحیانو کې د دین ټیکه دارانو ته واده ننګ او شرم او بد کار ګڼل کېږي، نو په دې کار سره یې غوښتي چې د عیسیٰ (علیه السلام) نه د مسیحیانو زړه تور کړي.

۲۵= په یوه مستند فلم سره یې د حضرت (علیه السلام) د قبر پېدا کېدو ادعا کړې ده، خو په دې کې یې هم داسې ښودلي چې عیسیٰ (علیه السلام) له مریم مجدلې سره واده کړی ده، البته خپله جوړونکو یې دا فلم مستند ګڼلی، ما او لیکوال نه.

لیکوال د حضرت عیسیٰ (علیه السلام) مستند فلم له څو لورو ننګوي او بیا راځي او وایي چې دجال ډېر هڅه کړې چې دا فلم ریښتینی وښیي، خو نه ده توانېدلی.

**۲۶**= د ایران ضد ((۳۰۰)) فلم جوړول، په دې فلم کې دا هڅه شوې چې د اروپا او آمریکا خلک د ایران پر ضد راوپاروي او د ۲۰۰۷ کال تحریم او آن پر ایران باندې د احتمالي برید لپاره لاره اواره کړي.

۲۷= د همجنس بازانو (کونیانو) نړیوال فستیوال جوړول په بیت المقدس ښار کې:

دا چې همجنسبازان ډېری د فریماسونري ډلو او د شیطان پرستو ډلو غړیتوب او له بل لوري د فریماسونرۍ د لاس آله ده، نو په ۲۰۰٦ کال کې یې پوره هڅه چې په ښه شور او زوږ سره دا فستیوال تر سره کړي، خو د مسلمانانو او د کاتولیکو یهودانو له غبرګون سره مخ شول چې له امله یې دوئ مجبور شول دا فستیوال په ډېرې چوپتیا سره تېر کړي، خو په ۲۰۰۷ کال کې له ډېرو مخالفتونه سره بیا هم دا فستیوال بیا ځلې په بیت المقدس کې ترسره شو او آن د اقصیٰ جومات څېرمه یې هم ځینې کوني حرکتونه ترسره کړل.

خو ولې بیت المقدس؟

لیکوال وایي درې لامله لري:

الف: دا چې بیت القمدس درې آسماني دینونو لپاره سپېڅلی ځای دی.

ب: دا چې دا ښار د سدوم (د لوط علیه السلام د قوم ښار) ته نږدې دی.

ج: دا چې فریماسونري ته هم د ا د سلیمان درواغجن معبد جوړولو لپاره اړین دی.

ketabton.com - The Digital Library

بیا لیکوال راځي او په دې اړه بحث کوي چې اسلام کې کومې لارښوونې د فریماسونري په اړه راغلي دي، لیکوال وايي چې د اسلام مبارک دین د فریماسونري به اړه په قرآن، حدیث او د معصومو امامانو(البته د لیکوال په خوله معصومو امامانو) په ویناوؤ کې درې غټې لارښوونې کړې دي:

۱: د دجال سره د مبارزې او له هغه سره ملګرتوب نه د ډډې او د هغه له فتنو نه دځان ساتلو په اړه.

۲: دا چې فرعون یې له شیطان نه وروسته د سترطاغوت په نامه یاد کړي، که څه هم چې بخت نصر د بابل پادشاه او نمرود هم د خدایي دعوه کړې ده، اوس هم فریماسونري دفرعونیانو له سمبولو نه کار اخلي.

۳: بني اسرائیل په قرآن کې ډېر سرکښ او عهدماتونکی قوم یاد شوی ده، پیغمبر (ص) هم له بني اسرائیلو او یهودو سره ډېره سختي کول نظر د مکې مشرکینو ته، اوس هم بني اسرائیلو د فریماسونري واګې په لاس کې نیولي او فریماسونري د بني اسرائیلو.

همدا رنګه لیکوال وايي چې قرآن کریم ژمنه کړې ده چې بني اسرائیلو ته مسلمانان کلکه سزار وکوي.

## زما آند فراماسونري: دجال آخر زمان:

زما په آند دا کتاب په ډېره ښه بڼه لیکل شوی دی، د لاثل یې هم پکې راوړي دي، خو باید هېر نه کړو چې دا کتاب یو ایراني لیکلی چې نوم او نشان یې هم نه دی څرګند او هرڅوک چې دا کتاب یا مقاله مطالعه کوي، نو باید ډېر پام وکړي، چې دې ته یې پام وي ډېره هڅه پکې شوې ده، چې ایران او اهل تشیع ته یې ګټه ورسېږي.

همدا رنګه دا چې لیکوال تشیع دی، زمونږ د احنافو له لیدلوري نه ډېر عقیدتي ستونزې د ده په لیکنه کې دي، څکه دوئ خپلو امامانو ته د معصوم کلمه کاروي، خو مونږ بیا یوازې انبیاء (علیه السلام) معصوم ګڼو او آن صحابه کرام (رض) له دې کتاره باسو او یوازې یې محفوظ ګڼو، په داسې حال کې چې خپل امام او د فقې شیخ ابوحنیفه نعمان بن ثابت نه معصوم او نه محفوظ ګڼلی شو.

ketabton.com - The Digital Library

په پای کې وایم چې اوس چې زه دا لیکنه کوم نه یوازې دا چې په بیت المقدس کې بلکې په تول فلسطین کې په مسلمانانو باندې ظلم او تېری روان دی، نو دا چې یهود د ټولو مسلمانانو شریک دښمن دی، له ټولو مسلمانانو دا هیله کوم چې دپوهاوي لپاره لږترلږه یو ځل دا مقاله یا کتاب ولولي، خو زما پورته ټکو ته دې هم پام لري.

١٤٠٣/٣/٢٥

ketabton.com - The Digital Library

# امېد ناول:

دا ناول چې ښاغلي رحمت الله رحمت ليکلی په اصـل کې خپله د يو ناول برخه ده خو ده ترې ځو برخې جوړې کړي دی، چې په دې ناول کې د يوه کلي کيســـه را اخلي چې دوه خانان پکې اوسېږي، يو يې انورخان وي او بل يې زقوم خان.

انور خان بد سـړی نه وي، خو زقوم خان ډېر بد سـړی وي، يوه ورځ زقوم خان خپل کســان او وراره لنډک د انور خان وژلو ته لېږي، چې بيا هلته لنډک او ملګري يې چرس وهي او بيا د انور خان پرځای د زقوم خان ورور (د لنډک پلار) او خوريی يې وژني، خو زقوم خان د اتور د انور خان پر زوی محبت خان باندې لړ وي، چې له امله يې محبت خان بندخونې ته ځي، کله چې انورخان خپل زوی راخلاص کړي، نو بيا هلک د شـــپې د زقوم د لور غوټۍ ليدو ته ورشـــي، خو کوم غريب زورۀنکی (غريب آزار) هلته اور واچوي او دوئ ليده ډېر لنډ تېر شي.

محبت خان چې کله کورته راشي نو لومړی خوب نه ورځي او بيا چې خوب ورشي، نو پاد شاه شـي او هلته ورته وزيران ور پېژني، بيا خبر ورته راشـي چې د دوئ په کلي کې اورلګېدلی دی، نو دفاع وزير راوغواړي، چې د ده دا ناره د ده ملګری هم واوري، ســبا چې خلک راغلي وي، چې له زندان د راوتو مبارکي ورکړي، نو د ده پام نه وي او پياله چپه کړي، ځکه خو يې پلار د ده ماما شاولي ته امر وکړي چې بايد دی ډاکټر ته بوځي.

همدا وي چې محبت خان، شـاولي ماما (د محبت خان ماما) او يوسف د ښار پر لور لاړ شي، هلته په ښار کې شاولي ماما له ګاډيوان سره په نښته واوړي، چې له دې کار سره آس وترهېږي او بيا له دې آس سره نور آسونه، بس ښار په بده ورځ ککړ شي.

ځکه خو دربواړه د کلي درمتلون ته راشي، هلته لومړی د شاه ولي ماما په ټپونو پټۍ کېږدي او بيا يوسف محبت ته د تقويې درملونه واخلي او کلي ته راشي.

## زما آند د امېد ناول په اړه :

زما په آند ناول ښه ناول دی، داستان يې په زړه پورې دی، ښه تلوسه لري، د کلي بدبختيانې پکې په ډېر ښــه ډول بيان شـوې دي، خو بايد ووايم چې د ليکوال دا ټوټه ټوټه خپرولو خوند رانه کړ.

۱٤۰۳/۳/۱۳

ketabton.com - The Digital Library

## ارگ یا مرگ:

دا کتاب د اجمل اټک یوسفزي محاوروي داستان چې پکې د کورنۍ جګړې لامل او تګلاره راخیستې ده، د مثال په ډول د جګړې یو لوری په خپلې سیمې باندې راکټونه اوروي او بیا یې په بل لوري اړوي، یو لوری په خپله سیمه کې غلا، لوټ، تالان او تېری کوي او بیا یې په بل لوري پورې تړي.

## زما آند د ارګ یا مرګ محاوروي کتاب په اړه:

که زما آند پوښتئ نو باید ووایم چې زما په دې خوش نه شو چې پوره داستاني جوړښت نه لري او په بدل کې تر ډېره محاوروي جوړښت لري.

۱۴۰۳/۳/۱۵

ketabton.com - The Digital Library

# خوابښې اینګور ناول:

دا ناول چې ښاغلي محمد ابراهیم شبنم صاحب لیکلی، د یوې خانخېلې کورنۍ کیسه یې پکې راخیستې ده چې یوه خوابښې وي، دو یې ننګندې او د دوه د هغو مېړونه، خوابښې په توله کیسه د مور ابۍ په نامه یاده شوې ده، نو زه یې هم په دې نام سره یادوم، مور آبۍ او کشره ننګور یې نګهت په مشره ننګور یعنې ګلون باندې ډېر ظلم کوي، یو وخت د ګلون لور تسنیم پیدا شي، خو مور آبۍ ګلون د دې لپاره ډېره سپکه سپوره کړي، چې ولې یې لور راوړې ده، ډېره یې ډبوي او بیا یې مېړه اشرف ته هم ډېرې ګیلې وکړي، چې هغه هم پاڅېږي او خپله مېرمن ښه د زړه د اخلاصه وډبوي، بیا چې کله اصغر خان د اشرف خان ورور خبر شي نو ډېر خفه شي.

کله چې بیا د تسنیم څلوېښتې شي، نو په نه خبره کشره اینګور او خوابښې ګلون وډبوي او په دې انډوخر کې تسنیم ویالې ته ولوېږي او مړه شي، نګهت هم له کوره وتښتي، کله چې اصغر خان خبر شي، نو لومړی تسنیم خښه کړي او بیا په خپلې مېرمن نګهت پسې ورشي، بل لوري ته چې کله اشرف راشي او مور یې په خپلو شیطانیو ښه وپړسوي، نو بیا خپله مېرمن ګلون وشړي، هلته نګهت خپل ورور پړسولی وي او چې څنګه اصغر خان ورشي، نو د دواړو تر منځ شخړه رامنځ ته شي او بیا نه یوازې دا چې نګهت کونډه شي، بلکې ورور یې هم مردار شي.

قباد خان د ګلون د تره زوی، چې اوس ګلون ته خور وایي د اصغرخان له مرګه خبر شي او بیا خپله خور له ځان سره کړي او هلته جنازې لپاره ورشي، خو له هغه ځای نه ګلون بېرته نه راوړي.

یو کال تېر شي او بیا د ګلون زوی سعید پیدا شي، بل لوري ته مور ابۍ اشرف دې ته اړ کړي چې خپله وربندار نګهت په نکاح کړي، دوه کاله وروسته د نګهت زوی وحید د سنتولو په پروګرام کې سعید هم سنت کېږي.

ورځې او شپې همداسې تېرېږي، یوه ورځ د سعید ملګری سعید ته د دې بې انصافۍ راز وایي او هغه داسې وي:

چې مورابۍ خپل لېورزی د شمتني لپاره په زهرو وژلی، په دې کار کې نګهت ورسره مرسته کړې، خو ګلون به تل د هغې له لېورزي سره مرسته کوله.

ketabton.com - The Digital Library

سـعید غواړي چې له دې راز نه پرده پورته کړي، خو مور یې دې کار ته نه پرېږدي، بیا وحید د خپلو ملګرو خیري او ګلي پر متې د ګلنار په نامه یوه ډرامه ویني، د هغې د بیا لیدو لپاره له پلار نه د ډرامې او مشاعرې په نامه پیسې شکوي، خو پلار یې بیا سعید ته آن د قلم او کتاب لپاره پیسې نه ورکوي.

او کله چې سـعید د ګلنار له کیسې نه خبرېږي، نو له کور پیسې پټوي چې ګلنار ته یې ورکړي، څو کلي نه لاړه شي، خو هلته له وحید سره په جګړه اوړي او بیا وحید ځي او پلار د سعید او ګلنار خواته راولي.

اشرف هم سمدواره سعید او مور یې شړي او بیا هغوئ د قباد خان دوئ کره ځي، بل لوري ته اشرف باندې د زړه حمله (دوره) راځي او وحید یې د لاهور روغتون ته لېږي، خپله هم ګلنار ته خوشې کېږي.

سعید چې د ماما کره لاړ شي، نو هلته عذرا ویني او پرې مئین شي، عذرا هم په ده باندې مئینه شي.

دلته سعید خپل لوستونه وایي او بیا د پولیسو اکاډمۍ ته ځي او هلته وحید د پلار شتمني په ګلنار وهي، بیا چې سعید اکاډمي خلاصېدو ته نږدې کړي، نو قباد خان هم ورته خپله لور عذرا ورکړي او چې سعید ښېرته راشي، نو د دوئ مشر یې وحید ته ور ولېږي او دی هم په ډېره مینه ورشي او هغه ته نصیحت پیل کړي، خو وحید یې ښه سپک کړي او بیا یې ورټي.

څه موده وروسته د عذرا وروراکرام راشي، هغه په لاهور کې د زړه ناروغانو برخه کې دنده اخیستې وي او کله چې سعید او مور یې له دې نه خبر شي، نو دې ته یې اړ کړي چې هلته به د اشرف ډېره پاملرنه کوي.

وحید چې د پلار ټوله شتمني خلاصه کړي، نو چې ګلنار ته ورشي، هغه یې د پیسو نه لرلو له امله ورټي، ملګرو خو لا د مخه پرېښې وي، نو غلاوؤ ته شروع وکړي، بل لوري ته سعید ته دا دنده ورکول کېږي چې باید وحید ونیسي، هغه هم د نکاح په شپه یې.

وحید غلا کوي او ګنار په خوا ورځي، بل لوري ته سعید له هغو خلکو چې غلا ترې شوې وي، د ګلنار نوم اوري او هغې خواته ورځي، وحید ګلنار وژني او د تېښتې پر مهال سعید چې د وحید نیولو لپاره راغلی وي، هم ولي او بیا تېښتي.

ketabton.com - The Digital Library

هلته اکرام اشــرف ته د سـعید او وحید په اړه هرڅه ویلي وي، دلته بیا وحید د ګلنار تر وژلو وروسته د توبې هڅه کوي او د سعید خواته راځي، نو سعید دا هڅه کوي چې دی ونیسي، څکه خو وحید هم بېرته تښتي او خپل کلي ته ځي، هلته ویني چې خیری او ګلی (د وحید هغه ملګري چې ګلنار سره یې مخ کړی وؤ) د ده په اړه بدې ردې وایي، نو هغوئ هم له تېغه تېروي.

بله ورځ سعید او اشرف د کور په خوا خوځېږي او بل لوري ته وحید هم هلته ورځي، خپله نیا وژني او مور یې له ډېرې وېرې نه ځان له کړکۍ غورځوي او مردارېږي، سـعید هم خپل ورور وحید د تېښتې پر مهال او بیا وحید د پولیسو په مأموریت کې هغه وخت مري چې له سعید نه یې نه یوازې ښښنه غوښـتې وي، بلکې هغه نه یې دا هم غوښـتي وي چې له ګلون نه به هم ده ته بخښنه غواړي، تر دې وروسته اشرف راځي او له هرڅه خبرېږي.

بیا نو اشرف د قباد خان دوئ په کلي کې او له سعید، ګلون او عذرا سره خوښ ژوند تېروي.

## زما آند د خوابښې اینګور ناول په اړه:

زما په آند دا ناول ښه کیسه او تلوسه لري، ډېر عبرتونه هم پکې شته، خو بل پلو یې کیسه ډېر واقعي نه ده او منفي ټکي هم ډېر دي پکې، لکه د مثال په ډول سـعید له یوې خوا ډېر ښه هلک را پېژني، خو له بلې خوا له کور نه غلا کوي چې ګلنار وشـړي، له یوې خوا اشــرف خان خپله مېرمنه دوه ځلې له کوره شــړي، بل لوري ته هغه بېرته ورسـره یو ځای کېږي، اشـرف خان چې دومره ظلمونه کوي او هرڅه کوي د غیرت په نامه یې کوي، خو وروسـته چې د خُسر په کلي کې اوسېږي، دا ورته بېغیرتي نه ښکاري او همداسې نور...

په پای کې ویلی شو، چې دا ناول ښه ناول دی او په یو ځل لوستو ارزي.

۱۴۰۳/۳/۲۲

ketabton.com - The Digital Library

# مونږ او توحيد

دا کتاب چې ښاغلي بشيراحمد (لودهي) ليکلی، ښاغلي صلاح الدين يوسف بيا کتلی او ښاغلي قريب الرحمٰن (سعيد) يې پښتو ژباړه کړې ده، لومړی يې پکې د هندوانو عقيده را اخيستې ده، دا چې هندوان هم په يوه خدای باور لري، دا مني چې زمکې او آسمانونه او هرڅه يوه خدای او خالق پيدا کړي دي، خو دا بتان پکې څوک دي؟

ليکوال وايي چې هندان د هغو کسانو مجسمې جوړې کړې دي چې دوئ يې د اصلي خدای دربار ته نږدې ګڼي، ځکه خو د شفاعت او وسيلې پر بنا د هغوئ عبادت کوي، د هغوئ په نامه نذر او صدقې ورکوي.

بيا ليکوال راځي او د مکې د مشرکينو په اړه وايي چې هغوئ هم لات، منات او نور خدايان نه ګڼل، بلکې د الله تعالیٰ دوستان يې ګڼل، هغوئ هم لکه د هندوانو د شفاعت او وسيلې پر بنسټ د هغوئ عبادت کاوه، نذر او صدقې يې د هغوئ په نامه کولې او په دې کې تر هغه ځايه تللي ول چې آن هغوئ ته يې خدايان ويل.

ليکوال په دې اړه چې آيا د مکې مشرکينو رب الاعلیٰ پېژنده او که نه ويلي چې بې شکه چې پېژنده يې او بيا يې ډېر د قرآن آياتونه د ثبوت په اړه راوړې.

بيا يې د نوح (عليه السلام) قوم ته اشاره کړې چې هغوئ هم د خپلو بزرګانو عبادت په همدې بنسټ او مقصود کاوه.

بيا ليکوال بله موضوع را اخيستې ده چې آيا دا بزرګان او وليان کوم واک هم لري او که نه، آيا دا واک لري چې خدای يو څه ونه غواړي، دی دې چاته ورکړي او که نه ((ليکوال ځواب پرېږدي د مثال لوري ته ځي)).

کله چې نوع (عليه السلام) بېړۍ جوړه کړه او عذاب راغی او نوح (عليه السلام) د زوی ژغورل وغوښتل، نو څه وشول.

کله چې ايوب (عليه السلام) هرڅه له لاسه ورکړل، بيا يې څه په وسه ول؟

ketabton.com - The Digital Library

کله چې حضـرت موسـی علیه السـلام د فرعون خواته ورغی او په مبارزه کې د فرعون جادو ګرانو خپلې لکړې او پړي واچول، سـره له دې چې له موسـیٰ (علیه السـلام) سـره لکړه وه ولې ووېرېده؟

کله چې د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم زوی وفات کېده، نو د هغه مبارک په سـترګو کې اوښـکې هم راغلې، خو هېڅ یې له وسـه ونه شـول، ولې پیغمبر صـلی الله علیه وسـلم هغه وخت معجزې وړاندې نه کړې چې کفارو به ترې غوښتې.

لیکوال وایي ځکه چې هرڅه د رب الاعلیٰ په لاس کې دي آن د پیغمبرانو معجزې او د ولیانو کرامات.

نو زمونږ له هندوانو، د نوح له قوم او د مکې له مشـرکینو سـره څه توپیر ده چې موږ هم د قبرونو عبادت کوؤ، د هغوئ په نامه نذر کوؤ او یا د قبرونو او زیارتونو خاورې څټو، جنډې ښکلوؤ او داسې نور...

بیا لیکوال د دې کارونو په اړه ثبوت وړاندې کوي چې دا کارونه مکمل شـرک دي او ثبوت هم د قرآن الکریم مبارک آیتونه وړاندې کوي.

تر دې وروسـته لیکوال راځي او دا وایي چې د دې اعمالو ګټه نه شـته او نتیجه یې هم جهنم ده.

## زما آند د مونږ او توحید کتاب په اړه:

زما په آند که څه هم کتاب د مقام په ښه لیکل شوی دی، خو ډېر کره او صحي معلومات یې را اخیستې دي او جالبه یې دا ده چې یوازې یې په قرآنکریم ثابت کړي دي.

د زیارت، قبر، ولي او پیر عبادت په ټولو څلورو فقهو کې حرام و شرک ګڼل شوي دي، خو په حنفي فقه کې ډېر دې کار نه منع راغلې ده، خو بدبختانه چې سـره له دې خبرې بیا تر ټولو ډېر حنفیان په دې بدبختۍ کې اخته دي، لکه څرنګه چې امام ابوحنیفه علماء له بېکاره کېناسـتو او د امامت له معاش او تنخوا نه منع کړ، خو زموږ ملایان بیا نه یوازې دا چې د ښه شتمن توب په حال کې د امام ابوحنیفه د دې قول خلاف عمل کوي، بلکې صـدقې او خیراتونه او نورهم د خپل ځان بولي او بیا ځان هم د پیغمبر وارث هم بولي په داسـې حال کې چې هېڅ کله هم پیغمبر صلی الله علیه و سلم صدقات نه دي اخیستي، نو همدا سې د دې لاري عادي لارویان بیا دومره

ketabton.com - The Digital Library

په زيارتونو، قبر، پير او دمګرو پورې نښــتې دي چې نه يوازې خدای يې له ياده وتی، بلکې د غيرمقلدينو ګوتې يې هم د امام ابوحنيفه رحمه الله لارې ته اړولې دي.

بيا چې ته پښتـانه او هغه خلک چې هندوانو ته نږدې دي وګورې نو خدايه توبې مې دې وي، يو به يې وايي چې په فلاني زيارت کې شل او شوت رغېږي او بل به وايي چې فلاني زيارت کې لېوني په سد کېږي.

۱۴۰۳/۳/۲۳

ketabton.com - The Digital Library

# اسلام او موسيقي

دا کتاب ښاغلي قاضي محمدحسن حقيار ليکلی چې د سندرو، ساز او نڅا او اتڼ په حکم يې پکې بحث کړی دی، حقيار صـــاحب لومړی د هغې ډلې دين پوهانو ليدلوری او دلائل را اخيســـتي دي چې ســـندرې ســـاز او نڅا حرامه يادوي او بيا هغه دلائل را اخلي چې دا پوهان پرې استدلال کوي او حقيار صاحب هغه احاديث ضعيف او ځينې يې آن ښخي حديث نه بولي.

بيا د هغو پوهانو ليدلوری او استدلال را اخلي چې سندرې او ساز روا بولي، تر هغه وروسته د هغوئ دلائل هم را اخلي چې دا پوهان پرې اســتدلال کوي او دا احاديث ځينې کره او ځينې ښــه بولي.

تر دې وروســتـه حقيار صــاحب راځي د ســندرو او ســاز د محدوديت په اړه غږېږي، دا چې د ســـندرې په شـــعر کې کومو تکو ته پام وشـــي دا چې له هغو ســـازونو نه بايد ډډه وشـــي چې د شـرابيانو او کونيانو خاصــه دي، يا دا چې په داســې محافلو کې چې د ښـځو او سـړيو اختلاط (يوځای والی) راځي، يا په کې شراب او نورو شيانو سره وي، هغه موسيقي حرامه ده.

يا دا چې ښځې سړيو ته سندرې وايي يا يې ثبت کېږي حرام کار دی، يا دا چې د پيسو لپاره سندرې ويل حرام دي.

بيا راځي او د ســاز او ســندرو تاريخي شــاليد ګوري او دا ادعا کوي چې حضــرت داؤد (ع) به هم د ساز يوه آله غږوله، بل دا چې حضرت داؤد (ع) او حضرت سليمان (ع) د ساز ځانګړی ټيم لاره، بيا مسلمان خليفه ګان ښيي چې د موسيقۍ ځانګړی ټيم يې لاره.

بيا راځي او د موسيقي د ګټو په اړه غږېږي، دا وايي چې نه يوازې چې که موسيقي سمه وي ماغزه آراموي، بلکه ډېرو مرضونو ته درملنه هم پرې کېدای شي، تر دې وروسته راځي او وايي چې اتڼ او نڅا د انســان فطري جوړښت برخه ده او بايد چې حرامه نه اوســي، ځکه چې د پيغمبر (ص) پر وړاندې دا او يا دې ته مشابع حرکات ترسره شوي او هغه (ص) يې منع نه ده کړې، همدا رنګه صوفيان چې په وجد کې راشي يو ډول خاص اتڼ کوي.

## زما آند د اسلام او موسيقي کتاب په اړه:

زه خپله دومره علم نه لرم چې په دې اړه څه ووايم، خو دومره ويلی شم که څوک سندرې وايي او يا يې اوري بايد چې داســې نه وي چې نر ښــځو ته يا ښــځو نرانو ته ويلي وي، يا يې واوري،

ketabton.com - The Digital Library

همدا رنګه باید د سندرې شعر کې ډېره پاملرنه وشي، چې نه یوازې باید انسان له دین نه بې لارې نه کړي او همدا رنګه شهوت راپورته نه کړي. بل دا چې باید د پیسو لپاره او په پیسو نه وي، اتڼ او نڅا هم همدا رنګه.

بل باید دا ووایم که څېرې د حقیار صاحب نظر ته وګور او همدا رنګه د مرحوم یوسف قرضاوي صاحب نظر چې سندرې په مشروط ډول مباح بولي، نو باید ووایم چې د مباح سندرو د نه شتون له امله حرامې سندرې رواج شوې دی، همدا رنګه د فساد له امله او د حرامو سندرو دود له امله هم ډېری علما ټولې سندرې حرامې کړي او یا یې بللي دي.

۱۴۰۳/٤/٥

ketabton.com - The Digital Library

# په اسلام کې د ږيرې حکم

دا کتاب چې ښاغلي نعمت الله پټانزي ژباړلی ده، دا کتاب په اصل کې مولانا اشرف علي تهانوي (رح) ښودلی ده، په دې کتاب کې د ږيرې په اړه بحث شوی ده او هغه هم ښېخې ډېر، هغه حديث شريف يې هم را اخيستي ده چې رسول الله صلی الله علی وسلم پکې د ږيرې پر اوږدولو او د برېتو پر لنډو تاکيد کړی دی، همدا رنګه يې هغه آيت هم را اخيستی ده، چې پکې د حضرت هارون (ع) قول چې اې د مور زويه زما تر ويښتو او ږيرې مه نيسه هم راوړی دی او ويلي يې دي چې د ګيرې خريل او لنډول حرام دي او څوک چې ږيره خريي هغه فاسق ده.

بيا راځي او د ږيرې پرېښودو ډېرې ګټې هم بيانوي او تر هغه وروسته په کتاب کې د ژباړن پېژاندنه او آثار راغلي دي.

## زما آند د په اسلام کې د ږيرې حکم کتاب په اړه:

زما په آند دا کتاب يوه غوره کتاب دی، چې د دوه لويو سنتو د ژوندي کېدو هڅه پکې شوې ده، بل دا چې د هغو سنتو دنيايي ګټې هم پکې بيان شوي دي، خو فکر کوم چې په يوه ځای کې تېروتی او هغه دا چې ږيره پرېښودل (د ږيرې اوږدول) سنت دي او که ډېره هڅه پسې وکړو، نو ايله يې واجب کړو، نو څومره چې زه معلومات لرم د فرايضو په ترک سړی فاسق شي جوړېدای، نه د واجباتو او سنتو.

نو په ټوله کې ويل شو چې ښه کتاب ده او هر مسلمان يې بايد يو ځل هرو مرو مطالعه کړي.

۱٤۰۳/٤/۸

ketabton.com - The Digital Library

# لطفاً مه ساده کېږئ!

دا کتاب د اروابنا برخې کتاب دی چې ښاغلي مصطفیٰ صفا لیکلی ده، لیکوال ویلي دي چې ده دا کتاب تر ډېره له ((لطفاً گوسفند نباشید)) کتاب څخه را اخیستی او دا چې هغه کتاب زمونږ له دیني او کلتوري اړخونو سره په ټکر کې وؤ، نو ما ددې پر ځای چې هغه کتاب راوژباړم، دا مې ښه وګڼله چې له هغه او نورو کتابونو نه یو بل کتاب جوړ کړم.

ښاغلي صفا په دې کتاب کې د ځان خبري، ځان پېژاندنې، پر ځان باور او دا سې نورو مهمو موضوعاتو باندې خبرې کړې دي او په مکمله بڼه یې بیان کړي دي.

## زما آند د لطفاً مه ساده کېږئ! کتاب په اړه:

دا کتاب د بریا په برخه کې پوره لامل کېدای شي، ځکه له یوې خوا دا کتاب په ښه پښتو لیکل شوی دی او بل دا چې ډېر ښه موضوعات یې پکې را اخیستي دي، نو هیله ده چې یو ځل یې تاسو هم ولولئ.

۱٤۰۳/٤/۸

ketabton.com - The Digital Library

نارنج کلا ناول:

دا ناول چې ښاغلي نیک محمد بارک موسوي لیکلی، پکې یې د

ketabton.com - The Digital Library

# زمونږ نیمګړې مینه ناول

دا ناول چې ښاغلي نېک محمد بارک صاحب لیکلی، په کې یې د بارک په نامه دیوه ځوان کیسه را اخیستې ده، چې وفات سوی وي او زامن یې له خپلې مور سره د رخصتۍ او تفریح لپاره آمریکا ته ځي، هلته په یوه دوکان د خپل پلار انځور ویني او بیا راځي دا خبره خپلې مور او نورو ورڼو ته کوي او بیا ټول هلته ورځي او ورته وایي چې دا زمونږ د پلار انځور دی، نو ځکه ساتونکي هم د دوکان (هټۍ) څښتنه عالیه راغواړي، عالیه هم راځي او د بارک مېرمن فاطمې ته غېږ ورکوي، البته مخکې ترغېږې فاطمه بې هوښه کېږي او بیا عالیه دوئ ټول خپل کور ته بیایي، هلته د بارک زامن د دوئ د خپلوۍ راز له عالیې نه پوښتي او بیا نو عالیه ورته ټوله کیسه له سره تر پایه بیانوي، دا چې:

عالیې او بارک په یوه ښوونځي کې دنده لرله، عالیه پر بارک مئینه شوه، بارک ته یې خطونه لېږل پیل کړل او بیا یې بارک هم په ځان باندې مئین کړ، تر هغه وروسته بارک خپله مور ورلېږي، خو د عالیې مور ورته وایي چې زه مې لور خپلوکې ورکوم، بیا د دوئ د مینې په کیسې باندې د عالیې خور خبرېږي، هغه هم خپلې مور ته حال وایي، بیا نو ځکه عالیه له ښوونځي راګرځول کېږي او تر هغه وروسته عالیه بارک ته دوکه ورکوي او د خپلې ترور له زوی سره واده کوي.

بارک هم خپل رګ وهي او بیا یې فاطمه روغتون ته رسوي، هلته فاطمه خبرېږي چې بارک د یوه لوی تجار زوی دی، تر هغه وروسته چې فاطمې پسې خلک خبرې پېل کړي، نو بارک واده ورسره کوي.

بل لوري ته څه موده وروسته عالیه چې خاوند یې څهار عیب شرعي وي او ډېر ظلم پرې کوي کونډه کېږي او دپلار کور ته راځي، هلته د بارک د تجاري برياؤ نه خبرېږي او د هغه خواته ورځي، نو کله چې یې کورته ورشي، په دې پوهېږي چې فاطمې له بارک سره واده کړی، یو زوی یې پیدا شوی او اوس یې مېلمستیا پرې جوړه کړې ده، نو ځکه خو عالیه بېرته وځي، خو دستمال یې ترې لوېږي او بارک یې مومي، بارک د دستمال له ډیزاین او بوی نه په دې پوهېږي چې د عالیې دستمال دی، نو ځکه یې پلټنه کې، خو عالیه د دې لپاره چې د فاطمې ژوند خراب نه شي، ځان ترې پټوي او بیا آمریکا ته ځي، څه موده هلته له خپلې خور او اوښې سره ژوند کوي، بیا یې اوښی او خور په ترافیکي پېښه کې مري او هټۍ یې دې ته پاتې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما آند د زمونږ نیمګړې مینه ناول په اړه:

زما په آند ناول په ډېره ساده کندهارۍ لهجه لیکل شوی، ښه کیسه او تلوسه لري، خو یو څه ستونزې هم لري، له ډېرو یې تېرېږم، بس دا څو غټې به دریادې کړم.

۱: دا ناول نږدې په ټوله کې له عالیې روایت شوی، خو بیا ګډوډې پکې راغلې او داسې ښکاري لکه دریم کس چې روایت کړی وي، لکه د مثال په ډول «عالیې بارک ته خط ولیکی» په داسې حال چې د ناول سر ته پاملرنه وشي نو باید داسې وای «ما بارک ته خط ولیکه».

۲: زه نه پوهېږم چې ولې د ختیځ خلک له ښوونځیو نه رنډۍ خانې جوړوي او د جنوب لوېدیځ خلک یې د مینې مرکز، یا د سیاست مرکز؟

۳: دا چې بارک او عالیې ماشونو ته زده کړه ورکوله او که یې په هغوئ باندې لیکونه لېږل رالېږل، بیا د ښوونځي مدیر په دې خبره هېڅ اعتراض نه کاوه؟

٤: دا چې هر ښوونځي د شپې ساتونکی لري او ښوونځي له دننه څخه تړل کېږي، خو که فرضاً کوم ښوونځی یې ونه لري، بیا یوه چپړاسي ته دنده سپارل کېږي، خو دې ناول کې مدیر فاطمې ښوونکې ته دا کار سپاري.

٥: عالیه چې ګوري، فاطمه بارک ته واده شوې ده، نو ولې په دې پلمه تېښتي چې نه غواړي د فاطمې ژوند خراب شي؟ په اسلام کې خو څلور ښځې یوه نارینه ته جواز لري، بل لوري ته بارک هم ډېر ښه ځوان وي، چې باید عالیې په راتګ یې نور هم ژوند ښه شوی وای.

٦: دا چې نه پوهېږم بارک صاحب ولې له نجونو څخه دومره کرکه لري، چې باید د ده په هر ناول کې نجونې بې وفا وي، لکه په دې ناول کې، په «حیثیت ناول» کې او په «نارنج کلا ناول» کې.

په پای کې دا وایم چې زما انتقادونه د لیکوال د پیاوړتیا لپاره دي، کنه ناول ډېر ښکلی ده او هر څوک چې ولولي هرومرو خوند ورکوي.

۱٤۰۳/٥/۲٥

ketabton.com - The Digital Library

# پرواز قنقوس فارسي رُمان (ناول)

دا رُمان چې آغلې شمیم حسیني لیکلی ده، د مریم په نامه د یوې نجلۍ کیسه یې پکې را اخیستې ده.

مریم د یوه رخت پلورونکي لور وي، چې یو ورور لري د مهدي په نامه، خپله په پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي زدکړیاله وي، چې دوه ملګرې یې د ایران او سیمین په نامه هم په ټولګي کې وي، بل لوري ته یې له پلار حاجي پناهي سره د سهراب په نامه یو شاګرد وي چې په مریم باندې مئین وي، څو څو ځلې یې دا خبره کړې هم وي، خو مریم څو څو ځلې دا خبره هسې بې ګټې ګڼلې وي.

بیا یوه ورځ د حاجي پناهي یو ملګری د حاجي یونس په نامه تهران ته راځي او مریم هم ورسره مخامخ کېږي، هم له ده سره او هم یې له زوی امیر سره، یوه ورځ مریم، د خپل ورور اړیکه له خپلې ملګرې سیمین سره جوړوي، تر هغه وروسته یوه ورځ په پوهنتون کې ښوونکی مریم ته وایي:

زما یوه خور د شیراز په یوه ښوونځي کې ښوونکې ده، نو هغه څه موده نه راهیسې ناروغه شوې او تهران ته راځي، له تانه غواړم چې ته هلته ولاړه شې او پر ځای یې درس ورکړې، زه به د پوهنتون مشرتابه او هم له حاجي پناهي سره غږېږم.

له دې خبرې یې د مریم کورنۍ خبره شي، نو مهدي راضي کېږي، بیا خپل پلار سره خبرې کوي او هغه هم رضا کوي، خو مور یې نه رضا کېږي، پلار یې هم دا شرط ورته ږدي چې ته به په شیراز کې د حاجي یونس په کور کې اوسېږې.

خبره همداسې مخ ته ځي، مریم شیراز ته ځي د حاجي یونس په کور کې دېره کېږي او خپل درس ورکوي، په کومه ورځ چې په لومړي ځل بېرته تهران ته ستنېږي، په دې پوهېږي چې په حاجي یونس باندې مئینه شوې ده او بیا په دې خبره د هغې ملګرې ایران او پلار یې حاجي پناهي هم خبرېږي او مریم ته وایي:

لورې! زه پوهېږم چې ته مئینه شوې یې، زه نه وایم چې ولې او څنګه، خو دا درته وایم چې پایله یې ښه نه ده، ځکه چې ته اړ یې چې یوه دنیا خبرې پر سر واخلې، پېغورونه په غاړه واخلې او ډېر نور هم په غاړه واخلې او دا هم درته وایم چې که چېرې ته دا مینه ومنې او یا له دې مینې تېره شې، په دواړو حالاتو کې به ته سوځې، خو یو توپیر به هرو مرو لري او هغه دا چې که ته دا

ketabton.com - The Digital Library

مینه ومنې، نو تر ســوځېدو وروســته ایرې کېږي، خو که ترې تېره شــې، نو بیا به وســوځې خو بېرته به رازرغونه شې او دا موقع درکوم چې بېرته شېراز ته ولاړه شې او خپله پرېکړه وکړې.

نو مریم هم وروســته تر دې چې وروړ یې له ســیمین ســره کوژده وکړي، بېرته شــېراز ته ځي، هلته لومړی ځان پردې پوهوي چې آیا حاجي یونس هم له دې سره مینه لري او که نه، وروسته تر دې چې له حاجي یونس سره خبرې کوي، نو هغه ورته وایي چې:

مریم! هو زه هم له تاسره مینه لرم، خو دا ډېر بد کار ده، له یوه لوري نه زه او ته د سن له اړخه ډېر توپیر لرو چې له امله یې زه او ته جوړښت نه شو کولای، ځکه د دواړو غوښتنې او لیدلوري ډېر لرې دی، بل لوري ته ســتا پلار ته ماته امانت رالېږلې یې اوس زه پر تا مئین شــوم، نو زه دا کار نه شم کولای.

مریم ورته وایي چې زه په هر څه پوهېږم او هرڅه منم، خیر دی چې زه ســتا تر زوی هم کوچنۍ یم، ته زما تر ماشومامتوبه را تېرېږه، زه به هم ستا د مشرتوب درناوی کوم.

څه موده وروسته د مریم مور او پلار هم شېراز ته ځي او بیا هلته وي چې پلار یې له خپلې لور او یونس دواړو نه حال اخلي او چې ګوري دواړه واده ته چمتو دي، نو په دې اړه فکر کوي چې هغه وخت د مریم مور هم خبرېږي، ځکه خو لوی جنجال او شورما شور جوړي او همدارنګه مریم او یونس دواړه ځنډېږي.

بیا مریم د یونس زوی امیرهم له دې مینې خبروي، تر هغه وروســته د مریم او یونس نکاح په ډېر ساده ډول تر سره کېږي، تر نکاح وروسته د مریم ژوند په لومړیو کې ښه وي، بیا یوه ورځ د هغې لېور یا سر راځي له دې او خپل وروړ سره خبرې کوي او بیا یوه ورځ مریم خبرېږي چې لاړې یې بار شــوې ده، نو دا خبره خپل خاوند یونس ته کوي، هغه هم یو څه خوشــحالېږي، څه موده وروسته د مریم مور او پلار د هغې لیدو ته راځي او څه موده یې مور ورسره وي، تر هغه وروسته چې بېرته حرکت کوي چې شــېراز ته ولاړ شــي، پر لاره کې ترافیکي پېښــه کوي او دواړه وژل کېږي، تر هغه وروســته مریم ماتم پیلوي په میاشــتو میاشــتو د ځان خیال نه ساتي او تور کالي اغوندي، بیا یې دې ته پام کېږي چې خاوند یې ډېر ترې بې پروا شوی، دا خبره د ګاوندی ښځې ته کوي، نو هغه یې په ځواب کې وایي:

ته یو ځل ځان ته وګوره څه حال دې را اخیستی ده، نه ځان ته پام کوې او نه دې جامو ته آفرین دې هغه سړي ته وي، زه آریشګره راولم او بیا به سبا ته هم په تا او هم په کور لړ لاس ووهو.

ketabton.com - The Digital Library

همدا اســـې کېږي، ســـبا ته آريش کره راځي کور او مريم دواړه ښـــکلې کېږي، خو يونس هېڅ پاملرنه نه ورته کوي.

همدا وي چې مريم له ځان ســـره وايي له ده ســـره په واده کولو مې ځومره خپلوان او مګلري له لاســـه ورکړل، خلک رنګ رنګ پېغورونه راکوي، آن د دې ځای ګاونډيان هم راته وايي چې تا د پيســـو لپاره له يونس ســـره واده کړی، زه د ده لپاره هر کار ته چمتو يم، خو دی زما دا کوچنۍ غلطي هم نه شي زغملی.

نو همدا وي چې يونس ته وايي:

زه درنه ځمه تهران ته.

يونس يوازې دومره وايي:

اوس شپه ده سبا ته ولاړه شه.

دا خبره يې په مريم بده لګېږي، نو په هماغې شـــپې خپل ســـامان راټولوي او له کوره وځي، او بيا د هغې ګاونډۍ کره ځي، هغې ته ټوله کيســـه کوي، په ســـبا يې غواړي مخکې تر دې چې تهران ته ولاړه شـــي، يو ځل خپل کور ته سر ورښـــکاره کړي، خو ګوري چې لېور يې له هغه کوره راوځي، نو دا پرېکړه کوي وروســـته کور ته ولاړه شـــي چې يونس ونه ګوري، خو بيا يې يو څه په زړه کې تېر شي او کورته ولاړه شي، هغه وي چې وګوري يونس په وينو کې لت پت پروت دی، دا ورشـــي د يونس تر څنګ کښـــېني او ګاونډۍ يې خلک را خبر کړي، بيا په همدې حالت کې ناروغې پرې راشي او چې کله په روغتون کې په سد راشـــي، نو لور يې پيدا شـــوې وي، امير يې لور ورکړي او له شيرازه يې تهران ته رخصت کړي.

هلته د پلار کره ولاړه شـــي، دا چې په کور کې هيڅوک نه وي، نو وېرېږي، خو کله کله يې سهراب ليدو ته راځي.

بيا څه موده وروسته ورته امير د هغې د لور پېژندپاڼه او يو ليک راوړي او ورته وايي:

ما درته شـــيراز کې هم ويلي ول چې تره مې ياســـر د شـــتمنۍ لپاره خپل ورور وواژه، ته خو لاپردۍ لور يې په تا خو هېڅ رحم نه کوي، نو ته به شېراز ته نه ځې.

بيا امير د زده کړو لپاره آمريکا ته ځي او مريم هم په تهران کې خپلو پاتې درســـونو ته دوام ورکوي، خو ســـهراب يې ډېر ليدو ته راځي او دا کار د هغه په مېرمن چې د مريم ملګرې ايران وي، ښه نه لګېږي.

ketabton.com - The Digital Library

ایران یو ځلې راشي او له مریم سره د دې کار له امله لانجه هم وکړي.

بیا یو وخت د مریم د پوهنتون ښــوونکی مریم ته د واده وړاندیز وکړي چې مریم یې رد کړي، تر هغه وروسته یې ورور له بهره راشي او بیا دا خبره شي چې یاسر نیول شوی، له بل لوري نه ایران له سهراب نه طلاق واخلي او بیا مریم لومړی امیر دې ته اړکوي چې واده وکړي، تر هغه وروسته خپله له ســهراب ســره واده کوي، بیا ایران یو ماشــوم راوړي چې دا د ســهراب زوی دی، خو ســهراب دا خبره نه مني چې باید مریم طلاق کړي او دا چې ایران عادي ژوند نه شــي کولای، نو بیا اړ کېږي چې ماشوم مریم ته پرېږدي.

کلونه وروســته مریم او وړېندار یې ســیمین یوه مجله جوړوي، ســهراب او مهدي صــادراتي شــرکت جوړوي او امیر هم په یوه هوایي شــرکت کې کار کوي او بیا د مریم لور پر یوه ښــوونکي مئینېږي، خو مریم ورته د خپل ژوند کیسه کوي.

## زما آند د پرواز قنقوس فارسي رُمان (ناول) په اړه:

دا ناول ښــه کیســه لري، په ډېره ښــه بڼه لیکل شــوی ده او همدارنګه ښــه تلوســه هم لري، ډېر مثبت ټکي لکه د حاجي یونس هغه ځان ســاتل له مینې نه او نور هم لري، خو یو څو منفي ټکي یا نیمګړتیاوې هم لري لکه:

د یوې پېغلې نجلۍ په زاړه سړي باندې مئینېدل او همدا رنګه د هغه هم پر دې.

بیا د سهراب او ایران طلاق ولې طلاق؟

په اسلام کې چې یو یو سړی د څلورو ښځو حق لري، خو د همداسې حالاتو لپاره دی کنه.

۱۴۰۳/۰۹/۰۳

ketabton.com - The Digital Library

# فصل شقایق ها فارسي رمان (ناول)

دا ایراني رمان یا ناول چې آغلې فاطمه قاسـمي اسـکندري (هورزاد) لیکلی پکې یې د څو کسـانو د مینې کیسـې را اخیسـتې دي، برفین چې د آصف په نامه مشـهوره شـوي سړې لوري وي، هغه په کوچنیتوب کې پر سړک پریښې وي، بیا حاجي رسول موندلې وي، خو برفین راځي او د آراز په نامه په یوه هلک باندې مئینېږي، خو آراز دوکه ورسـره کوي او هغه مهال چې اراز غواړي د برفین عزت لوټ کړي، د برفین ورور یعنې د حاجي رسول زوی سجاد راځي او برفین ژغوري، بیا برفین د خپل ژوند په اصـلي او پټې کیسـې خبرېږي او هغه دا چې دا د آصـف «چې لنده موده مخکې له حاجي رسـول سـره ډېر ور شـوی ده» لور ده. نو آصـف یې هم آراز ته بیایي او هغه ورته هرڅه وایي:

دا چې یوازې له خپلې مېرمن پونې سره مینه لري او دا چې هغه اوس د برفین ماشومه ګڼي او دا چې هغه دوکه ورکړې او دا چې څنګه درواغ خوندور دي او رېښتیا ترخه.

برفین له حاجي رسول او خپلې نورې کورنۍ سره ژوند ته دوام ورکوي او بیا آصف ترېنه ځي.

بل لوري ته سجاد د مارال په نامه یوې نجلۍ سره مینه کوي، هغه هم ډېره مینه ورسره کوي، خو دا چې سجاد د یوې مالدارې کورنۍ زوي وي او مارال د یوې خوارې کورنۍ لور، نو پلاریې نه غواړي چې مارال خپله ننګور جوړه کړي، ځکه هغه د یوې غریبې کورنۍ لور ده او د دوئ کورنۍ له شان سره سر نه خوري، نو د خپل یوه ملګري لور آوین ورته کوي، که څه هم سجاد په مارال مئین وي، آوین پر منصـور، خو بیا هم د پلرونو د پرېکړې تعمیل لپاره سـجاد مارال د غریبۍ له امله ننګوي او آوین مصـنور او خپله مینه په نیمه لار پرېږدي، همدا وي چې مارال او منصـور په یوه لوري کې د غم پر ټغر کېني او سـجاد او آوین په بل لوري کې، یوه ورځ آوین منصـور ته د خدای په اماني په نیت ورځي او سـجاد مارال ته، آوین چې له منصـور سـره کومه محاوره کوي، د دې لامل کېږي چې یوازې دواړه تر وروسـتي حده خپګان ته ورسـېږي، خو بل لوري ته سـجاد په دې نه توانېږي چې مارال وګوري، بلکې د کور ور د مارال خور مرسـیده پرانیزي او سـجاد اړ کېږي خپلې وروسـتۍ خبرې هغې ته وکړي، چې مارال یې د وره له څنګه اوري او بیا هغه وي چې کله سـجاد د هغوئ له کوڅې ولاړ شـي، نو مارال له خور سـره تر یو څه خبرو وروسته لکه لېونۍ روانه شي، چې بیا یې موټر ووهي او له فاني نړۍ نه ورته د ابدي نړۍ ټیکټ واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

د مارال تر مرګ وروسته سجاد خپل پلار ته دا پرېکړه واوروي چې له آوين سره واده نه کوي او بيا چې کله په هديره کې له مارال نه خدای په اماني واخلي نو کاناډا ته ولاړ شي.

بل لوري ته آوين خبره شـي چې منصـور واده کوي، نو هلته ورځي، چې بيا منصـور د هغې ډېره پروا نه ساتي او په ډېره حيرانتيا له سوګند سره واده کوي.

## زما آند د فصل شقايق ها رمان په اړه:

دا رمان چې کيسه يې يو څه په ښه ډول اوبدل شوې ده، ښه کيسه لري، ځينې منفي ټکي لري، خو ډېر عبرتونه هم لري لکه:

دا چې هلکان اکثره بې وفا وي، د مينې په نوم د عزت غله وي، لکه آراز او که يې بيا مينه ريښتيا شي، نو لکه سجاد بيا کورنۍ اجازه نه لري، که هرڅه وي، خو زيان نجلۍ ته رسېږي، آن که نجلۍ بې وفايي وکړي هم لکه اوين.

دا به هم ووايم چې ناول کې نه دي ذکر شوي، خو څومره چې ماليدلي هغه نجونې چې د هلکانو (عاشقانو) غوښتنو ته تسلمېږي او ناروا غوښتنې يې پوره کوي، مثلاً يوه مچکه ، نو له معشوق سره يې د واده امکان کمېږي.

په پای کې وايم چې ښه ناول ده او يو ځل بايد ولوستل شي، نجونې خو يې هرومرو ولولئ.

۱۴۰۳/۰۹/۰۷

ketabton.com - The Digital Library

# د ناوې بنګړي د لنډو کیسو ټولګه

د لنډو کیسو دا کتاب چې ښاغلي نثار احمد آریا راټول کړی او ژباړلی دی، په ټوله کې (۱۷) کیسې لري چې زه به یې لاندې په ډېرو کمو ټکو کې بیان کړم:

**۱- کېډو موپاسان/فرانسه:**

یوه ښـځه وکیل راغواړي او ورته وایي چې ته باید زما هغه زوی را پیدا کړې چې (۲۰) کاله وړاندې ورک شــوی او علت یې هم دا دی چې ما مخکې تر واده یار لاره، بیا مې چې کله واده وکړ، نو یار مې هم له یوې مېرمنې سره واده وکړ او بیا دوه کاله وروسـته مې چې کله زوی پیدا شو، نو خاوند مې مړ شو او همدا د دې لامل شو چې یارانه مو له سره پیل شوه، ډېره یارانه مو وکړه، آن زوی مې غټ شو او بیا یې یوه ورځ په ډېر بد حال کې ولیدم، نو کور یې پرېښود ، اوس چې ما له هغې ورځې یاري پرېښې ده او اوس د مرګ کندې ته نږدې یم، زوی را پیدا کړه او زما دا وصیت ورکړه.

**۲- بندي/جرالډ کیریش:**

یو څو کسـه د یوه زندان لیدلو ته ځي، چې تلخونه یې ډېره سړه، تیاره او تر ټولو اړینه دا چې بدبویه وي، بیا هلته یې فکر پر د ېوالونو کښــل شــویو انځورونو ته اوړي او هلته وي چې د بندخونې له مسؤل نه پوښتنه کوي چې دا چا کښلي دي؟

هغه ورته وایي چې یو سیاسي بندي چې حکومت ورته سرا ورکوله او آن خبرې او رڼا یې پرې بنده کړې وه، بیا پرې ورحمېده او تر درې د ېرش کلونو وروستو یې خوشې کړ. اوس غواړئ چې د شکنجې ځای هم درته وښیم؟

**۳- بې ټاټوبي/ناډین ګورډیمر/جنوبي اُفریقا:**

یوه نجلۍ خپل پلار او بیا مور له لاسه ورکوي او بیا یې نیا او نیکه راځي او دوئ له ځان سره بیایي، خو د جګړو او داړه مارانو له امله د هغوئ خوراکي توکي هم خلاصــېږي او بیا اړ کېږي چې له خپل کلي نه کډه وکړي، نو ټول کلی په ګډه حرکت پیل کړي، له ډېرو کړاوونو وروســته آن دا چې نیکه یې ورک شــي له ګروګرپارک نه تېرېږي او بیا د مهاجرو په خیمه کې ژوند پیلوي، څه ژوند وي، بس یوازې جګړه نه وي او بل په مړه ګېډه ډوډۍ ورسېږي او دا ما شومان هم درس پیلوي او نور د ماشومانو نیا بېرته خپل کلي ته د تګ لپاره راضي نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

**۴- ډېوه/هربن سينگ ساګو پاکستان:**

يوه بوډۍ ځان ته له کلي نه ډېوه ښار ته راوړي، خو په ښار کې يې ډېوه نه پکارېږي، بيا يوه شپه برېښنا ځي، بوډۍ هم په خونه کې ګروپ او کوڅه کې ډېوه لګوي، خو لومړی لاروی يې له ځان سره وړي.

**۵- تورګل: ډيمن رنيان:**

د کولنز په نامه يو تور سرتېری په يوه کمپ کې وي چې بيا يو سپين پوستی کولنز هم راځي چې له امله يې پخوانی د تور کولنز په نامه نامتو کېږي او له امله يې تور کولنز له سپين کولنز سره کرکه پيدا کوي، همداسې مخ کې روان وي، يوه ورځ يې تر منځ لانجه هم راځي، بيا يوه ورځ په جګړه کې قومندان امر کوي چې بايد هغې بلې پوستې ته ولاړ شي، مطلب سپين کولنز بايد لاړ شي، خو دا چې سپين کولنز وېرېږي، نو تور کولنز منډه کوي، بيا هغه ته ميډال او رتبه ورکوي، ورسره يوه تقدير نامه.

تر هغه وروسته سپين کولنز د تېښتې هڅه کوي، نو نيول کېږي او تور کولنز ته سپارل کېږي، تر هغه وروسته بيا هڅه کوي چې دا ځل يې تور کولنز ولي او وژني، نو له امله يې بل کنډک ته بدلېږي، په لاره کې د سپين کولنز مړی چې مور او پلار سره يې ويويني او پوهېږي چې سرتېرو يې په اړه ويلي چې هغه يوه بندي چې د تېښتې هڅه يې کوله، نو ده يې مخه ونيوله او دا چې هغه سره وسله وه، نو دی يې وواژه، تور کولن غواړي چې هرڅه د سپين کولن مور او پلار ته ووايي، خو څه يې په خوله نه راځي او پر ځاي يې خپله تقدير پاڼه ورکوي.

**٦- د ناوې بنګړي/ګريګوري زينوپولو:**

د يوه سړي مېرمن يو ډول بنګړي په لاسوي چې د خاوند يې هېڅ نه خوښېږي، نور بنګړي ورته راوړي، خو کوژدن يې نه په لاس کوي، نو سړی ډېر تېينګار پرې کوي، خو کوژدان يې ځان تېرباسي، بيا ژمنه ترې اخلي، خو دا ځل يې کوژدن، هغه پخواني بنګړي نه باسي، خو نوي په لاس کې اچوي، سړی چې زور پرې واچوي، مېرمن يې د بېلتون خبره ورته وکړي، په پای کې تر واده وروسته د خپلې مېرمنې بنګړي ماتوي او بيا هغه وي چې مېرمن يې دا ورته وايي چې بنګړي د شګون لپاره ول، بيا يې مېرمن ترې بېلېږي او بل واده کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۷- **دروند کور/بخمان یاسین عراق:**

یو کور وي چې کلونه له خلکو نه خالي وي او خلک یې په اړه ډول ډول افسانې بیانوي، څوک وایي سر پرېکړی انسان پکې دی، څوک وایي چې خلک پکې ګرځي او ځګېروېږي او څوک یې د پېریانو کور بولي، خو بل لوري ته د عُثمان په نامه یو کوچنی ماشوم د هیلۍ ژالې نه هګۍ یا بچي رااخیستو لپاره هغه کور ته ورځي او پوهېږي چې هېڅ نه شته.

۸- **وېره/ګلزار/هندوستان:**

په هند کې ډېری وختونه هندوان او مسلمانان پر لانجه واوړي او یو بل وژني، په دې منځ کې یاسین وي چې څو ورځې یې یو هندو له نورو هنداوانو نه ساتلی وي او اورګاډي ته پورته کېږي، هلته تشې ډبې ته پورته کېږي، خو یو وخت ویني چې بل کس هم هلته شته، نو ډېر ترې وېرېږي تر دې حده چې آخر هغه سړی له پښو نیسي او سین ته یې غورځوي، له هغه نه د غورځېدو پرمهال د «الله» کلمه اوري.

۹- **یوه شپه دباندې/ تیالاخوامورتي/تانزانیا:**

د میکا په نامه یوکس له یوه کلي نه تېرېږي، خو د تېرېد پر مهال د تېلو نه شتون له امله وځنډېږي او بیا لومړی د ویسکي او بیرو په لټه وي، چې هغه پیدا نه کړي، نو کورني شراب وخوري او بیا د ماماتو میني خواته ورشي، له هغې سره شپه تېره کړي، چې سهار پاڅېږي نو پوه شي چې د هغې ماشوم زوی مړ شوی دی، نو دی هم پیسې کېږدي او ولاړ شي.

۱۰- **خلاص کړه/سعادت حسن منټو/پاکستان:**

د سرج الدین په نامه یو کس چې له امرتسر نه د مغل پورې خواته تښتي، خپله لور سکینه ورکوي او بیا ډېره هڅه کوي چې په یاد یې شي لور یې چېرته ترې پاتې، خو نه یې په زړه کېږي، خو داوطلب زلمیان ژمنه ورسره کوي چې هغه به پیدا کوي، بله ورځ یې پیدا کوي او موټر ته یې پورته کوي او سپین ږیری خبرېږي چې یوه نجلۍ د اورګاډي او روغتون ته یې وړې، چې کله ورشي، نو ویني چې د ده لور سکینه ده، خو په ډېر بد حالت کې.

۱۱- **د هیلو ونه/رچرد پنډېل:**

ډیویډ له دې امله کور پرېږدي چې غواړي نړۍ وګوري او له نړۍ والو سره آشنا شي، بس همدا وي چې خپلې مور ته لیک واستوي او وایي چې شپږ میاشتې وروسته زه له دې کلي نه تېرېږم، که چېرې زموږ د منې په ونه کې سپین ټوکر بند وؤ، نو بېرته راګرځم، کنه همداسې ځم.

ketabton.com - The Digital Library

پینځه میاشتې وروسته چې دی له کلي نه تېرېږي، نو ټوله ونه ټوکرونو نه ډکه وي.

۱۲- **دام-آزابېل ایندي/چیلي:**

د ودال په نامه یو حرمونی پیدا کېږي چې بیا فالبینه ورته وایي چې ستا مرګ به د یوې ښځې له لاسه وي، نو هغه ښځې څه چې ښار پرېږدي او غلاوې پیلوي، بیا یوه ورځ د کلي قاضي د هغه مور بندي کوي او چې دی یې مرستې ته ور نه شي، او قاضي اړ شي چې هغه خوشې کړي، نو مور یې ځان وژنه وکړي، بیا یوه ورځ چې قاضي د چکر لپاره ځي، نو خبر شي چې ودال د کسات اخیستو لپاره راځي، نو په سرتېرو پسې سرتېري ولېږي او خپله په موټر کې د تېښتې هڅه وکړي، په لاره کې د زړه حملې نه مړ شي او بیا یې مېرمن ودال ته په ګوتو ورځي خو هغه چې سرتېرو ته په تمه وي، ودال ته یو څه مینه ورکوي، چې دا مینه بیا د دې لامل ګرځي چې ودال د سرتېرو تر راتلو په تمه وساتي.

۱۳- **د موچي لور-احمد ندیم/پاکستان:**

د عالا په نامه یوه نجلۍ چې د یوه موچي لور وي، ټول کلي ترې وېرېږي، خو د عارف ځان د کور ټول کارونه کوي او هغه له مور سره ډېر ښه رویه کوي، بیا یوه ورځ مخکې تر دې چې عارف خان مسافرۍ ته لاړ شي، خپلې مور په وینا عالا دوئ کورته خواړه وروړي او بیا په دې پوهېږي چې عالا مینه ورسره لري.

۱٤- **پرښته-ایازقادري/پاکستان:**

یو هلک چې مور یې ناروغه وي او بې له همدې یوې مور څخه نور هیڅوک هم نه لري، خپلې ټولې پیسې د هغې په درملنه لګوي او بیا دی خبرېږي چې دا ناروغي کوم علاج نه لري، تر هغه وروسته دی هم ناروغېږي، چې له امله یې دنده له لاسه ورکوي، په مزدوۍ پسې ډېر ګرځي، خو دا چې بدن یې د ناروغۍ له امله کمزوری شوی وي، څوک مزدوري هم نه پرې کوي، بیا یې یوه ورځ مور د دواه غوښتنه کوي، او چې نه وي، نو زهر یادوي، هلک هم په رېښتیا زهر د دوا په نامه راوړي، نو مور یې خپل زوی پرښته بولي.

۱۵- **پوروړی- سویتو زار کوروچ/هرزګوینا:**

په سربیا کې یو سړی چې د ترکانو له ظلم نه تنګ راغلی وي، وسله اخلي او بیا د یوه ډېر شتمن ترک په کور برید کوي او د هغه د کورنۍ درې غړي وژني، خو هغه ترک ژوندی پاتې کېږي بیا سرتېري ټولوي او په سربیانو برید کوي، سربیان ټول وژني او یو اسیر نیسي، هغه هم

ketabton.com - The Digital Library

په ټېپي حالت کې، نو ترکی یې درملنه کوي او چې کله روغ شــي، ځنګله ته یې د مبارزې لپاره بیایي، یو ټوپک اســیر ته ورکوي او یو خپله اخلي، ځکه چې ترکانو ته دا عیب ګڼي چې د تش لاس نفر ووژني، خو په دې مبارزه کې ترک وژل کېږي، نو بیا اسیر کلونه د هغه کورنۍ ته اوړه، سابه او آن مېږې او اوزې د خپل پور ادا کولو لپاره وړي.

۱۶- **تیندک – انتون چیخوف/روسیه:**

یوې ښځې د لاټرۍ ټیکټ اخیستی وي، بیا خپل خاوند نه غواړي چې په ورځپاڼه کې وګوري چې آیا بریالۍ شــوې ده او بریالۍ شــوې هم وي، چې خاوند یې زېری ورکوي چې یو لک روبله ورته وتي، بیا یې خاوند د عیا شۍ فکرونه کوي او خپله مېرمن په سفرونو کې تر ځنګ ګوري، نو له سفرونو نه ناهیلی شي، تر هغه وروسته بیا په فکر کې ولاړ شي او دا یې فکر ته راشي چې مېرمن یې خپل خپلوان او دوســتان خپل کور ته رابلي، هغوئ چې دی ډېره کرکه ځینې لري او بیا پر ده ملنډې وهي او دی یې مخه نه شي نیولی، بل دا چې ښځه یې د عیا شۍ خبره کوي، نو ځکه خپلې مېرمنې ته وایي چې ما درته دروا غ وویل، په سبا یې مېرمن هم دا خبره مني.

۱۷- **عابده- رابندر نات ټېګور/بنګال:**

یو سړی چې له اروپا څخه راغلی وي، نو یوه ښـځه یې عبادت ته راځي او بیا یوه ورځ د خپل ژوند کیســه دې سـړي ته کوي چې د هغې خاوند د هغې ډېر درناوی کاوه او ډېره مینه لرله، خو دې یې پروا نه لرله او بیا یوه ورځ د دې د خاوند یوه ملګري دا دې ته وبلله چې دنیا پرېږدي.

## زما آند د د ناوې بنګړي د لنډو کیسو ټولګې په اړه:

زما په آند ټولې کیسـې یې ښـه تلوسـه او جذابیت لري، ښـه داسـتاني جوړښـت هم لري، خو ځینې یې یو څه ګونګې او ځینې یې بې مفهومه دي.

په ټوله کې ویلای شو چې که چېرې سړی یو ځل ولولي، نو ښه خوند ترې اخیستی شي.

۱۴۰۳/۰۹/۱۲

ketabton.com - The Digital Library

# افغاني رنځوره - د لنډو کيسو ټولګه

د لنډو کيسو دا کتاب چې شفا کاکړې ليکلې پکې يې (۱۱) لنډې کيسې را اخيستې دي او زه يې په ډېر لنډيز سره کښته بيانوم:

**۱- د قبر ځانګو:**

د انار ګلې خسرګنۍ کلونه په دې نه وي توانېدلي چې ولور پوره کړي، نو انارګله ورتښتې او بيا يې نکاح کېږي، خو تر نکاح يو کال وروسته يې خاوند مري او بيا څه موده وروسته لېوره ته نکاح کېږي، چې له هغه يې يوه لور پيدا ش، لور يې ډېر ژاړي، انارګله او خواښې يې دواړه له خوبه باسي، چې بيا يې پلار او نيکه هم ډاکټر ته نه بيايي، نو انارګله او خواښې يې اړ شي چې لومړی يې ملا او بيا د ملا په وينا زيارت ته بوځي، هلته انارګله لومړی د يوې نجلۍ چې له دې امله يې ځانوژنه کړې وي چې بد پوره نه شي (په بدو کې يې ورنه کړي) قبر ويني او بيا د يوه بل قبر پر سر ځانګو ويني، نو ووايي:

مشرانو ښه ويلي چې لرل يې هم غم دی او نه لرل يې هم.

**۲- د ليک جواب:**

يوې نرسې ته يې خور ليک رالېږلی وي چې پکې يې د ژوند له سختو حالاتو درېدلې وي، بيا نرسه ورته ليکلي چې دا څنګه په پردي ښار کې کار کوي، د سړيو په ځېر ځناور تل دا هڅه کوي چې عزت يې لوټ کړي، خو دا خپل عزت په ډېر سختۍ سره ساتي.

**۳- زه په مړي څه وکړم:**

يو سړی چې تل په خرو بوټي راوړي، لومړی خپل ځان ته او بيا نورو کليوالو ته، اوړی هم په پټويو کې کار کوي، ښځه يې تل ورته وايي چې بايد د خپلې مزدورۍ پيسې ورونو ته ورنه کړي، خو دی يې نه يوازې چې نه مني، بلکې خپله ښځه هم رټي، بيا يوه ورځ يې ماشوم دا خبره کوي چې هره غرمه دوئ سره دوډۍ خوري، نو دی له مېړمن وپوښتي، هغه لادا پسې زياته کړي چې لور يې شا بې بي ناروغه ده، لېور يې ډاکټر ته نه بيايي، نو بيا سړی پيسې راټولوي او لور ډاکټر ته بيايي، هلته پيره دار بې نوبتي کوي او چې کله د دوئ وار راشي او ډاکټر شاه بي بي وګوري، نو رته ووايي:

زه په مړي څه وکړم!

ketabton.com - The Digital Library

**۴- زرغونه تنې:**

یو سړی کوژدن شوې ښځه تښتوي او بیا یې کورنۍ اړ کېږي چې د هغه وریره سکینه په بدو کې ورکړي، سـکینه واده کېږي، ډېره خفه وي، خو چې کله واده وکړي، نو ژوند یې خوشـحاله وي، بس یوه ستونزه وي او هغه دا چې د هلک (یاسر) خپلوانې کوډې پرې کوي او بلآخره سکینه دوه میاشتې وروسته تر واده په روغتون کې په ډېره مینه او خواشینۍ ساه ورکوي.

**۵- جرمني:**

یوه ښـځه چې د مېړه او لېورونو یې تل لانجې وي، زړه ډېر یې په تنګ وي او بیا یې په کور کې ښلتون راځي، خو لانجې پای ته نه رسېږي، نو د دې ښځې مېړه پرېکړه کوي چې ښار ته ولاړ شي، هلته خپل زوی په ښوونځي کې اچوي او بیا چې زوی او لور یې لږ غټ شي سړی مړ کېږي، نو د دې ښـځې لېورونه غواړي چې دا خپل کوچني ورور ته په نکاح کړي، بل لور ته یې زوی جرمني ته په بورسیه کامېږېږي.

**۶- زما بخت ښکاره دی:**

یوه ښـځه چې مېړه یې نشـه یي او لېونی وي او وروڼو په ځنځیرونو تړلی وي، ناروغه وي او څه موده یې میاشـتنۍ ناروغي نه راځي، چې له امله یې خلک پر شـکمن کېږي او بیا چې ډاکټرې ته ولاړه شي، نو هغه ورته وایي:

دا چې تا ډېر وخت ماشوم نه ده راوړی، په نس کې دې دانه راختلې ده او هغه وخت لرې کېږي چې اولاد راوړې.

**۷- زنګېدو:**

یوه سـتره کورنۍ وي، چې یوه ورور خپله وریره زینب خپل زوی عبدالله ته کړې وي، بیا عبدالله طلاق ورکوي او بله نجلۍ تښـتوي، بل لور ته نجیب د زینب په خور نغمې باندې مئین وي، نو دا چې عبدالله له خوا د تښتول شوې نجلۍ کورنۍ په بد پور کې دوه نجونې غواړي، نو دا لویه کورنۍ اړ کېږي چې نغمه ژر تر ژره نجیب ته نکاح کړي، او بیا د نجلۍ کورنۍ له بد پوره تېرېږي او له هغه وروسته نجیب او نغمه خوښ ژوند پیلوي، په باغونو کې ګرځي او په پای کې هغه د توت ونې لاندې کېني.

ketabton.com - The Digital Library

**۸- مسافر:**

یو سړی مسافر مېمله کوي او بیا مسافر ورته کیسه کوي چې څنګه یې په ورېو سبق پیل کړ، خو هغوئ پرېښــود او بیا یې په خپلې لور او ورېرو پیل کړ، خو ورونو یې خپلې لو ته چا بې سوادو او چا لوفرو ته ورکړې.

**۹- سر د زمکې جنتي:**

ذولیجه هغه ښځه وي چې مېړه یې چرسي او هیرویني وي او بیا مړ شي، څه موده د پلار کره وي، چې هلته له ورېندار ګانو نه په تنګ وي، بیا لېورزي ته په نکاح کېږي، خو نوی خاوند یې پام نه ورته کوي، بیا یې خواښــې اړیکې ورجوړې کړي او موټر یې بار شــي، خو کرار کرار یې وضـعیت خرابېږي او چې ډاکټرې ته ولاړ شــي، نو خبر شــي چې تور زېړی لري، بیا د ماشـوم تر زېږېدو وروسته لومړی دا او بیا یې ماشوم مړ شي.

**۱۰- رنګ او څپلۍ:**

یو سړی له خوبه راپاڅېږي او علت یې هم دا وي چې تېر وختونه ورپه یاد شي، هغه وخت چې پلار به یې کراچۍ کې نخود خرڅول، هغه وخت چې یو کس راشــي، د پور په بدل کې د دوئ روغې کمپلې وېسي، هغه وخت چې مور یې مړه شي، هغه وخت چې په اختر کې جامې او څپلۍ نه لري او آن هغه وخت چې په اختر کې یې پلار د قلم رنګ د څپلیو رنګولو لپاره وغواړي.

**۱۱- څوک به ملامت وي:**

یوه نجلۍ د تره په زوی مئینه وي، خو دی یې نه غواړي، څکه ده بلې نجلۍ ته ژمنه ورکړې وي، نو نجلۍ هر ورځ د هغه کوټې ته راځي او ګډوډې کوي، یوه ورځ یې هلک په څپېړه وهي او نجلۍ یې په غېږ کې نیســي، نو د نجلۍ مور یې ویني او بیا یې کوژده کېږي، تر هغه وروســته بله نجلۍ خبرېږي او بیا خپل پلار د دې هلک لیدو ته راولي.

## زما آند د افغاني رنځوره- د لنډو کیسو ټولګې په اړه:

داکتاب چې مېرمن شـفا کاکړې لیکلی ده پکې یې (۱۱) لنډې کیسـې را اخیسـتې دي، چې ښـه داسـتان، ښـه جوړښـت، درد، غم او هیله هم پکې ده او همدا رنګه ښـه تلوسـه لري او له دې ټولو سـره یې پکې په افغاني ټولنه کې هغه بدبختیانې په قلم راکښـلي او د پښـتنو هغه بد او غلط رواجونه یې هم پکې را اخیســتي دي چې د نورو ډېری لیکوالانو ورته ډېر پام نه دی کړی، لکه په بد پور کې د نجونو ورکول، په ښځې باندې نور ظلمونه او همدا رنګه شک.

ketabton.com - The Digital Library

خو یوه ښــکېنه چې دا کتاب یې لري هغه دا ده چې په دې کتاب کې ډېرې کیســې ښــه پای لري، دوهم یې دا ده چې لیکوالې د پښتنو غوره عادات په دې کتاب کې ساتلي دي.

نو په ټوله کې ویلای شو چې دا کتاب یو له غوره کتابونو څخه ده او په وار وار لوستلو ارزي.

۱۴۰۳/۰۹/۱۵

ketabton.com - The Digital Library

# د شنو ګټو قاضي ناول

دا ناول چې رحيم الله بشارت ليکلی، پکې يې د ټکور په نامه ديوه ځوان کيسه را اخيستې ده، چې د ترکيې يوه کردې ځارنوالې اتنا سره چې د ده د پوهنتون ټولګيواله تېره شوې وي، اووه لس کاله يې ملګرتيا په داسې حال کې کړې وي چې خپله پښتو يې نه وي ماته کړې، افغانستان ته راغواړي او بيا يې اتنا د خپل مرستيال په توګه په دنده ګماري.

اتنا پښتو له ده نه زده کړې وي، بيا يې د پښتو ژبې د ادبياتو کتابونه هم لوستلي وي او د دې لپاره اتلافي ځواکونو سره افغانستان ته راغلې وي چې د پښتنو دود او کتلور د کتاب پر ځای په خپلو سترګو وګوري.

بيا په کونړ کې دوه تجاران مړه موندل کېږي، چې دا کار آمريکايان او اتلافي ځواکونه په تشويش کې اچوي، چې دا کار به سياسي وي او که جنايي، نو د دې لپاره چې خبره څرګنده شي، دا کار اتنا او ټکور ته سپاري.

اتنا هم ښه په مسؤليت دې دندې باندې کار پيلوي، لومړی د کونړ يوه ځارنوال راپور ګوري، چې له امله يې د قتل اصلي عاملان پېژني، خو دا چې ځارنوال هغوئ خوشې کړي وي، نو د وژل شوؤ کور ته ورځي، له هغوئ نه د پېښې په اړه پوښتنه کوي، خو هغوئ سم ځواب نه ورکوي، بلکې ورته وايي چې دا وژنې سياسي نه بلکې د پيسو لپاره ولې.

دا چې اتنا يوازې دا دنده لري چې څرګنده کړي وژنې سياسي وې که جنايي ځکه چې که چېرې سياسي وای، آمريکايان اړ ول چې هلته چاپېز عمليات ترسره کړي، خو دا چې دې عملياتو له يوې خوا مالي خرچه غوښته او له بل لوري يې امکان لرلو چې ډېر تلفات هم ولري، نو که سياسي نه وای بلکې جنايي وای، بيا عمليات اړين نه وؤ.

نو له همدې امله اتنا پرېکړه کوي چې ځان سمه لام سيمې (هغې سيمې ته چې دا وژنې پکې شوې وې) ورسوي او هلته دا څرګنده کړي چې دا پېښې چا او د څه لپاره کړې دي؟

نو ټکور يې لومړی د بريالي دوئ کره بيايي او هلته وي چې له آتنا نه ټکور سره د هغې د مينې اظهار وشي، مينه به پربږدو، نو د بريالي له کوره بريالی هم ورسره شي او بيا سمه لام ته له دوؤ کچرو سره د ډاکټرانو په نامه لاړ شي، د اسلم خان په نامه د يوه کس په کور کې واړوي او بيا کتنې (معاينه) پيل کړي، ځينې خلکو ته درمل، ځينې خلکو ته هم جامې ورکوي او همداسې

ketabton.com - The Digital Library

روان وي، همدارنګه د کتنو تر څنګ خپلې څېړنې هم کوي، بيا د چکر په نامه هاغه ځای ته هم ورځي چې دلاور او ملګري يې وژل شوي وي، هغه ځای ګوري چې د تبرګي زوی يې ووينې او بيا چې د اسلم خان دوئ کور ته لاړ شي، نو هغه هم د دوئ د راتګ اصلي لامل ؤ پوښتي، ټکور هم هغه ته هرڅه ووايي او بيا يوه بله شپه هم د اسلم خان دوئ کره په ډېرې وېرې سره تېره کړي، البته دا څو شپې يې په داسې حال کې تېرې کړې وي، چې اتنا او ټکور په يوه کټ څملي، خو په منځ کې کمپله دېوال ګرځوي، ځکه ټکور نه غواړي چې خپله پښتو او د مور نصيحتونه مات کړي، که څه هم ټکور او اتنا په دې پوهېدلي وي چې جرم سياسي نه بلکې جنايي دی، خو بيا هم هغې سيمې ته ځي چې تبرګی هلته تللی وي، هلته لومړی ټکور د هغه سړي په کور کې دېره کېږي چې اسلم خان دی ورلېږلی وي، بل لوري ته د اسلم خان له خوا لاړښود ټکور، آتنا او بريالی د شنوګټو قاضي يا هغې ځا ته بيايي چې څرګنده نه وي څومره ژوروالی لري او په سلګونو کسان پکې ورغورځول شوي وي. آن لاړښود ټکور دوئ ته وايي چې ده هم د روسانو مُلا، هغه چې روسانو به لمونځ پسې کاوه ورغورځولی ده.

چې بېرته راوګرځي، نو تبرګی بلنه ورکوي او دا هم ورته وايي چې سامانونه مو ړ مخکې وړي دي، نو ټکور اړ کوي چې ور سره لاړ شي، د شپې د تبرګي پلان دا وي چې د شنوګټو قاضي ته يې بوځي او هلته يې وروغورځوي، خو دا چې آتنا يې مخ نيوی کوي، نو د تبرګي او د هغه د يوه ملګري په دې لانجه راځي چې تبرګی ورته وايي:

ما ستا له مور سره اړيکې لرلې او د دې لپاره چې را شه درشه مې څوک شکنمن نه کړي، ما له تاسو سره دوستي وکړه او پلار دې هم ما مړ کړ، د دې لپاره چې زه او ستا مور يې د يوبل غېږ کې وليدو.

نو دا لانجه د دې لامل شي چې تبرګی او هغه ملګری يې د شنوګټو قاضي ګېډې ته ورولوېږي او بيا ټکور هم ورولوېږي، کله چې آتنا او بريالی د ټکور د ژغورلو هڅه کوي، نو د تبرګي زوی او د هغه ملګری بريالی ټېل وهي او لاندې يې ګوزار کړي، خو بريالی هغه پړی کلک ونيسي چې غوښتل يې ټکور پرې راوباسي، بيا ټکور په ډېر زحمت سره لومړی ځان او بيا بريالی ژغوري، د تبرګي زوی او د هغه ملګری پيدا کوي او بيا دا هڅه کوي چې له سمه لام دباندې ولاړ شي، خو په لاره کې د تبرګي نور ملګري بريد پرې کوي، خو چې کله بريالي ته نږدې کېږي، نو اسلم خان راځي او د ټکور خوا نيسي، له دې امله چې ټکور ورته ويلي وي:

ketabton.com - The Digital Library

که چېرمې موږ بريالي شو، نو د ټولې سيمې عزت به وژغورل شي، ځکه زه نه غواړم چې د آمريکايانو پښه دلته را دننه شي.

نو له امله يې د تبرګي دوه نور هغه ملګري چې د دلاور او ملګري په قتل کې له تبرګي سره شريک وي هم نيول کېږي او کله چې ټکور دا پرېکړه کوي چې ولسوالۍ ته يې وسپاري، د دلاور ورور راځي او له تکور او اسلم خان نه دا غواړي چې ده ته يې وسپاري، خو دا چې ټکور دې کار ته نه حاضرېږي، نو شخړه يې تر منځ راپورته کېږي، خو آتنا چل کوي د دلاور ورور ساتي او ترځنګ يې اسلم خان لېږي چې کسان اولسوالۍ ته وسپاري.

بيا دوئ هم حرکت کوي، د کندز ولايت دشت ارچي اولسوالۍ ته ځي او هلته بيا اتنا او ټکور د ټکور دوئ کره واده کوي.

## زما آند د د شنو ګټو قاضي ناول په اړه:

زما په آند ناول ښه داستان ښه جوړښت او ښه تلوسه لري، دا چې له شعرونو او لنډيو نه يې پکې کار اخيستی ده، نو ناول يې لاپسې خوندور کړی ده، اصل پښتون هغه دی چې له يوې آزاد خيالۍ نجلۍ سره کلونه تېروي خو کار نه ور سره لري، پکې ښودل شوې ده ((په دا سې حال کې چې زموږ په ټولنه کې داسې ډېر کسان شته چې په پښتو ژبه غږېږي خو د ډېرو سترمنو نجونو عزت يې لوټ او تالان کړ، ډېر داسې کسان شته چې په پښتو ژبه غږېږي، خو هېڅ پښتونوالي پکې نه شته)) چې دې کار هم ناول ښکلی کړی ده او همدا رنګه ډېر نور شيان دي چې د دې ناول په ښکلا کې رغنده رول لري.

ځينې ډېرې کوچنۍ ستونزې هم لري لکه د مثال په ډول: اتنا خپل راپور له سوله ساتو ځواکونو سره نه شريکوي او داسې ډېر کوچنۍ کوچنۍ ستونزې.

نو په پای کې دا وايم چې ماته يې ډېر خوند راکړ چې له امله يې تاسو ته هم وړانديز کوم چې يو ځل يې هرومرو ولولئ، ترڅو نه يوازې دا چې خوند ترې واخلئ، بلکې ډېر څه به ترې زده کړئ، همدا رنګه له ليکوال نه هم ډېره مننه کوم چې داسې په زړه پورې ناول يې ليکلی.

۱۴۰۳/۰۹/۲۰

ketabton.com - The Digital Library

# سلګۍ د لنډو کیسو ټولګه

دا کتاب چې ښاغلي عزیزالدین یوسفزي لیکلی، پکې یې (۱۲) لنډې کیسې رااخیستې دي، چې زه یې په ډېر لنډیز سره لاندې بیانوم:

**۱= تعلیم:**

یو ماشوم چې له سرې تبې نه کړېږي، مور یې دې ته په تمه وي چې خاوند یې راشي او ماشوم ډاکټر ته بوځي او بیا یې زوی راځي، خپل پلار ته زنګ وهي.

**۲= سور رنګ:**

په مرسیډیز موټر کې ناست کسان ډرایور ته وایي چې موټر لږ ورو بوځي، خو ډرېور یې کله مني او بیا لږ پاتې وي چې بل موټر سره ټکر وکړي، خو بچ شي، تر هغه وروسته بیا موټر ګړندی کړي او بیا یې له یو بل موټر سره ووهي او د مرګ ژوبلې لامل شي.

**۳= آزادي:**

یو کس د عسکر سر وهي او بیا چې ګوري ملګرو یې هم دا کار کړی، نو ناره کړي:

آزادي.

**۴= لور:**

فاطمه هاغه نجلۍ وي چې پلار یې د خپل ځان خدمت لپاره په کور مجرده ساتلې وي، تر دې چې آن په ویښتانو کې یې سپین رابرسېره شي او بیا یې ماما راشي او دا ورته ووایي چې فاطمه ورکړه، خو فاطمه له حیا نه څه نه شي ویلی.

**۵= سلګۍ:**

د بازمامد زوی یارمامد د ملک یوازېنی زوی وژني او بیا جرګه بد پور ټاکي او همدا وي چې د بازماما لور سپوږمۍ په سلګیو سلګیو ملک ته ودرېږي.

**۶= اوښکه:**

یو سړی خپله لور د حاجي تورخان په نامه یوه سپین ږیري ته په دې ورکوي چې ډېرې پیسې لري.

ketabton.com - The Digital Library

**۷= برید:**

د جمال په نوم ســـرتېرى له يوه بريده ژوندى وځي، خو بل ځل بريد کې په دې په شـــهادت رسېږي چې پاکستان غواړي زموږ پر خاوره خپل بيرغ ودرولي، خو دا چې جمال نږدې ورځي او د بيرغ ايښودونکى وژني، نو جمال هم د پاک چتېلستان د سرتېرو په ګوليو لړېږي.

**۸= پاچاه:**

يو سړی چې له سختې بې وسی سره مخ وي، د دې لپاره آن مزدوري نه شي پيدا کولی چې پاچا معلوم نه وي.

**۹= چوپتيا:**

يوه ښځه د خالي دېګ لاندې اور بلوي چې ماشومانو ته يې خوب ورشي.

**۱۰= ښکلا:**

شـهاب د ښـکلا په نامه خپلې ټولګيوالې ته د مينې اظهار کوي او بيا له هغې ځواب غواړي چې ځواب يې دا وي:

زه هم له تاســـره مينه کوم، خو پلار مې د ماما زوی ته ورکړې يم او دا چې زه بې له تا ژوند نه شم کولای ځان وژنه کوم.

نو بيا ښکلا له زهرو ډکې ګولۍ خوري او په روغتون کې ساه ورکوي.

**۱۱= زه بد لمنه نه يم:**

د خان زوی په خپلې مزدورې لومړی جنســي تېرى کوي او بيا کرار کرار ډېرې جنســي اړيکې ورسره نيسي په دې پلمه چې مينه ورسره لري او واده ورسره کوي، خو چې نجلۍ حمل واخلي او خان ته ووايي، نو زوی يې له هرڅه انکار وکړي، ځکه خو خان نجلۍ وشـــړي او بيا نجلۍ ځان وژنه وکړي.

**۱۲= حواله:**

يو هلک ته يې ورور له ايرانه پيسې رالېږي، دی يې هم له ډېر احتياط سره کلکې ساتي، بيا يو کس چې له ده سـره په سـيټ کې ناسـت وي، ده ته په ګنې کې کوم څه ورکوي چې له امله يې ويده کېږي او چې راپاڅېږي، پيسې نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

## زما آند د سلګۍ لنډو کیسو ټولګې په اړه:

زما په آند ښه کتاب یې لیکلی ډېرې کیسې یې خوندورې او له عبرتونو ډکې دي، که څه هم ما یې له ځینو کیسو هېڅ هم وانه خیستل، خو بیا هم تاسو کولای شئ چې یو ځل یې ولولئ.

۱۴۰۳/۰۹/۲۳

ketabton.com - The Digital Library

# انسان په فاصله د انسان د لنډو کیسو ټولګه

د لنډو کیسـو دا کتاب چې ښـاغلي صـابر شـینواري لیکلی، پکې یې (۱٤) لنډې کیسـې را اخیستي، چې زه به یې په پوره لنډیز کیسه بیان کړم:

۱= **ارمان:**

یوه هلک په یوې نجلۍ پسې کېږي او د ټیلیفون شمېره یې غواړي، خو هغه اخطار ورکوي، خو بیا هم هلک نجلۍ څاري او د هغې کور پیدا کوي، خو نجلۍ ته نه رسېږي.

۲= **ریالست:**

یو شـاعر چې د یوې انګرېزې نجلۍ په بلنه د هغې کور ته ورځي او بیا د هغې پلار له شـاعر نه پو ښتنه کوي چې ته ریالست شاعر یې که رُمان، شاعر نه یوازې دا چې ځان ریالېست ښي، بلکې ځان د رمان سخت مخالف هم ګڼي، خو بیا د نجلۍ پلار یې لومړی په نڅاکلب کې وینې، بیا یې د نڅا په کنسرت او له خپلې لور سره په مینه کې د هغه کورته په پټ راتلو کې.

**۳= همدري:**

یو کس چې غواړي له ښـځو سـره همدردي وکړي او هغوئ ته د سـړي او ښـځې دا خبره کوي چې سړی نیمه سړی او نیمه ښځه او ښځه نیمه ښځه او نیم سړی دی دا په ورځ پاڼه کې چاپېږي، خو ورځ پاڼې ته د ښځو له خوا اخطاریه ورکول کېږي او بیا دا کار د تبلیغاتو په وسیله کوي چې بیا هم د ښـځو له غبرګون سره مخ کېږي او په پای کې سړی د دې کار لپاره د ښـځو کمیس او د سړیو پرتوګ اغوندي او بیا هغه وي چې خلک یې ایجړا وګڼي.

٤= **مساوات:**

یو سـړی چې د ښـځو او نرانو د مسـاواتو غوښـتنې په ټیم کې وي، نو یوه مقاله ولیکي چې ډېره نامتو شـي او بیا یو کتاب ولیکلي چې هغه هم نامتو شـي، تر هغه وروسـته بیا یوې ځانګړې مېلمسـتیا ته وغوښـتل شي، نو هلته د خبرو لپاره بلنه ورکړل شـي، نو دی بیا هلته دا وواییي چې ښـځې له نر سـره مسـاوي دي، باید یې حق ورکړل شـي، د سړیو په شـان پوځیانې، نایانې، ډرېورانې او مزدور کارانې شـي، نو بیا چې په هوښ راځي، درې ورځې یې په روغتون کې تېرې کړې وي او لسو نورو ته اړتیا وي.

ketabton.com - The Digital Library

۵= **العياذبالله**:

د مجنون مينه هم دومره پاکه نه وه چې ياد ېږي، ځکه له بغداده يې رقاصه وتښتوله او بيا يې قتل وکړ، له بغداد نه وتښتېده او بيا په اروپا کې يوه پادري خپله لور او دنده ورکړه، عيسايايي شو.

۶= **زوايه د نظر**:

يو هلک چې د جُمعې په ورځ د مُلا تبليغ چې د صدقې په اړه يې کوي اوري، نو ځي له کور نه پينځه سوه روپۍ اخلي چې مدرسې کې يې مهتمم ته ورکړي هلته هغه نور بيان هم ورته کوي، نو دی هم له کور نه ټولې پيسې وروړي او بيا ملک صاحب او مُلا صاحب اخطار ورکړي چې بايد پيسې بېرته ترې واخلي، نو مهتمم ورته وايي چې زه له کليوالو سره خبرې کوم، چې دی ترې لاړ شي نو مهتمم يې ډېر ښه سړی ياد کړي او ورسره نا ست ډاکټر يې د اعصابو ناروغ ياد کړي.

۷= انسان په فاصله د انسان:

يو هلک ليني موټر ته پورته کېږي، هلته يو کس د ساعت پوښتنه ترې کوي او نور ترې کتابونه غواړي، بيا پوهېږي چې په اصل کې دا ټولې پوښتنې او غوښتنې له يوې نجلۍ نه شوي او دی هم غواړي چې له هغې سره خبرې وکړي، خو تر کښته کېدو پورې نه توانېږي.

۸=ماشيني دور انسان چېرته بيايي:

ويليم له ډېوډ سره ډېره مينه کوي او غواړي چې واده ورسره وکړي، خو ډېوډ ترې ځان لرې ساتي، بيا ويليم يوه حل لاره پيدا کوي او هغه دا چې ځان د جنيتيکي عمل پر بنسټ ښځه جوړ کړي، نو دا کار کوي خو کله چې له روغتون نه ووځي، خبر شي چې ډېوډ په يوه ترافيکي پېښه کې مړ شوی.

۹= ذکر د زمکې:

د زمکې نړيواله ورځ وي چې پکې د کيسې والازاړه قبرته ځي او دا پوښتنه له زمکې نه کوي چې:

نن ستا ورځ ده، ستا نظر څه ده او ستا مسائل څه دي؟

زمکه يې په ځواب کې وايي:

ketabton.com - The Digital Library

ورځې تولې زما ژبړنده دي، بل دا چې زما هېڅ مسائل نه شته، نه اوبه ما ککړې کړي، نه هوا او نه ه زه مسئوله یم، بل دا چې د انسانانو د ډېرښت او کمښت مسؤلیت هم نه لرم.

۱۰= حاجت:

په دې کې د افغانستان حالات ښودل شوي چې څنګه روسانو د تودو اوبو لپاره له افغانستان لاره تېروله او افغانستان د تودو اوبو قرباني شو، څنګه افغانستان ودان شو، څنګه ټلوالې غوښتل افغانستان تجزیه کړي او نورو څه وکړل.

۱۱= تعلیم ښه شی ده:

په دې کې یې څو کیسې را اخیستې دي، چې کله د سړي زده کړې له ښځې پورته وي او کله د ښځې له سړي، خو یوه هم نتیجه نه ده ورکړې، بل لوري ته یوه بله مقایسه ده چې دواړه بېسواده دي چې ښه ژوند لري.

۱۲= تالاب:

د افغانستان مثال له ډنډ سره ورکوي چې اول ځینې کبان د اوبو د ستونزو له امله مري او ځینې مرګحا له وي، بیا هغه ژوندي په مړو خولې لګوي، خو بیا یو کس د هغوئ د ژغورنې لپاره زهر وراچوي.

۱۳= انسان نما:

یو مزدور چې د کار له څښتن نه ډېر په تنګ وي، نو دعا کوي چې د هغه په شان پیسې پیدا کړي، رینښتیا هم چې هماغه شان پیسې او تکبر پیدا کوي.

۱٤= کاروبار:

د یوه سړي له کوره غلا کېږي، بیا سوال ته اړ کېږي، نو احمد میا ورته د تعویذونو لاره ښیي او بیا زېړی شاه په دې کا کې دومره پرمختګ کوي چې د احمدمیا کاروبار خرابوي او احمدمیا زېړی شاه وژني.

## زما آند د انسان په فاصله د انسان د لنډو کیسو ټولګې په اړه:

زما په آند د شینواري صاحب د لنډو کیسو دا ټولګه په زړه پورې ده، ځکه له یوې خوا یې کیسو ته ښه قالب پیدا کړی او له بلې خوا یې بیا د کیسو جوړښت او توري په ښه ډول اوبدلي دي، نه یوازې دا چې ښه تلوسه لري، بل لوري ته له غټو پندونو او عبرتونو هم ډکې دي، ګرځه

ketabton.com - The Digital Library

یوه دوه کیسې یې داسې وې چې یا یې څه خاص مفهوم نه لاره او یا یې ما د لیکوال مقصد وانه خیست، خو په توله کې ویلی شو چې ډېری کیسې یې داسې دي چې که سړی یې بیا بیا هم ولولي، نو پرې سترې کېږي نه.

۱۴۰۳/۰۹/۲۶

ketabton.com - The Digital Library

# شاه زمان او ټیپو سلطان

دا کتاب چې مېرمن صفیه حلیم لیکلی، پکې يې د افغانستان د بنسټګر احمدشاه ابدالي لمسي د شاه زمان کیسه را اخیستې ده، چې پیل يې د احمدشاه ابدالي له وخته کړی، هغه مهال چې میروس هوتک څنګه پاڅون کوي او بیا واکمني جوړوي، څنګه احمدشاه ابدالي د نادر افشار پوځ ته ننوځي، څنګه د نادر افشار ساتونکي له هغه سره خیانت کوي او هغه وژني او بیا څنګه احمدشاه ابدالي د نادر افشار کورنۍ د هغه حرم ته رسوي، څنګه د نادر افشار مېرمن احمدشاه ابدالي ته زر او زور ورکوي او څنګه احمدشاه ابدالي کندهار ته راځي، هلته واک جرګې ته سپاري او بیا صابرشاه کابلی احمدشاه ابدالي ته په پګړۍ کې د غنمو وږي ږدي.

تر دې وروسته لیکواله پر دې بحث کوي، چې ولې احمدشاه څو څو ځلې پر هند برید کوي او هر وار ولې دا بریدونه بېرته تکرار غواړي، تر دې وروسته تېمورشاه ته راځي، چې څنګه يې احمد شاه قانون مات کړ او له خپل ورور نه يې واک واخیست او خپله د واک په ګدۍ کېناست، په داسې حال کې چې پلار يې واک جرګې ته سپارلی وؤ، همدا لامل وي چې تر څو شاه زمان پر واک وي، نو د وروڼو تر منځ جګړه روانه وي، هر کله چې شاه زمان د ټیپو سلطان په بلنه د هندوستان تابیا کوي، یا يې ورور پاڅون کوي او یا هم ایران د انګرېزانو په لمسون په پای کې ملاعاشق شینواری، هغه وخت چې شاه زمان له خپل ورور شاه محمود نه په تېښته وي شاه زمان پر شاه محمود باندې خرڅوي، چې بیا شاه محمود د خپل میرني ورور سترګې وباسي، څو واره واک د شاه محمود او شاه شجاع تر منځ هم بدلېږي را بدلېږي او بیا شاه شجاع هم هغه وخت وژل کېږي چې غواړي له مجاهدینو سره یو ځای شي.

بل لوري ته ټیپو سلطان د محمدعلي زوی هم د شاه زمان د مرستې په تمه د جګړې په ډګر کې د انګرېزانو له خوا په داسې حال کې په شهادت رسېږي چې یو وزیر يې خیانت ورسره کوي.

## زما آند د شاه زمان او ټیپو سلطان کتاب په اړه:

زما په آند دا یو ډېر ښه کتاب ده چې په ښه بڼه هم لیکل شوی، لیکوالې یو څه تېروتنې کړې دي، د مثال په ډول د ملاعاشق شینواري په کور کې د شاه زمان کوه نور الماس پټول او دا چې شاه زمان لسګونه ښځې لرې او داسې نور، خو په ټولو کې یو ځل لوستل غواړي.

۱۴۰۳/۱۰/۱۳

ketabton.com - The Digital Library

# وطنه ستا لېونی ناول

دا ناول چې محمدالله همیم لیکلی چې په کې د یوټیوب او فسبوک نامتو هاشم لوګري، هغه هاشم چې خلک یې د کنځلو له امله پېژني کیسه را اخیستې ده.

ده دا ویلي دي چې هاشم لوګری د لوګر د اوچکان دی، چې اوسنی ځای یې نه ده ښودلی، بیا یې ویلي چې هاشم لومړی تکړه ښایسته او بل دا چې په خپل وخت کې تقریباً تر ټولو باسواده ځوان وؤ، آن تر دې چې له ډېرو لرې سیمو به خلک ورته راتلل چې یو لیک ورته ولیکي او یا یې ولولي، د تن ځواک یې دومره وؤ چې په یوازې ځان یې داسې کلا جوړه کړې وه چې نه یوازې په کلي کې، بلکې په ټوله سیمه کې یې ساری نه لاره، بله خبره دا چې دی ډېر خواخوږی ؤ، په وطن مئین سړی وؤ، هغه لکه د ناول عنوان «وطنه ستا لېونی» دی مخکې تر دې چې عام لېونی شي د وطن لېونی وؤ.

نو کله چې د روسانو په مشرۍ شورویانو پر افغانستان برید (زه وایم یرغل) وکړ او د هاشم خان کورنۍ لرې پښتونخوا (کچه ګړۍ) ته مهاجره شي و نو هاشم بېخي له کار او باره ولوېږي او له یوې خوا سم کار او بار نه کوي، له بل لوري د نا اهلو ملګرو سره په ناستې سره په چرسو راشي، بیا چې ټوله حوصله یې له منځه ولاړه شي، نو جهاد ته راودانګي، یوه ورځ چې د دوئ ډله غواړي له پکتیا نه لوګر ته راشي، نو دی له یوه پاڼ نه کښته ولوېږي.

چې یو لامل د لېنتوب یې دا کېدای شي، بل لامل دا هم یادوي چې یوه ورځ له نا معلومو ملګرو سره نامعلوم ځي ته ځي او بیا چې راشي نو کرار د وطن دا لېونی په یوه عام لېوني واوړي.

هر څه چې وي خو هغه هاشم خان چې یو وخت کېدای شي د ډېرو چټو پېغلو پلار دا هیله لرله چې زوم یې شي، په داسې یو کس واوړي چې خلک مسخرې پرې کوي او د څو شېبو خندا لپاره ورباندې ویډیو ګانې جوړوي.

## زما آند د وطنه ستا لېونی ناول په اړه:

زما په آند چې باید لومړی له همیم صاحب نه ډېر کورودانی وشي چې دومره لوړ احساس یې وکاراوه، دا چې لکه د نورو غوندې په یوه انسان د ملنډو په ځای یې د هغه قدر ورکړ، بل دا چې په دې ناول کې خلکو ته دا عبرت وربه ګوته کوي چې کېدای شي، هر انسان له یوه پاڼ نه

ketabton.com - The Digital Library

ورغورځي او د خلکو د خندا شـي، اړینه نه ده چې سـړی دې د طبیعت له پاڼ نه کښـته ولوېږي، کېدای شـي د تکبر له پاڼ نه یا د ځوانۍ له پاڼ نه ولوېږي، هغه متل ده چې وایي: خندی د خپلې غاړې غړوندی وي.

هســې خو تول لېوني یو، خو عـام لېوني ډېر کم وي، بلکې اکثره د مـال لېوني، د قـدرت لېوني، د شـهرت لېوني، دهوس لېوني او روغ لېوني دي، داسې خال خال داسې هم شـته چې د مینې، وطن او دین لېوني وي، زه هم اقرار کوم چې لېونی یم، خو چې د څه شـي دا خو لا ماته هم نه ده څرګنده.

په هر حال همیم صاحب ډېر ښکلی کتاب لیکلی، ډېرې نادرې نیمګړتیاوې لري او هیله من یم چې نورو لیکنو کې دا هم په نظر کې ونیسي.

او بله دا چې دا هم اړینه ګڼم چې ووایم هر څوک باید دا ناول یو ځل ولولي.

۱۴۰۳/۱۰/۱۷

ketabton.com - The Digital Library

# ناکامه مئین ناول

دا کتاب چې ښاغلي صمیم فیضي لیکلی ده، پکې یې د یوه کلي کیسه او ورپسې د یوې کورنۍ د هلته ورتګ کیسه را اخیستې ده چې دوه زامن د واجد او ساجد په نومونو لري را اخیستې ده، چې بیا د کلي له ملک سره مزدوري پیلوي او خپلو زده کړو ته هم دوام ورکوي، بیا دوهم ورور ساجد دملک په لور سپوږمۍ مئینېږي او تر هغه وروسته چې پوهنتون خلاص کړي، نو د ملک پر لور جرګې کوې او د ملک لور هم چې وګوري نه کېږي، نو ځانوژنه کوي.

## زما آند د ناکامه مئین ناول په اړه:

که چېرې دا لیکنه د پښتو لیکنو فارمت ته واچوؤ او بیا یې له نظره تېره کړو،نو د ناول په تله کې به ونه تلل شي، بلکې د لنډو کیسو په تله کې به ښه ښکاري.

بل دا چې دا لنډه کیسه یو څه نیمګړتیاوې هم لري، لکه کیسه ډېر څه ګونګه ده، هغه د مثال په دول ساجد خپل ماماګان او ترونه د څه لپاره رټي او له کوره یې شړي، هغه هم په دا سې حال کې چې پښتون خپل هغه دښمن ته چې د سړي کور ته مېلمه راغلی وي، ترخه خبره نه کوي، بل دا چې کیسه کله له دریم کس نه روایت شوې، بیا خپله د ساجد له خولې، بیا دریم کس، بیا ساجد.

نو که لیکوال پورته څیزونو ته پاملرنه وکړي، یو څه کیسې ته تفصیل ورکړي، سپوږمۍ تر څو ځل غلچکیو لیدنو وروسته پر ساجد مئینه کړي، د ساجد پوهنتون ته لېږ سر ورښکاره کړي، ساجد او سپوږمۍ لږ د هجران په لمبو وسوځوي او دا سې خبره تر ستندرد اویا مخونو ورسوي، نو بیا به یو ناول شي.

په پای کې ویلی شم چې کیسه یې بده سوژه نه لري خو د ناول جوړولو لپاره یې یو څه کار ته اړتیا ده.

۱۴۰۳/۱۰/۱۹

ketabton.com - The Digital Library

# رنګه غوړونه (جوجو۴) ناول

دا ناول چې خدای بخښلي نصیر احمد احمدي لیکلی پکې یې د جوجو ناول په دوام کیسه را اخیســـتې ده چې پکې جوجو بیا زمکې ته راځي او تواب پیدا کوي، هغه وخت تواب د زراعت پوهنځی لوستی وي او په یوه مؤسسه کې یې دنده پیدا کړې وي، نو جوجو ورځي، لومړی هغه لاره ورته بیانوي چې څنګه یې دی وموند او بیا ورسره دا معامله کوي چې جوجو په خپل پوهنتون کې د مونوګراف دفاع او یا داســـې ورته څه لري، خو هرڅه چې وي دا دنده لري چې په توره سیاره کې به سوله راولي او تواب یې باید مرسته وکړي، لومړی خو تواب دا خبره نه مني، خو وروسته چې جوجو ورته ووایي چې په درې میاشتو کې به لس برابره پیسې درکړم، نو تواب هم دا معامله ومني، تواب کورته ولاړ شي، او بیا تورې سیارې ته.

په توره سیاره کې لومړی د هغې سیارې ستونزې او د لانجې لامل ورته ښیي، دا چې پخوا په توره سیاره کې جګړې او وژنې نه وې، بیا د خاورکان پیدا شو، دا چې په توره سیاره کې خاوره داسې ارزښت لري، لکه زر په زمکه، نو د کان په راوتو سره وېش پیل شو او بیا قناعت له منځه ولاړ، نو خلکو لاېې پیل کړه، دا چې په توره ســـیاره کې توپیر په غوړونو کې ده، نو بېلتون په غوړونو شو او بیا د یو بل وژل هم ثواب شول، نو جګړې پیل شوې اوس د هر ډول غوړو والابېل مشـــر لري، مشـــران ښـــه په مزو کې دي او پر کشـــرانو تېرې روان دی، بل لوري ته یې حالات د افغانستان په شان دي، ځوک د ثواب لپاره د بل رنګ غوړونو والاخلک وژني، ځوک د خاورې، ځوک یې بیا د مقام لپاره، هر څه چې وي، خو خوار او غریب تباه دی.

په یوه ځي کې د تور غوړو مشـــر عســـکر یو نجلۍ په زور له ځان ســـره کوي، خو تواب یې ژغوري، نو همدا لامل وي چې خلک کرار کرار له تواب ســـره درېږي، په لومړیو کې تواب اړ کېږي چې غره ته پناه یوسي، خو کرار کرار یې حکومت وده کوي، لومړی ځینې کلي ورسره یو ځای کېږي او بیا د هغوئ په مرسته لومړی د خاورو معدن او بیا د تورغوړو د مشر کلا نیسي.

تر هغه وروســـته د تواب د واک، ځواک او عدالت نوم په ټوله ســـیاره کې خپرېږي او خلک ورباندې ماتېږي، نو چې کله یې ټوله توره ســـیاره واک ومني، بیا هغه وي چې تواب هم لومړی والیان، بیا وزیران، بیا اولســـمشـره او په پای کې هم پادشـاه وټاکي او بیا له هغوئ نه خدای په اماني واخلي او زمکې ته راشي، په زمکه کې جوجو ورته وایي چې اوس څه کول غواړې؟

ketabton.com - The Digital Library

البته جوجو د سرو زرو د (۳۵۰) ګرامه خښتو تر ورکولو وروسته ورته وايي او بيا هغه وي چې تواب ورته وايي:

لږ دمه جوړوم، بيا تر هغه وروسته کابل ته ځم او هلته په دندې پسې ګرځم، غريبي ده، ټول ژوند خو په دې دوه خښتو نه شم تېرولی.

د تواب دا خبره نه وي، بس جوجو ته سمه پلمه په لاس ورکړي چې تواب سپک کړي، ځکه چې ترڅو به د چرګانو په شان ژوندون وي، چې يو حلالېږي او بل ورته ګوري.

## زما آند د رنګه غوړونه (جوجو ۲) ناول په اړه:

دا ناول يو ډېر غوره تخيلي ناول دی چې نه يوازې کيسه يې خوږه ده، بلکې ښه سوژه يې هم ورته کړې، هسې خو نصير احمد احمدي د افغانستان يو له غوره ليکوالانو څخه وؤ، چې د افغانستان د نورو ليکوالانو په اثارو کې هم د نصير احمد احمدي تأثير د چاه له سترګو نه پټ نه او ټول ناولونه يې په ډېره ښه بڼه ليکل شوي، خو دا چې انسان بشپړ نه دی او کارونه او آثار يې نيمګړي، نو دا به ووايم چې دا ناول يو غوره ناول دی او په وار وار لوستلو ارزي.

۱۴۰۳/۱۰/۲۱

ketabton.com - The Digital Library

# مسافره نجلۍ ناول

دا ناول چې سـيد ادريس سـادات ليکلی پکې يې د يوه هلک کيسـه را اخيسـتې ده، هغه هلک چې له يوې ښاه نه بېزو ژغوري او بيا هغه بيزو ورسـره کلکه ملګرتيا پالي، خو يو وخت روسان هغه بيزو له ځان سره بيايي، نو هلک هم پسې ورځي او بيا هغه وي چې هلته يې سرتېري دننه نه پرېږدي او دی اړ کېږي چې په چل باندې دننه ورشـي، هلته نو بيا نيول کېږي او بند خونې ته غورځول کېږي.

په بندخونې کې له ده سـره درې نجونه هم وي، چې سـرتېري يې تل بې عزته کوي، بس نو هلک ځان او نجونه ژغوري او بيا غواړي چې هغوئ غزني ته ورسـوي، خو خبرېږي چې روسـانو يې په کلي بمبار کړی ده. نو دی هم له ماما سره ورشي، د خپلې کورنۍ جنازې او تدفين وکړي، په بېرته راتګ کې يې د بمباري له وجې ماما هم شـهيد شـي او بيا دی د ده نيکه او نجونه لرې پښتونخوا ته روان شـي او چې دی روسـان ونيسـي، نو نجونه د ده نيکه پرېږدي، خپله واوړي، هلته بيا له ناچارۍ نه د ځان په خرڅولو پيل وکړي.

## زما آند د مسافره نجلۍ ناول په اړه:

زما په آند لومړی خو دې ته ناول نه شـو ويلی، ځکه دا تر ډېره لنډه کيسـه ده او بل که چېرې ليکوال يو څه هڅه وکړي او يوه بلـه برخـه هم ور اظـافـه کړي، نو لا هم پـه نـاول کې نـه شـي حسابېدی، ځکه ناول بايد په ستندرد ليکنه کې له ۷۰-۳۰۰ پاڼو پورې وي.

ښه کيسه يې غوره کړې، خو ما پکې داسې ځانګړی درس پيدا نه کړ.

۱۴۰۳/۱۰/۲۲

ketabton.com - The Digital Library

# ناځوانه نجلۍ ناول

داناول سید ادریس سادات لیکلی چې پکې یې د یوه طالب کیسه را اخیستې ده، چې غواړي ننګرهار پوهنتون ته کامیاب شي، خو بخت یې پنجشیر ته بیایي او هلته وي چې د یلدا په نامه په یوې ټولګیوالې مئینېږي او بیا هغه یو بل ملګری پیدا کوي، نو دی هم په خپله طریقه بدله ځنې اخلي او بیا ځان ننګرهار پوهنتون ته بدلوي، تر پوهنتون وروسته ملي اردو ته ځي، هلته تپي کېږي او بیا یې یوه نجلۍ الوتکې ته رسوي او بیا روغتون ته، نو دی هغه نجلۍ لټوي او بیا خبرېږي چې هغه نجلۍ له طالبانو سره ده، د یوې مدرسې نه طالبانو ته ورځي، نیلاب ژغوري، بیا خپلې دندې ته ستنېږي. هلته نو نیلاب هم ورسره وي، یوه ورځ آمریکایان پر دوئ بمونه غورځوي، نو نیلاب تپي کېږي او بیا یې دی طالبانو ته وروړي او بیا یې چې کله طالبان خوشې کړي، نو نیلاب هم غواړي او هغوئ ورته د هغې د وژلو وایي او بیا دی بېرته د طالبانو هغې لیکې ته ځي چې ده ترې نیلاب تښتولې وه، تر سقوط جنګېږي او بیا خبرېږي چې آمریکایانو یې کور بمبار کړی، نو بس په پوسته کې ژوند تېروي او د کیسې اوربدونکې ورته نیلاب پیدا کوي.

## زما آند د ناځوانه نجلۍ ناول په اړه:

زما په آند دا ناول یو څه ناول ته نږدې دی، خو یو څه ستونزې لري، لکه د مثال په ډول په پنجشیر کې د قرغې زېږول، په فارسي ژبو ګذارونه، دا چې طالبانو طیارې ویشتلې، یاره که طالبانو طیاره ویشتلې شوای، نو نه یوازې دا چې جګړه نه اوږدېده، بلکې د جمهوریت جوړېدل ناشوي ول.

خو لویه ستونزه پکې دا ده چې یو درس یا عبرتي ټکی نه لري، نور یې لیکنه ښه ده او دا چې لیکوال د ادبیاتو پوهنځي کې ده، نو ښه به دا وي چې لیکنې لړ په کرار وکړي او نشر کې یې ډېره بېړه ونه کړي.

۱۴۰۳/۱۰/۲۲

ketabton.com - The Digital Library

# بې رحمه قاتلان ناول

دا لیکنه ډاکټر مجیب الرحمٰن منیب! کړې ده چې پکې یې د دوه داسې ورونو کیسه ار اخیستې ده چې پلار یې مړ کېږي او مور یې بل مېړه کوي، نو هغه سړی له دوئ سره ډېره بده رویه کوي او بیا یې له کوره شړي، نو بیا دوئ لومړی د پلار کور آبادوي، بیا یو یو واده کوي، چې کله دواړه واده وکړي، نو بېلتون ته اړ شي، د مشر ورور دوه زامن پیدا شي او دوهم ورور یې شنډ وي، بیانو څه موده وروسته مشر ورور مړ شي، چې کله یې زامن غټ شي، نو لاړ شي د تره کور ته او بیا تره او ښځه یې له ځان سره بوځي او بیا په غره کې خپله تره ووژني او له ښځې سره یې بد وکړي، بیا کوچان ښځه ژغوري او طالبان خبروي، دا چې دواړه لېورزیان یې تښتي او بیا په اربکیانو کې داخلېږي، یو یې په جګړه کې وژل کېږي او بل تسلمېږي او خپل عادي ژوند پیلوي.

## زما آند د بې رحمه قاتلان ناول په اړه:

لومړی خو باید ووایم چې د دې لیکنې جوړښت د ناول نه ده، بلکې تر ډېره یوازې یوه کیسه ده، که څه هم څه ستونزې لري، خو که یو څه کار پرې وشي او یو څه هم بدلون پکې راشي، ښه ناول ترې جوړېدای شي.

۱۴۰۳/۱۰/۲۵

ketabton.com - The Digital Library

# پروني مخونه ناول

دا ناول چې ښاغلي افضل شوق ليکلی، پکې يې د خپل ژوند کيسه را اخيستې ده چې د سيلاني په ښه د زده کړو لپاره مصر ته ځي، هلته ورته يوه تايي نجلۍ سوپيس د مينې اظهار کوي، خو سيلاني يې نه مني، بيا د وسا په نامه يوه عربه نجلۍويني، په هغې مئينېږي، خو وسا څه، دا هرڅه په خپل ځای خو سوپيس کله غواړي چې سيلاني له لاسه ورکړي، هر څه چې وي، بلآخره وسا او سيلاني سره آشنا کېږي، بل لوري ته سوپيس له توريانی بوباجوف سره ملګرې کېږي، خو بيا هم سيلاني په کرار نه پرېږدي او دا هم ورته وايي چې هغې درې کسه وژلي او څلورم يې کېدای شي چې سيلاني وي.

دا په خپل ځای خو يوه ورځ وسا له سوپيس سره ملګرې کېږي او له سيلاني نه لرې کېږي، د دوئ مينه کرار کرار په کرکه بدلېږي، ان تر دې چې سيلاني ته يې ملګرې دا هم وايي چې بايد له رنا شامۍ سره د مينې ادا (تمثيل) وکړي، خو سيلاني يې نه مني او په يوه مجلس کې آن سيلاني د رنا شامۍ لږ څه بې عزتي هم کوي، چې هغه بيا دا ورته وايي چې کر هرڅه وي، خو د سيلاني غرور به ماتوي، بل لوري ته که څه هم سيلاني له سوپېس نه لرې تښتي، خو سوپېس بيا دا هڅه کوي چې له سيلاني نه د وسا په لرې کولو سره هغه ته نږدې ورشي او چې وګوري دا کار ګټه نه کوي، نو سوپېس او د سيلاني نور ملګري بېرته وسا له هغه سره پُخلا کړي، خو بيا يوه ورځ سوپېس له سيلاني نه دا وغواړي چې زنا ورسره وکړي، خو سيلاني يې نه مني، بيا هغه ورځ هم راځي چې سيلاني او سوپېس يوازې شي او سوپېس سيلاني دې ته اړ کړي چې له هغې سره زنا وکړي، سوپېس له زنا وروسته مکمل بدلون وکړي، ظاهراً کلکه مسلمانه شي، خو يوه ورځ داسې هم راشي چې رنا شامۍ او سيلاني هم زنا وکړي، په سبا يې رنا شامۍ بخښنه غواړي، د زده کړو له خلاصېدو سره سيلاني او وسا د واده او مينې خبر په ډېرې لوړې انګازې سره خپرېږي، چې دا کار په سوپېس باندې ښه نه لګېږي.

نو همدا لامل وي چې سوپېس سيلاني ته د هغه او رانا شامۍ خبره هم کوي، هغه هم يوه شپه مخکې تر واده بيا يې دې کار ته اړباسي او بلآخره سيلاني او وسا په الجزاير کې واده کوي، بيا پاکستان (ګر څه زما په لغتپانه/ډيکشنري کې پاکستان شتون نه لري) ته ځي، هلته وسا په يوې (N.G.O) کې دنده پيلوي، خو د پاکستان فاسده اداره يې کله هم په کراره نه پرېږدي او دې ته

ketabton.com - The Digital Library

يې اړ باسي چې پاکستان پرېږدي، آن د پاکستان د پرېښودلو پرمهال هم وسا دومره ځوروي چې بیا د پاکستان له پاسپورټه هم تېره شي.

وسا پاکستان پرېږدي، خو سیلاني نه پرېږدي او کله کله د سیلاني لیدو ته راځي، خو بل لوري ته پاکستان آن دا هم ښه نه ګڼي او وسا دې ته اړباسي چې بېخي پاکستان ته رانه شي، بلکې یوازې سیلاني د هغې لیدو ته ورشي.

یوه ورځ داسې هم راشي، چې په بغداد کې د وسا په دفتر باندې ترهګریز برید وشي او بیا چې سیلاني په دې ونه توانېږي چې له وسا سره اړیکه ټینګه کړي، نو دا ومني چې هغه هم هلته وژل شوې، بیا نو الجزایر ته په سفر کې د وسا د کور پر ځای روغتون ته ورسېږي، څو واړې بې هوشه شي او بیا وسا وګوري او خپله ماشومه لور هم.

## زما آند د پروني مخونه ناول په اړه:

زما په آند دا ناول ښه کیسه او ښه جوړښت لري، دا چې سیلاني تل پکې هڅه کړې چې خپله پښتو او پښتونوالي وساتي، نو دا هم یوه غوره برخه ده، د یوه ناول لپاره بل لوري ته پښتنې ټولنې نیمګړتیاوې هم ښې په کې بیان شوي، بل پکې پاکه مینه هم بیان شوې چې د یوه پښتانه لیکوال لیکنه له نورو لیکنو رابېلوي.

یو غټ پنډ چې په دې ناول کې پروت دی هغه دا ده چې دا یې ښودلې چې نه یوازې دا چې یوې پښتنې پېغلې ته زنا د عزت ماتول دي، بلکې زلمي ته هم دي، که یوه پېغله په زنا باید و شرمېږي، نو یو زلمی هم باید داسې وي.

په ټوله کې ناول ښه ده، خو دوه ټکي یې ستونزه لري، یوه ته یې خدای بخښلي شپون صاحب اشاره کړې چې یو څه انګرېزي لغتونه او کلمات دي او بله دا چې په دې ناول کې چې د مصر کوم فرعوني تاریخ یاد شوی، نو هغه که څه هم لیکوالانو او ادیبانو ته ګرانه خبره نه ده، خو د یوه عادي لوستونکي لپاره د ناول لوستل ډېر ګرانوي.

۱٤۰۳/۱۰/۲۸

ketabton.com - The Digital Library

# متخصصه ناول

دا ناول چې ښاغلي فيصل جان ستومان ليکل پکې يې د خيبر په نامه د يوه هلک کيسه را اخيستې ده، خيبر په يوه روغتون کې کار کوي، چې تر څنګ يې په يوه خصوصي پوهنتون کې د طب پوهنځی وايي، په دولتي روغتون کې يې دنده په دې لاسته راوړې وي، چې په يوه خصوصي روغتون کې د انستيزۍ اوږده تجربه لري.

په هر حال د خيبر دوئ روغتون ته د وړانګې په نامه يوه متخصصه راځي او بيا دا چې خيبر ورسره په ځينو عملياتونو کې شريک وي، نو د وړانګې حيا، کار او اخلاق په خيبر باندې اثر غورځوي، بس همدا وي چې خيبر کرار کرار پرې مئينېږي.

بيا وړانګه هم د خيبر د واټساپ شمېره اخلي، په يوه پلمه او بله پلمه د خيبر احوال اخلي، تر ډېرو غړېدو وروسته خيبر، بلآخره دې نتيجې ته رسېږي چې بايد د مينې اظهار ورته وکړي، بس د مينې اظهار ورته کوي، وړانګه هم دا کار کوي بيا خيبر جرګه ورلېږي، خو د وړانګې کورنۍ يې په وار وار ردوي، د وړانګې په غوښتنه خيبر ډېر شله کېږي او چې بيا څو واره جرګې بې پايلې راستنېدو وروسته يوه جرګه په پنځوس زره ډالرو سره مني او بيا واده هم کوي، البته هېره دې نه وي چې تر لومړۍ جرګې وروسته وړانګه د کورنۍ له خوا اړ کېږي چې استعفاء ورکړي.

## زما آند د متخصصه ناول په اړه:

زما په آند که څه هم ناول د پښتو ادبياتو په لحاظ ځينې ستونزې لري، لکه په لومړي سر کې د تلوسې نه شتون او يو څه داسې نور شيان خو دا چې ناول لپاره ښه سوژه په نظر کې نيول شوې، د يوې پاکې مينې انځور پکښې کښل شوی او له بل لوري يې ښکلی پای هم ورکړی او همدا رنګه ښې ټپې پکې کارول شوې دي، چې خوند يې لا زيات شوی.

يوه کوچنۍ تېروتنه به هم بيان کړم او هغه دا چې د شخصي روغتون تجربه کارته دولت ځای نه ورکوي، هغه هم چې زده کړيال اوسي.

په پای کې دا وايم چې ناول په يو ځل لوستو هرو مرو ارزي.

۱۴۰۳/۱۱/۱۴

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*